خراسان غږ

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

خراسـان غږ پنځلس ورځنۍ مجله ۱ العزائم خپرندویه اداره یي وړاندې کوي

آیا د خلفاوو قتل د خلافت د بطلان دلیل دی؟

ای مسلمانه وروره! بـل پـدې خبره سر خلاص کـړه چـې څنګـه شـهادت د هغـوی امامـت، کرامـت، حقانیـت او خلافتونـه باطـل ونـه ګرځـول داسـې، الحمـد للـه ستاسـې خلافـت هـم په هماغه مسیر...

ابرارو ته زیری او اشرارو ته انذار

د الله تعالی په مقدس او سپېڅلي ذات قسم، هغه لاس چې د مسلمانانو د نوامیسو او ښځو په لور اوږد شوی وي له څنګل به یې قطعه کړو، هغه سترګې به راوباسو چې ښځو ته یې د جاسوسي اراده ولري، هغه ژبه چې أمهات المؤمنین او صحابه ؤ ته ښکنځلې او سپکې سپورې وایي، له ستوني به یې بهر کړو...

رام مندر که بابري مسجد

ماشـوم وم ،شـپږم ټولګـي کـې وم ، پلار مـې پـه کـټ کـې تکیـه وهلـې وه ، غټـه راډیـو ورتـه پـه میـز ایښـې وه ، پـه کـټ کـې رانیـغ شـو ، پـه غصـه یـې راغـږ یـې کـړ : تاسـې چـوپ شئ ، موږ کوچنیان ټول له ډاره خاموش شو...

په خپلو مالونو سره جهاد وکړئ

مـال د جهـاد د قیـام او ژونـدي سـاتلو لپـاره یـو رکـن او بنیـاد دی چـې بغیـر لـه دې د جهـاد ابـادي نـه سـاتل کیـږي بلکـې رانسکوریږي ، د جهاد ډانچه راړنګیږي ، او تنه یې خرابیږي!

د پاکستان انتخاباتو کې شمولیت ردت دی

جمهوریـت سـور کفـر دی او تـور طاغـوت دی دا د اللـه د شریعـت او دیـن پـه مقابـل کـې یـو مسـتقل کفـري دیـن او شریعـت دی چـې د کفـارو أو د هغـوی سـاتل شـوو بلاعمـه او مرتـدو حکّامـو پـه نامشروعـو کوششـونو د مسـلمانانو پـه خـاوره حاکـم شـوی دي لاحـول ولاقـوة الا بالله...

تر وروستي حده پریوتې دریځونه

دا چـې د دوی هـر دریـځ لـه بـل ډیـر شرمیدلـی او رسـوا وي، او پـه هـر دریـځ نیولـو سره کوښـښ کـوي چـې حتـی الوسـع دوی پـه دې اعلامیـې سره نړیـوال قوتونـه خـوښ وسـاتي، اګر کـه دا دریـځ د اسلامـي امـت پـه سر معاملـه

هو ټول وژنو

د طالـب ملېشـو او رافضي مشرکینـو عقیـده یـوه ده ځکـه یـي ورونـه ګڼـي او ترینـه ځاریـږي . دوی دې سـاتي او مـوږ بـه یـي وژنـو ، دوی دې ورونـه بـولي مـوږ بـه پرې اورونـه بلـوو، دا ځکـه چـې دوی مشرکین دي ، دوی صحابه رضي الله عنهم ته کنځل کونکي مرتدین دي...

مؤسسة العزائم الإعلامية

28

مـه ګڼـه

شنبه ۱۱ - رجب - ۱۴۴۵ هـ

سرلیک

خراســان غــږ مجلــه 28 مــه گنــه رجــب 1445 هــ

مؤسسة العزائم
الإعلامية

سرمقاله

سیاسي برخه





دیني برخه

لنډه کیسه

رام مندر
که بابري مسجد



ماشوم وم ،شپږم ټولګي کې وم ، پلار مې په کټ کې تکيه وهلې وه ، غټه راډيو ورته په ميز ايښې وه ، په کټ کې رانيغ شو ، په غصه يې راغږ يې کړ : تاسې چوپ شئ ، موږ کوچنيان ټول له ډاره خاموش شو ، لږه شيبه پس مې د پلار غصه نوره هم زياته شوه او هندوانو ته يې بدې بدرنګې شروع کړې ، مور مو ترې وپوښتل : څه کيسه شوې ، پلار مې غاړه تازه کړه او ويې ويل : اوس يې خبرونو کې وويل چې په هندوستان کې هندوانو د بابري په نامه يو جمات باندې حمله کړې ده د مسلمانانو سره يې جنګ هم کړې او ګڼ کسان هم وژل شوي او هندوانو جمات شهيد کړی دی .

هغه وخت مې په دې سر خلاص نه شو چې دا جمات به څنګه شهيد کيږي ، له ډاره مو له پلاره پوښتنه هم ونه کړه ، سحار چې ښوونځي ته لاړم نو نن د لين په سر حالات بدل وو، زموږ استاد مولوي صيب ابراهيم رحمه الله په ډير غصه بيان شروع کړی و لاسونه يې ګرم ، ګرم خوځول د مولوي صيب دا خبرې مې اوس هم ذهن کې دي چې ويل يې هندوانو په کوم فکر دا جرات کړی چې د مسلمانانو تاريخي جمات يې وران کړی دی ، هندوان دی دا فکر نه کوي چې مسلمانان به غلي پاتې شي ، ډير زر به له دوی څخه ددې ظلم بدل واخلي دوی څه فکر کوي چې دا جمات به وران کړي او په ځاې به يې درمسال جوړ کړي خو دا خوبونه دې اوبو ته ووايي .

بيا نو مولوي صيب د ښوونځي ټول شاګردان په کتار کړو او د مظاهرې په شکل يې تورې ليکې ته روان کړو ،زموږ له ښوونځي پاخه سړک ته تقريبا يو ساعت لار وه ، کله چې پوهه شوم چې هندوانو په هندوستان کې يو جمات وران کړی نو که ماشوم وم نو هم د هغه وخت خپله غصه او خفګان مې راته ياد دی ،په ټوله لار مو مرګ په هندوانو ، موږ د بابري جمات انتقام غواړو ، نارې وهلې چې سړک ته ووتلو نو د نورو قريو او ولسواليو په زرګونو خلک هم راوتلي وو، د خلکو د هغه مهال قهر او غصه مې اوس هم ياده ده .

هو ! دادی څه باندې ديرش کاله تير شول خو په مسلمانانو کې څوک د محمد بن قاسم لاروی پيدا نه شو چې له هندي مشرکانو څخه د شهيد شوي بابري مسجد انتقام واخلي .

اسلامي امت څومره تغير کړی ، ديرش کاله وړاندې چې په بابري مسجد د هندوانو د بريدونو په غبرګون کې څومره اولسونه يوازې زموږ په ولايت کې راوتلي وو، بيا مې په هغومره لوړ تعداد کې کسان ونه کتل چې دومره سخت غبرګون دې وښايي .

د کفارو او مشرکانو د فکري يرغل پايله ده چې اوس نو له يوه لورې رافضي مشرکين د اهل السنتو مساجد نړوي خو مسلمانان يې تشې ننداري کوي ، د امريکا په شمول د نړۍ کفارو په عراق ، شام ، خراسان او نورو سيمو کې په زرګونو مساجد د خاورو سره

خاورې کړل خو تش په نوم مسلمانان یې اوس هم دښمنان نه ګڼي ، اسرایل د همدې امریکا په ملاتړ او بمونو دادی في الحال هم په فلسطین کې تاریخي مساجد او مدارس رانړوي خو تش په نوم مسلمانانو (طالبانو) ته بیا د ډالرو کڅوړې رالیږي او دوی ورسره په ګرمه دوستۍ ویاړي .

هو!

دغه ستر تاریخي بابري جمات چې په شپاړسمه پیړۍ کې په ډیر پاخه او اساسي ډول د ظهیرالدین بابر له لورې جوړ شوی و، هندي مشرکینو د همدغه مسجد په ځای مندر جوړ کړ او دادی تازه یې د رام په نامه ددې مندر پرانسته وکړه .

خو ډیره عجیبه داده چې په دغه کړنه مې هیڅ ډول غبرګون ترسترګو نه شو .

د انتقام کوم عملي اقدام خو په ځای پریږده ، چرته پرې مسلمانان لارو کوڅو ته هم راونه وتل ، او نه یې هم چا ورقه واړوله .

هغه کسان چې ځانونه مجاهدین او فاتحین بولي او د روسي ، رافضي ، چینایي او هندي مشرکینو په شمول د نړۍ د ټولو کفارو او مشرکینو په وژلو د غندنې اعلامیې خپروي او کله چې هر چرته د اسلامي دولت له لورې مشرکان ووژل شي نو وایند به یې بیا د دوی په وژنه په اعلامیو کې ژړاوې او فریادونه کوي خو دادی د هندي مشرکینو له لورې چې د بابري مسجد په ځای د مندر پرانسته وشوه نو همدغه ملېشو د هندي مشرکینو دا جبر او وحشت داسې استقبال کړ، چې په اماراتو کې د دوی سفیر او ښځې یې هم مهاله د هند د ازادۍ په جشن کې برخه واخسته .

دا کومه غیر اختیاري خبره نه ده ، بلکې کله چې د همدې BJPګوند یوې ویاندې څه موده وړاندې د رسول الله صل الله علیه وسلم توهین وکړ نو هغه مهال هم مهاله د هندي مشرکینو یو هئت کابل ته راغې او د ملېشو له لورې یې ښه درونډ استقبال وشو او بیا په همغه ورځو کې په افغانستان کې د کفارو او طواغیتو د سرحداتو ساتونکي او د دوی دفاع کونکي وزیر ملا بې وقوف یې یو هندي ټلویزون سره

ډیره غوړه مرکه هم وکړه چې د دوی او هند په خوږې دوستۍ، تعمیري اړیکو، د هندي استادانو له لورې د طالب ملېشو په روزنه او اسلامي دولت سره د شریکې مبارزې په موضوعاتو راڅرخیده.

هو!

دا همغه گوند دی چې په ۱۹۹۲ کال کې په بابري مسجد د حملې لپاره د یو نیم لک کسانو رهبري کوله چې د دوی له ډلې ۱۵۰۰۰ یوازې د همدې گوند غړي وو، دا همغه گوند دی چې نریندرا مودي یې مشر دی په ۱۹۹۸ کې په هند کې واک ته ورسید او په ۲۰۱۹ کې د همدوی په غوښتنه د هندي مشرکینو محکمې د بابري مسجد همدغه ځاې هندوانو ته ورکړ او دادی د همدې تاریخي مسجد په ځاې د رام مندر پرانسته همغه مودي وکړه چې طالب ملېشو سره صمیمي اړیکي لري، د دوی سفیر هلته خه خوشاله د دې صحنو ننداره کوي او د هغوې سفیر او نور د لسگونو هندي موسپساتو او استخباراتي بنسټونو په سلگونو هندي کارمندان دلته د افغانستان له هوا او اوبو خوندونه اخلي او د طالب ملېشو سره په یوه اورشو کې څیریږي.

طالب ملېشې له لومړي سره هندي مشرکینو سره ډیرې خوږې اړیکي لري، کله چې د هندي مشرکینو په درمسالونو او د دوی په نورو شرکي مندرونو د اسلامي دولت له لورې بریدونه کیدل نو همدې طالب ملېشو به یې ساتنه کوله او ډیری طالب ملېشو د همدې هندي مشرکینو په دفاع کې خپل سرونه وبایلل، طالب مشرکینو په دې هم اکتفاء ونه کړه بلکې د هندي مشرکینو د ویجاړو شویو مندرونو د بیرته جوړیدو ټتر یي هم وډباوه او دا سوځیدلي مندرونه یي بیرته ورجوړ کړل.

هو ! طالب تر دې کچې ذلیله دی چې هندي مشرکین د مسلمانانو مساجدورانوي او په ځاې یې مندرونه جوړوي، مسلمانان وژني، خو دوی بیا د همغه هندي مشرکینو سره دوستانه اړیکي پالي، د دوی ساتنه کوي او د دوی مندرونه ورجوړوي.

طالب ملېشې چې د خپلو گټو لپاره د مصلحت، حکمت او سیاست په نوم د اسلامي امت په ټوټه ټوټه وجود سوداگري کوي، د هند هر ډؤل وحشت او بربریت ته د خوشالۍ او مبارکۍ ډول ډنگوي او په ورین تندي ورته د مسلمانانو پر ضد د هر وحشت مبارکي وایي، لکه چې مو وویل د هند دا پریکړه په داسې وخت کې شوې چې په دوبۍ کې د مرتدو طالب ملېشو سفیر بدر الدین حقاني او ښځه یې د هندوانو هغه مراسمو ته تللي وو چې د هند د آزادۍ په موخه جوړ شوي وو.

سره د دې چې هند په پاګيزه توګه د اسلام، اسلامي امت او اسلامي شعائرو سره دښمنۍ ته بدې راوهلي، کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم ناموس ښکنځي، کله په میشتو مسلمانانو د ظلم چپه میچنې تاووي او کله بیا د اسلامي شعائرو بې عزتي کوي.

خو د دې ټولو باوجود یې مرتد طالبان نږدې ملګری، دوست او خواخوږی ګڼي، اړیکې ورسره پراخوي، د امنیت د ساتنې او خوندیتابه لپاره ورسره د هر ډول مرستو تر څنګ استخباراتي مالومات شریکوي، د دوی د شرکي او جمهوري نظام د بریا او آزادۍ مبارکۍ ورکوي او په جشنونو کې ورسره برخه اخلي.

نه پوهېږو دوی ورسره په کومه وجه دوستي کوي او په کومه وجه د آزادۍ مبارکي ورکوي او د کومې اذادۍ مبارکي ورکوي؟

آیا په دې وجه چې هلته اسلام او مظلوم مسلمانان محکوم او د شرک او هندي راجاګانو راج چلېږي؟

آیا په دې وجه چې هلته په اسلامي شعائرو ملنډې وهل کېږي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ناموس پسې بدې ردې ویل کېږي؟

آیا په دې وجه چې هلته د مسلمانانو له مساجدو د آسونو طبيلې او یا د هندي مشرکینو مندرونه جوړیږي؟

آيا په دې وجه چې هلته د شريعت سره دښمني کېږي؟

آیا په دې وجه چې هلته جمهوریت، دیموکراسي او سیکولریزم حاکم دی او اسلامي نظام محکوم دی؟

او که نه په دې وجه د هند سره دوستي، ملګرتیا او تودې اړیکې پالي، چې دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دښمني لري، ځکه هغه صلی الله علیه وسلم د هند سره د جنګیدونکو غازیانو ستاینه کړې ده، او طالب ملېشې غواړي چې هندي مشرکینو ته دا په اثبات ورسوي چې ګوره رسول الله صل الله علیه وسلم چې کوم غازیان ښودلي موږ هغې کې ونه شمیرئ موږ خو ستاسې ورونه او دوستان یو .

دوی د هند ټول وحشتونه، د مسلمانانو ټول وژنې او د اسلامي شعائرو، مقدساتو او اسلام پر وړاندې د هند دښمني شاته وغورځوله او د هند سره یې د خپلو شخصي ګټو لپاره د یارانې تار ورځ تر بلې ګرمېږي، کله وایي چې هند ته خپل سرتیري د روزنې لپاره لېږو او کله بیا هغوی د شرک او کفر د بریا مبارکۍ وایي او دومره بې حیاء دي چې خپله ښځه هم د هندي راجاګانو په جشنونو کې د ګډون لپاره له ځانه سره بوځي، تر څو ورته وښايي چې ګوره مونږ د هغه محمد بن قاسم بچي نه یو چې هندي راجاګانو ته یې په هند کې د توري په زور درس ورکړی و، او آسونه یې د هند په ګنګا او جمنا کې خړوبول، او نه هم دا هغه د محمود غزنوي بچیان یوهندي مشرکین یې اوس هم له نامه څخه ډار لري ، هغه غزنوي محمود چې د سومنات بت یې درې ورې کړ او په هندوستان کې د شرک اورتونونه مړه کړل په ځای یې د توحید نور خپور کړ ، خو نن دادی طالب ملېشې همغه هندي مشرکینو ته لارې جارو کوي چې یو وخت به یې د اسلام د فاتحانو د اسونو طبيلې پاکولې .

خو هندي مشرکین دې په خلاصو غوږونو واوري چې د اسلامي امت رښتیني بچي او د تاریخ میړني لا ژوندي دي ، یو ځل بیا به باذن الله د ابن قاسم او غزنوي محمود بچي خراساني زلمي خپل له برم او عظمت ډک تیر تاریخ بیا راستنوي باذن الله او د هند په سارا او اوږدو کې به ستاسې د شرکي مندرونه ستاسې په وینو لړي ان شاء الله .

د پاکستان انتخاباتو کي
شمولیت ردت دی
انتخابات د طاغوت لاره ده!

الحمد لله رب الأرض والسماء الذى خلق العرش ثم عليه إستوى فأمر عباده بالتوحيد ونهاهم عن الطاغوت والهوى والصلاة والسلام على من أرسل بالملة البيضاء الى كآفة الناس والورى وعلى آله وصحبه ومن والاه أمابعد فقال تعالى :

يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦ.

داخبره د الله په شریعت کې یو بدیهي او معلوم حیثیت لري چې طاغوت نوم د شیطان او د هر هغه شي دی چې د انسان او د الله د طاعت ترمنځ مانع واقع کیږي ، انسان د رب له عبادت څخه خپل او یا د بل عبادت ته راګرځوي او یایې د رب د دین او شریعت نه خپل او یا د بل دین او شریعت ته راګرځوي ، مشهور مفسر ابن کثیر رحمه الله د طاغوت تعریف کوي فرمایي : **إنه الشيطان قوي جدا فإنه يشمل كل شر كان عليه أهل الجاهلية، من عبادة الأوثان والتحاكم إليها والاستنصار بها.**

ژباړه : بېشکه دغه طاغوت دا شیطان دی چې ډېر قوي دی ، پس دغه معنا شاملیږي هر هغه شر ته چې د جاهلیت والا په هغې باندې عمل کونکي وو د بوتانو د عبادت کولو او هغې ته د فیصلو ور وړلو او مدد نیول په هغې سره تفسیر ،ابن کثیر ۱/٦٨٣ ،علامه ابن القیم رحمه الله د طاغوت متعلق فرمایي : ثم أخبر سبحانه أن من تحاكم أو حاكم إلى غير ما جاء به الرسول فقد حكم الطاغوت وتحاكم إليه ،

ژباړه : بیا الله سبحانه وتعالی خبر ورکړ چاچې فیصله یوړه او یایې فیصله وکړه په غیر د هاغه څه نه چې پیغمبر ورباندې راغلی دی نو ده یقینا طاغوت حاکم وګرځاوه او فیصله یې هغه باندې وکړه مزید فرمایي :

والطاغوت : كل ما تجاوز به العبد حده من معبود أو متبوع أو مطاع ؛ فطاغوت كل قوم من يتحاكمون إليه غير الله ورسوله ، أو يعبدونه من دون الله ، أو يتبعونه على غير بصيرة من الله ، أو يطيعونه فيما لا يعلمون أنه طاعة لله ؛

ژباړه : او طاغوت بیا هر هغه څه دي چې بنده د هغې په سبب د حد څخه تجاوز کوي هغه که د معبود په شکل وي (چې عبادت یې کیدی شي) او که د متبوع په شکل وي (چې ناروا فتوی او مسأله یې منل کیږي) او که د مطاع یعنې د امیر او مسؤل په شکل وي چې طاعت يې په ناجایز أمورو کې کیدی شي، پس طاغوت د هرقوم هغه دی چې هغوی ورته د الله او د هغه د رسول پرځای فیصلې وروړي ، یا یې عبادت کیدی شي بغیر د الله څخه یا یې بغیر د بصیرة نه اتباع کیدای شي

او یا یې طاعت کیدای شي په هغه څه کې چې هیڅ علم نلري چې دا د الله طاعت دی موصوف مزید فرمایي:

فهذه طواغيت العالم إذا تأملتها وتأملت أحوال الناس معها رأيت أكثرهم عدلوا من عبادة الله إلى عبادة الطاغوت، وعن التحاكم إلى الله وإلى الرسول إلى التحاكم إلى الطاغوت، وعن طاعته ومتابعة رسوله إلى طاعة الطاغوت ومتابعته، وهؤلاء لم يسلكوا طريق الناجين الفائزين من هذه الأمة، وهم الصحابة ومن تبعهم ، ولا قصدوا قصدهم، بل خالفوهم في الطريق والقصد معا.

ژباړه: نو دغه طواغیت د عالم دي نن نو که ته په دوی او ددوی سره د خلکو په تعلقاتو کې فکر وکړې نو ډیری د دوی به ووینې چې دوی د الله د عبادت څخه د طاغوت عبادت ته أوښتي دي او د الله او د هغه په رسول د فیصلې کولو څخه په طاغوت باندې فیصلې ته ګرځیدلي دي او د الله د طاعت او د هغه د رسول د متابعې نه د طاغوت طاعت او متابعت ته ګرځیدلي دي، نو دا خلک نه دي روان شوي په لار د نجات موندونکو کامیابو باندې ددې أمت والاوو څخه چې هغه صحابه او د هغوی تابعین دي او نه یې د هغوی مراد خپل مراد ګرځولی بلکه د هغوی څخه یې په لاره او مراد دواړو کې یو ځای مخالفت کړی دی، إعلام الموقعین ج۱/ص۴۰ ،

د طاغوت د تعریف او ددې وضاحت نه به اوس لوستونکي په اسانه درک کړي چې د مسلمانانو په خاوره او نړۍ جمله حاکم شوي حکومتونه، قوانین، د هغې مقننین او حکّام د طاغوت د رؤسو له جملې څخه دي، خلک د ژوند په ټولو أمورو کې د الله په کتاب او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په سنت د فیصلو کولو پر ځای په دوی باندې فیصلو کولو ته ور روان دي، دغه قوانین د وطن په ټولو أفرادو تطبیقیږي او هغوی هم د خپل ژوند د هرې ترخې او خوږې پرېکړې د فیصلې لپاره همدا قانون د یو قطعي امر غوندې ګرځولی چې د ابن القیم او ابن کثیر رحمهما الله د تعریف موافق دغه قانون یومعبود، متبوع، مطاع او د شر نه ډک أمر ګرځیدلی دی، ځکه د الله په مقابل کې د یو چا طاعت کول دا د هغه عبادت دی، چې د طاغوت وصف یې خپل کړی دغه ډول د الله د قانون او شریعت په مقابل کې د بل قانون او منهج تابعداري دا د طاغوت تابعداري ده اوحال داچې مؤمن ته د خپل رب له لوري په طاغوت د کفر کولو امر شوی چې دلایل به پدې دعوی ان شاء الله تعالی روسته ذکرشي، خو اوس غواړو روسته له دې مختصر تمهید او مقدمې نه مقصود ته راوګرځوو :

***

انتخابات ولې د طاغوت لاره ده؟

داچې جمهوریت او دیموکراسي د طاغوت له أقسامو څخه یو مهم قسم او مستقل فرد دی نو لهذا ددې تطبیق او حاکمیت ته چې کومه لاره او اصول وضعه شوي لکه: انتخابات او ووټونه یا ددې د حمایت او دفاع چې کوم کانفرانسونه او جلسې منعقد کیږي ،نو دا به هم د طاغوت لاره ګڼل کیږي چې د الله په نزد یې مذمت او قباحت د بدیهي أمورو څخه دی، نن دا دی په پاکستان کې د انتخاباتو

ورځې راورسېدې غوبل او غوغا شروع ده، باطل پرست ملایان او ګمراه کونکي بلاعمه به بیا ددې شیطاني او طاغوتي ریاست چې جمهوریت او دیموکراسي ده ددې اقتدار ته د حاکم د منتخب کولو او رسولو لپاره به د خپلو مذمومو تأویلونو او قبیحو تحریفاتو په مرسته ډېرى د هلاکت دروازې پرانیزي او ډلې ډلې بې علمه مسلمانان به د طاغوت په دې تورو دروازو ورننه باسي، هم به یې دین ورخراب کړي او هم دنیا خو ددې هرڅه باوجود به دا کار هم ثواب او هم خپل رب ورکړی حق ګڼي، خو دا فکر یې کله هم ونه کړ چې دغه طریقه چېرته په اسلام کې شته اوکنه او نه یې دې خبرې ته فکر شو چې که دا جمهوریت او ددې د حاکمیت اصول او لاره یعنې ووټونه اسلامي او شرعي طریقه وي نو دا بیا د نړۍ کفري دولتونه او حکومتونه ولې اختیاروي، هغوی په دې طریقه کې زمونږ د اسلام نه تأثر أخستی او که نه مونږ ته د هغوی کفر د اسلام نه غوره ښکاره شوی والعیاذ بالله تعالی.

خو أفسوس چې بیاهم ددې صریح بطلان باوجود ددې لارې جنګیالی فضل رحمن وایي جمهوریت ته د پاکستان قانون تحفظ ورکړی او مونږ ددې د ساتنې لپاره جنګ کوو، الغرض: نو ای لوستونکیه چې کله تاته دا معلومه شوه چې جمهوریت طاغوت دی نو ددې د بقا او تحفظ یا یې حاکمیت او منصب ته رسېدل او یا بل رسول، دا د طاغوت لاره ده نو ددې نه مؤمن بنده ته ځان لرې ساتل پکار دي بلکې ددې لارې نه نفرت اوددې دلارویانو سره قتال اوعداوت پکار دی ځکه دا د شیطان دوستان دي، دوی د شیطان په لاره کې جنګیږي، چې الله یې په اړه په سُورَةُ النِّسَاء ٧٦ نمبرایت کې خپلو مؤمنو بنده ګانو ته فرمایي:

الَّذِينَ ءَامَنُوا يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ الطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓا أَوْلِيَآءَ الشَّيْطَٰنِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا.

ژباړه: هغه خلك چې هغوی ایمان راوړی دی هغوی د الله په لاره کې جنګیږي، او کومو کسانو چې کفر کړی دی (کفار دي)، هغوی د طاغوت (شیطان) په لاره کې جنګیږي، نو د شیطان له ملګرو سره وجنګیږئ، یقینا د شیطان مکر ډېر کمزوری دی.

***

فضل رحمن ستر طاغوت دي

د پاکستان جمله گوندونه ، ډلگي ، پارټۍ او تنظيمونه د الله وحده تعالی سره په حاکمیت بلکې د توحید په ټولو أقسامو کې په گنده شرک او د هغه له دین څخه په ردة ککړ شوي طواغیت دي ، خو په دوی کې بیا د لویو طواغیتو د فهرست په سر کې ، قابل د ډیر مذمت او تردید چې دي نو یو له هغې څخه د جمعیت عملاء پاکستان گوند او د هغې مشر مولا فضل رحمان دی دا ځکه د مذمت او تردید قابل دی ځکه چې موصوف یوطرف ته د اسلام او مسلمانی د علم او شریعت دعوی کوی خو بل طرف ته یې د ژوند ۹۹ بلکې ۱۰۰ سلنه جد او جهد د کفري جمهوریت او د لارډ میکالي لعین جوړکړي قانون د حاکمیت بالادستي او حمایت لپاره لیدل کیږي ، ډیرۍ بې علمه مسلمانان یې د درواغو به دعوو او په ښکاره شیطاني لباس دوکه او په فتنه کې مبتلا کړي دي او د دوه مخي په رول ادا کولو کې یې بیا دومره تجربه حاصله کړې چې عملی کردار ، عقیدوي اظهاراتو او په خپله خوله د کفري نظام د حمایت ، دفاع او حاکمیت اعترافاتو ته ددې مسلمانانو هیڅ پام نه راگرځي، چې دا څه کوي او که بالفرض راوگرځي هم نو دا ډیره بعیده گڼي چې گویا ملانا صیب دي د کفر کلمه ووایي او یا دا چې هغه دې د کفري نظام ملاتړی او دفاع کونکی وي ، او څنگه به دا گمان وکړي چې د بلعام پرکټو ورته د قران او سنت د معنوي تحریفاتو په مرسته کفر اسلام او اسلام کفر معرفي کړی دی .

الغرض: دغه فضل رحمان د مفتي محمود زوی دی پلاریې هم په جمهوریت اودیموکراسی د ایمان لرلو په سبب د پیښور یعنې د صوبه سرحد وزیرأعلی پاتې شوی دی ، د جمهوریت او لارډ میکالي قانون ته یې ډیرستر خدمتونه کړي دي ، تردې چې ددې طاغوتي نظام په حمایت او دفاع کې یې د خپل نامراده ژوند اخري سلگی هم پای ته ورسولې او د مرگ په تخته د لمبیدو تر وخته ددې طاغوتي اعتقاد څخه راو نه گرځیده او بیا نه صرف دومره بلکې خپل منونکي زوی یې هم پدې لاره کې د پلار عقیدې او وصیت ته د عمل جامه ور واغوسته بلکل قدم په قدم بلکې د هغه نه لا زیات ددې کفر او ردة په ډنډ کې ننوت ، په هر مجلس او محفل کې همدا د کفر او ردة کلمه تکراروي چې جمهوریت او لارډ میکالي جوړ کړی آیین مې دین دی فقط ، یا یې د طاغوت د ۲۰۲۲ م کال د مارچ په ۲۹ نیټه د جمهوریت د حمایت او دفاع متعلق د خپل باطل اعتقاد وضاحت داسې وکړ وایي : مونږ د شیخ الهند لارویان یو ، هغه مونږ ته د مسلح طاقت پر ځای د سیاسي جدوجهد لار راکړې ده ، مونږه په همدغه لار باندې کلک ولاړ یو ، مونږ مذهبي ځوان د جمهوریت او پارلماني نظام سره ودراوه.

***

له فضل رحمن څخه څو پوښتنې

مونږ دلته دده د شیخ الهند په دې خرافاتو تبصره نه کوو چې هغه ته چا ادا حق ورکړ چې هغه دې د رب د جهاد په تعطیل خپلو ماتحتو او معتقدینو ته وصیتونه کوي ، خو د فضل رحمن نه دا پوښتنه ضرور کوو : چې کله یو څوک د الله د نظام په مقابل کې د کافر لارډ میکالي نظام رامخ ته کوي او د الله د نظام د حاکمیت مخه په زور او طاقت نیسي نو بیا هم دداسې چا په خلاف مسلح جد او جهد نه دي کول پکار؟

د کفارو او مشرکانو مقابل کې مؤمنانو ته په قتال او جهاد د الله تبارک وتعالی ادا بې شمیره فرمودات چیرته لاړل دا د شیخ الهند په ډگوسلي منسوخ شو؟

ایا هغه حاکم چې مسلمان وي او کفر ته واوړي د هغه خلاف په رعیت قیام واجبیږي چې دغه قیام یې په خلاف په اجماع د امت واجب دی .

فتح الباري ج ١٣ / ص١٢٣ ،

او مستدل یې هغه حدیث دی چې په صحیحینو کې نقل دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

او تاسو به د خپلو حکامو سره مخالفت نه کوئ : **(إلا أن تروا كفرا بواحا عندكم من الله فيه برهان)** مگر که تاسو له هغوی څخه ښکاره کفر ووینئ داسې چې تاسوسره په هغې د الله له طرف نه دلیل موجود وي ، متفق علیه، نو اوس ته ووایه چې د پاکستان حکومت کفري دي کنه ؟

نو دا خو بدیهي خبره ده چې اسلامي نه دی نو پخپله ثابته شوه چې حکومت کفري شو او د کفري حکومت حاکم اونافذونکی په خپله کافر شو نو د کافر حاکم خلاف خو قتال او جهاد فرض او واجب دی نو ته بیا د خپل شیخ الهند دغه قول چې د کتاب ، سنت او اجماع د امت په خلاف دی څنگه ځانته دلیل نیسې؟

ایا دا د ما أنزل الله په مقابل کې دابااء اوأجداد تقلید نه دی چې قران یې په ردّ او مذمت باندې راتلل کړي دي؟

***

فضل رحمن په الله اعتراض لري

دلته دې عوام دا نقطه له پامه نه غورځوي چې د

جهاد او قتال احکام هغه ضروري او شرعي سیاست دی چې د الله رسول صلی الله علیه وسلم د بعثت نه بعد د خپل ژوند مهمه برخه ګرځولې خپل دین او شریعت یې په همدې ساتلی او نافذ کړی دی، خپله هم پرې عمل کونکی او ترقیامته یې خپل أمت کې مؤمنو او منونکو ته هم پرې باندې تاکیدي امر او وصیت کړی غلط ہے ژباړه: د ټوپک په ذریعه د شریعت مطالبه غلطه ده، الله اکبر دا څومره صریح مخالفت دی د الله د شریعت بلکې دا خو شکاره په الله او د هغه په رسول صلی الله علیه وسلم اعتراض او تنقید کول دي، ځکه الله تبارک وتعالی د دین اسلام د تحفظ، حاکمیت او سربلندۍ لپاره په قتال او جهاد امر کړی! بیا که هغوی د کفر او یا مخالفت نه بند شول، نو ویوهیږئ چې له ظالمانو پرته د بل چا په ضد لاس غځول روا نه دي،

نو وګورئ دلته الله رب العالمین خپلو بنده ګانو ته د دین او شریعت د ساتنې، غالبولو او حاکمولو لپاره توره او قتال ښودلی خو فضل رحمن پرې الهي او رباني فرمان باندې اعتراض

كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا الزَّكَوٰةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ.

ژباړه: پس چې کله حرامې میاشتې تېرې شي، نو مشرکان ووژنئ چیرې یې چې هم وموموئ او هغوی ونیسئ او ایسار یې کړئ، او په هر څارنځي کې د هغوی د قتلولو لپاره کښېنئ، نو که هغوی توبه

دی خو ددې برعکس بیا فضل رحمن وایې اسلحه کې سیاست کرنیوالے دین اور شریعت کے محافظ نہیں ہوسکتے ژباړه: مسلح سیاست کونکي د دین او شریعت حفاظت کونکي نه شي کیدی دغه ډول د ۲۰۱۸ میلادي کال په ۱۶ جنوري یې وویل بندوق کے ذریعےشریعت کا مطالبه په سُورَةُ البَقَرَة ۱۹۳ نمبر ایت کې فرمایي:

وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنِ انتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّٰلِمِينَ.

ژباړه: او وجنګیږئ تاسې له هغو (کفارو) سره تر دې پورې چې فتنه (شرک او کفر غالب) پاتې نشي او دین ټول د الله لپاره شي، کوي او وایې چې مسلح سیاست کونکي د دین او شریعت حفاظت کونکي نشي کیدی، والعیاذ بالله تعالی.

دغه ډول په سورة التَّوبَة ۵ نمبر ایت کې الله فرمایي:

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ

وباسي او لمونځ قایم کړي او زکات ورکړي، نو خوشې یې کړئ، الله بښونکی او رحم کوونکی دی،

دلته هم مسلمان ته الله د خپل شریعت د حاکمیت مطالبه په ټوپک سره وروښایي، تر هغې دا ټوپک استعمال که چې ترڅو کفارو اسلام ته غاړه نه وي ایخې او ستا دولت

او حکومت یې منلی نه وي ، خو د مفتي محمود زوی فضل رحمن وایي "دټوپک په ذریعه د شریعت مطالبه غلطه ده انا للـه وانا الیه راجعون ،

اللـه متعال په سُورَةُ التَّوبَة ۲۹ نمبر ایت کې فرمایي:

قَٰتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ .

ژباړه : وجنګیږئ د هغو خلکو سره چې هغوی په اللـه او د اخرت په ورځ ایمان نه راوړي ، او حرام نه ګڼي هغه څه چې اللـه او د هغه پیغمبر حرام کړیدي ، او نه حق دین خپل دین ګرځوي، له هغو سره وجنګیږئ ، تر دې پورې چې په خپل لاس جزیه ورکړي او ذلیل شي ، مسلمانانو وګورئ دلته هم اللـه رب کریم د شریعت حاکمیت او ددین اسلام نظام په ټوپک د حاکمولو أمر کوي خو د مفتي محمود زوی فضل رحمان وایي دا طریقه غلطه ده نعوذ باللـه من ذلک اللـه! وایي ستا دین او شریعت چې ساتل کیږي نو هغه په قتال باندې هغه پدې چې **"فاضربوا فوق الأعناق واضربوا منهم کل بنان"** خو د جمعیت عملاء مشر فضل رحمن دا کار غلط ګڼي.

مسلمان ولسه! د فضل رحمان منافقت ته خه وګورئ او زیر شئ چې په کوم مداریتوب د جهاد د تعطیل عقیدې ته مسلمانانو کې لار پیدا کوي دلته وایي چې د ټوپک په زور د شریعت مطالبه غلطه ده خو دا خیر دی که د کفري جمهوریت مطالبه کونکو خپل دغه کفر د ټوپک په زور عملي کړی! دا صحي دی ، که څوک مسلمان یې مخالفت او یا هم بغاوت کوي نو جمهوریت ته جایز دي چې هغه حبس ، تعذیب او حتی د ژوند څخه محروم کړي ، خو ددوی پر ضد که بیا کوم مسلمان د شریعت د مطالبې لپاره ټوپک استعمالوي نو دا کار او مطالبه یې غلطه ده!! دا خیر دی که فضل رحمان د شیخ الهند په فتوی د ملک مذهبي ځوانان د جمهوریت د کفري نظام او قانون سره ودرول او د اسلامي نظام مخه یې ورباندې ونیوله ، خو جرم او غلط کار بیا دا دی چې که کوم مسلمان د اسلامي خلافت او شرعي نظام د تطبیق او حاکمیت لپاره چاته دعوت او بلنه ورکوي او د هغه نظریه ورجوړوي! سبحان اللـه عجیب دجل او عجیبه دوه مخي ده ، دعوی د اسلام او عقیده د کفر ، د موصوف پدري او د اکابرو نه پاتې موروثي اعتقاد هغه جمهوریت او دیموکراسي منل او ددې اشاعت کول دي ، ددوی خو په رګونو کې همدا وینه چلیږي نو ځکه یې هرمجلس او هر محفل کې همدا یوه کلمه په خوله راځي چې جمهوریت مې دین اوشریعت دی: موصوف د بنو منطقي په جلسه کې وایي : همارى جدوجهد اس ملک میں جمہوریت اور قانون کی عمل داری کیلئے ہے ، زمونږ ټول کوشش او محنت هغه پدې ملک کې د جمهوریت او د لارډ میکالي د قانون د عملي کولو لپاره دی .

بل ځای د جمهوریت او لارډ میکالي د شریعت متعلق وایي جمهوریت ته د پاکستان قانون تحفظ ورکړی او مونږ ددې د ساتنې لپاره جنګ کوو

***

هو دا د فضل رحمن عقیده ده

لوستونکو دا کوم اعتقادي إظهارات چې د جمهوریت باره کې فضل رحمن کړي دا یقینا دده د ګوند منشور او عقیده ده ، د نوموړي له دې إعترافاتو نه چې صفا او بغیر له إبهام او تردد نه معلومیږي هغه دا چې ددوی

جد اوجهد ، اصول او جمله ضوابط همدا یو هدف او غایه لري چې په پاکستان کې جمهوریت حاکم او دغه د برطانوي لارډ میکالي قانون برلاسی او دوامدار د عمل مستحق واوسي فقط ، فضل رحمن د ۲۰۲۰ میلادي په غونډه کې وایي :

مونږ پدې هیواد کې د آئین (پاکستاني) قانون برلاسي (حاکمیت) غواړو.

نو د موصوف باره کې بله خبر نه ده پکار مګر دا چې وویل شي چې نوموړی د جمهوریت او د لارډ میکالي د قانون لپاره یوستر داعي او مبلغ دی ، دغه ډول د هغې دفاع کونکی هم دی او پدې لارکې ددې د تحفظ ، دفاع او حاکمیت لپاره جنګ کونکی هم ! چې پدې سره موصوف د ستر سرکښ طاغوت صفت خپل کړی ، دی لاحول ولا قوة الا بالله .

***

جمهوریت د الله شریعت ساقطوي

مخکې فصل کې مو د جمعیت علماء دګوند د مشر فضل رحمن شرکي عقاید او دغه ډول د هغه په خپله خوله په جمهوریت د ایمان لرلو ښکاره اعترافات ذکر کړل کوم چې تاسو ملاحظه کړل ،سره له دې چې پاکستان کې د حاکم جمهوریت او آیین پریکړې او مادې د الله تبارک وتعالی دراليږلي دين اسلام او شریعت ښکاره ماتونکې دي د مثال په طور دا څوفرمانونه او پریکړې د جمهوریت وګورئ :

۱- جمهوریت : د ژوند د ټولو ورو غټو لانجو ، خصومتونو ، حقوقو وغیره پریکړې به صرف د لارډ میکالي او هغه چې د ضرورت او حاجت په اساس یې مقننین جوړوي هغې باندې کیږي!!

۲- جمهوریت : وطن کې اوسیدونکي جمله خلک یوشان د امن او ازادانه ژوند تیرونې حقدار دي هغه مسلمان دی که یهودي ، نصراني دی که هندو ، سیک ، رافضي ، بل مشرک او مرتد دا به خپل وطنوال وي او دده خلاف به هیڅ شرعي اقدام نه شي کیدی!!

۳- جمهوریت : هرچاته د خپل دین او اعتقاد موافق د عبادت او خوراک ازادي ده هیڅ قسم ممانعت به یې نشي کیدای!!

۴- جمهوریت : د کفارو او مشرکینو خلاف به جهاد معطل وي!!

۵ ـ جمهوریت کې د جنس تبدیلي جایز ګرځول شوي ممانعت یې نشته!!

٦ ـ جمهوریت : نارینه د نارینه سره نکاح کولی شي دا جایز دي ممانعت نلري!!

۷ ـ جمهوریت کې د زنا د جواز لپاره په شروطو رسمي اجازه شته دا کار ممانعت نلري!!

۸ ـ جمهوریت کې د بین الملل الکفریة اصول اوپریکړې قابل د احترام دي مخالفت یې جرم دی!!

۹- جمهوریت کې د جمله کفري دولتونو امنیت تأمینول لازم دي مخالفت یې جرم دی!!

۱۰ ـ جمهوریت کې د نړی د جمله کفارو سره ولاء او دوستانه تعلقات لرل جایز دي ، مخالفت یې جرم دی!!

دا شوي د جمهوریت صرف لس پریکړې چې د الله د شریعت څومره لویه برخه او ذخیره یې ساقط کړې او د عمل نه غورځولې ، راشئ لنډ او اجمالي دا هم ملاحظه کړئ :

۱: د الله تعالی په شریعت کې د واده کړي زنا کار حد چې رجم دی خو جمهوریت کې دا حد ساقط شو!

۲: د الله تعالی په شریعت کې د ناواده کړي زناکار حد سل ۱۰۰ کوړې وهل او یو کال له کلي شړل دي خو جمهوریت کې دا حد ساقط شو

۳: د الله تعالی په شریعت کې د غل حد د هغه نه ښی لاس قطع کول دي خو جمهوریت کې داحد ساقط شو ،

۴: د الله تعالی په شریعت کې د لواطت کونکو حد قتل دی خو جمهوریت کې



دا حد ساقط شو!

۵: د الله تعالی په شریعت کې د قاتل النفس حد قتل دی خو جمهوریت کې دا حد ساقط شو

۶: د الله تعالی په شریعت کې د شرابي حد ۸۰ اتیا دورې دي خو جمهوریت کې دا حد ساقط شو .

۷: د الله تعالی په شریعت کې د قذف لګونکي حد اتیا ۸۰ دورې دی خو جمهوریت کې دا حد ساقط شو .

۸: د الله تعالی په شریعت کې د ساحر حد د هغه څټ په توره وهل دي خو جمهوریت کې دا حد ساقط شو.

۹: د الله تعالی په شریعت کې د مرتد حد هغه د هغه قتلول دي خو جمهوریت کې دا حد ساقط شو .

۱۰: د الله تعالی په شریعت کې د توهین الرسول عقوبة قتل دی، خو جمهوریت کې دا حد ساقط شوی .

۱۱: د الله تعالی په شریعت کې د قطاع الطریق حد د هغوی قتلول او یا لاسونه او پښې رد بدل قطع کول دي خو جمهوریت کې دا حد ساقط شو .

۱۲: د الله تعالی په شریعت کې محرّماتو ته د راتلو حد قتل دی خو جمهوریت کې دا حد ساقط شو .

۱۳: الله تعالی په خپل شریعت کې د کافر او مؤمن ترمنځ په حقوقو کې فرق کړی خو جمهوریت دغه فرق ساقط کړ!

۱۴: الله تعالی په خپل شریعت کې کافر ته د ژوند حق نه دی ورکړی خو جمهوریت دغه حکم ساقط که .

۱۵: الله تعالی په خپل شریعت کې د کافر مال مباح ګرځولی خو جمهوریت د غه حکم ساقط کړی.

۱۶: الله تعالی په خپل شریعت کې مؤمن ته عزتمند ، پاک او کافر ته ذلیل او نجس ویلي خو جمهوریت دغه فرق ختم کړی.

۱۷: شرک کول د الله تعالی په شریعت کې سخت حرام ، ممنوع او ترټولو لوی جرم دی چې کونکی به یې ابدالأبد په جهنم کې وي خو جمهوریت ددې جواز ورکړ او د رب ددې تحریم تحلیل یې وکړ .

۱۸: کفر د الله تعالی شریعت کې حرام خو جمهوریت حلال وګرځاوه .

۱۹: ردة د الله تعالی شریعت کې حرام خو جمهوریت حلال وګرځاوه .

۲۰ : د الله تعالی په شریعت کې د خنزیر ، سپي وغیره حرام کړی شوو حیواناتو غوښې خوراک حرام دی خو جمهوریت دغه حرام حلال وګرځول .

۲۱: د الله تعالی په شریعت کې به په ځمکه د شرک او کفر مرکز او معبد نشي پاتې کیدی بلکې نړېدای به شي خو جمهوریت ددې برعکس ددې په ابادۍ او تحفظ امرکوي او د الله تعالی دا حکم یې ساقط کړ.

۲۲: د الله تعالی په شریعت کې بد عات حرام دي خو جمهوریت حلال وګرځول .

۲۳: د الله تعالی په شریعت کې زنا ، لواطت ، سود ، قیمار وغیره حرام دي خو جمهوریت دغه ټول محرمات حلال وګرځول ځکه چې کفار مشرکین او مرتدین یې د خپلو

معتقداتو په اساس جایز ګڼي ، جمهوریت هم د هغې د کولو اجازه ورکړې .

۲۴: د الله تعالی په شریعت کې جهاد د ذروة سنام الاسلام په صفت سره یاد شوی خو جمهوریت کې دا ختم شو .

۲۵: د الله تعالی شریعت کې جهاد ترقیامت جاري او دوامدار دی خو جمهوریت کې دغه بند او ممنوع وګرځېده .

۲۶: د الله شریعت کې د کفارو وژل عبادت دی خو جمهوریت دغه عبادت ساقط کړ ،

۲۷: د الله تعالی شریعت کې د کفارو نارینه غلامول جایز ، د اجر او ثواب باعث دی خو جمهوریت دا کار ممنوع او ناجایزو ګرځاوه .

۲۸: د الله تعالی شریعت کې د کفارو ښځې وینزې کول جایز او حلال دي خو جمهوریت دا کار حرام او ممنوع وګرځاوه .

۲۹: د الله تعالی شریعت کې د کفارو مال غنیمت کول حلال دي خو جمهوریت دا حلال حرام وګرځول .

۳۰ : د الله تعالی په شریعت کې د یهودو او نصاراوو ښځه جزیه اخستل حلال دي خو جمهوریت دا حرام او ممنوع وګرځول .

***

جمهوریت مستقل دین

لوستونکیه فکر وکړه د جمهوریت دي یو فرمان د شریعت ځومره برخه معطل کړه ایا ددې په حاکمیت کې شرعي محکمې ته د پرېکړې او فیصلې لپاره څه برخه او حصه پاتې شوه؟ نو د الله تبارک وتعالی دا امر څه شو چې خپلو مسلمانانو بندګانو ته یې د خپلو جګړو او لانجو هره وړه او لویه مسأله کې په قرآن او سنت باندې د فیصلې کولو امر کړی دی او هغوی یې په همدې مکلف ګرځولي دي!

په سُورَةُ النِّسَاء ٦٥ نمبر ایت کې فرمایي :

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِيٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا.

ژباړه : پس داسې نه ده ای پیغمبره! ستا په رب مې دي قسم وي هېڅکله مؤمنان کېدای نشي دوی تر څو چې په خپل منځي شخړو کې تا فیصله کوونکی ونه مني ، بیا چې ته څه فیصله وکړې ، پر هغې باندې په خپلو زړونو کې څه خفګان هم محسوس نه کړي؛ او منقاد شي هغې ته په پوره تابع کېدلو سره

په سُورَةُ النِّسَاء ٥٩ نمبر ایت کې فرمایي : **فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا.**

ژباړه : پس که ستاسې تر منځ په کومه چاره کې شخړه پېښه شي ؛ نو هغه د فیصلې لپاره د الله او رسول لورې ته وړاندې کړئ ، که تاسې په رښتیا سره پر الله او د اخرت په ورځ ایمان لرئ ، همدا د کار یوه سمه طریقه ده او د عاقبت په اعتبار هم غوره ده .

مفسر ابن کثیر فرمایي : **فدل على أن من لم يتحاكم في محل النزاع إلى الكتاب والسنة ولا يرجع إليهما في ذلك ، فليس مؤمنا بالله ولا باليوم الآخر.**

ژباړه : نو دا پدې خبره دلیل دی چې څوک د جګړې او اختلاف پر وخت خپله فیصله کتاب او سنت ته ور نه وړي او دي دواړو ته را ونه ګرځي ، نو دا په الله او ورځ د آخرت ایمان نه لري ، تفسیرابن کثیر ج۲ / ص ۳۴۶.

شیخ عبد اللطیف بن عبد الرحمن بن حسن آل الشيخ رحمه الله فرمایي:

”من تحاكم إلى غير كتاب الله وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم بعدالتعريف فهو كافر“

ژباړه : چا چې وروسته له پوهې نه د الله کتاب او د نبي سنتو څخه غیر بل څه ته فیصله یوړه هغه کافر دی ، الدرر السنية ج۱۰ ص۴۲۶ کتاب حکم المرتد ،

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا إِلَى الطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا أَن يَكْفُرُوا بِهِۦ وَيُرِيدُ الشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا.

ژباړه : ایا ته نه ګورې ای پیغمبره هغو خلکو ته چې هغوی دا دعوه کوي چې : موږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي ول ایمان راوړیدی؟ خو اراده لري چې خپلې چارې د فیصلې لپاره طاغوت ته ور وړي او حال دا چې هغوی ته أمر کړی شوی ددې چې طاغوت باندې کفر وکړي ،خو شیطان غواړي چې ګمراه کړي هغوی لره په داسې ګمراهۍ چې د حق نه لرې ده .

نو وګورئ لوستونکو! د جمهوریت حال مو ملاحظه کړ چې د شریعت محمدي ځومره مخالف او د هغې ځومره برخه ساقطوي ، خوافسوس چې بیا هم جمهوریت د اسلام مقابل کې دین نه ګڼل کیږي ، نو تاسو ته دې فصل کې په توفیق د لوی رب متعال دا ثابته شوه چې جمهوریت دا سور کفر دی دا تور طاغوت دی دا د الله د شریعت او دین په مقابل کې یو مستقل کفري دین او شریعت دی چې د کفارو او د هغوی ساتل شوو بلاعمه او مرتدو حکّامو په نامشروعو کوششونو د

مسلمانانو په خاوره حاکم شوی دي لاحول ولاقوة الا بالله ،

نو په همدې اساس د پاکستان جمهوري قانون يو وضعي او کفري قانون دی،ملا فضل او دده د گوند نور عملاء بيا په همدغه جمهوريت ايمان لري او ددغه جمهوري نظام د قيام لپاره قرباني ورکوي او لکه څنگه چې په پورته بحث کې تاسي ته واضحه شوه چې جمهوريت د اسلام په مقابل کې يو مستقل دين دی ، نو ملا فضلو او ورسره يي گوند چې دوی يي د لکونو علماؤ مجموعه گڼي او ډيری خلک هم په دې خوش باوری کې پريوتي چې دومره په لکونو علماء او مشايخ به ولې کفر کوي دوی خو دادی ووټ ورکول هم عبادت گڼي او وايي دا کفر که کوئ نو هم يو ځل ورته اودس وکړئ او بيا ووټ ورکړئ نو له پورته بحث څخه به په دې پوهه شوي ياست چې اکثر له خلکو دالله عزوجل په قول ناپوهه وي نو د دوی تش په نومونو بايد خطا نه شئ لکه څنگه چې درته ثابته شوه چې جمهوريت يو مستقل کفري دين دی ، نو همدغه کفري دين ته په کفري طريقه (انتخاباتو) له لارې ځان رسول هم ردت دی ، لازمه ده چې په دې اړه لږ نور وضاحت هم ورکړو ، د ټولو حق پرسته علماؤ پدې باندې اتفاق دی، نو دغه جمهوري نظام کې برخه اخستلو سره انسان د اسلام څخه خارجيږي، دغه رنگ هر مرتد حکومت او کفري نظام ته ووټونه ورکونکي خلک هم کافر دي، ځکه دوی ددې نظام بنياد گران دي، ددغه خلکو ووټونه د کفري نظام وسيله ده ،همدغه خلک قانون سازان وکيلان منتخبوي، د قومي اسمبلي او د صوبايي اسمبلي کانديدانو ته راي ورکوي، هغوی کاميابوي، نو دوی د کفري نظام وسيله دي.

لهذا هر هغه څوک چې ووټونو کې برخه اخلي نو دوی به اول د يو سياسي تنظيم رکنيت او غړيتوب ترلاسه کوي، هغه تنظيم چې بنياد يې په ډيموکراسي او کفري اصولو ايښودل ش وی وي مثلا پريکړه به د خلکو(عوامو) په خوښه کيږي، حلال حرام به د قومي اسمبلي او سينټ د لارې ټاکل کيږي ،دترهگرئ (!) خلاف مبارزه کول او دملک نافذه وضعي او شرکي قوانين منل وغيره داسي شرطونه به مني، بيا چې کله دوی دسياسي تنظيم غړيتوب ترلاسه کړي نو له دي څخه وروسته دوی دکفر او ارتداد په يو څو مراحلو ورتيريږي:

(**يادونه:** که څوک ددغه سياسي تنظيم غړی هم نه وي ،خو ووټ ورکوي نو هغه هم ددې مراحلو څخه تيريږي).

اوله مرحله دا چې دملک په نافذه طاغوتي قانون باندې اقرار کول او هغه منل ځکه چې کوم فرد دغه قانون ونه مني په تنظيم کې ځای نه لري او د ووټ ورکولو حق نه لري .

او کوم تنظيم چې دغه طاغوتي قانون ونه مني، هغه ته دکار اجازه نه ورکول کيږي او ددغه وضعي قانون په کفر او شرک علماؤ تفصيلات ليکلي ،نو په دغه طاغوتي قانون باندې اقرار او موافقه کول کفر اکبر دی چې انسان پرې مرتد کيږي.

د ووټ ورکونکو د ارتداد دويمه مرحله دا ده چې دوی به دملک مختلفو عقيده لرونکو سياسي تنظيمونو او گوندونو په اړه قانوناً دجواز عقيده ساتي مثلا کميونستان، سيکولرستان، روافض، يهوديان، نصرانيان، سيکان، هندوان وغيره هر کافر ته دمشر په انتخاب کې د راي ورکولو مساوي حقوق ورکول، يا هم ددغه کفارو څخه يو نوماند ټاکلو جواز ورکول ،او ددوی عقيدې دعوت او ددوی رسنيو ته آزادي ورکول او ددوی تکفير نه کول يا د براءت په ځای د تولي(دوستي) مظاهره کولو نواقض شامل دي ،دا ټول کارونه دشريعت د واضحه نصوصو سره په ټکر کې دي، او قانونا دغه خبرې منل کفر بواح دی .

دريمه مرحله د دوی د ارتداد دا ده چې دوی په مبدأ تداول السلطة بسلمية ايمان لري يعني په سوله اييزه توگه د حکومت انتقال باندې ايمان لرل چې دا د ډيموکراسۍ يو مهم اصل دی چې ددې په وجه انتخابات کيږي، او درای اکثريت په گټلو سره حکومت گټونکي ډلې ته بغير د کوم ځنډ او خنډ څخه حواله کيږي، ددې اصل منلو نقصان دا دی چې په نتيجه کې يې د کفارو او مرتد حاکمانو خلاف جهاد معطل شوی دی او بل دا چې هر کافر درای په گټلو سره کولی شي دملک حاکم شي، او دا دواړه کارونه دکتاب سنت او اجماع د امت خلاف دي. د دوی د ارتداد څلورمه مرحله دا ده چې ددوی کانديد شوی مشر چې کله پارلمان ته د دوی په رای ورکولو سره و رسيږي نو له هغوی بيا د ډيموکراتيک قانون په عملي کولو قسم (حلف) اخلي چې پښتو کې ورته لوړه وايي بل دا چې ددوی دغه مشران هلته دشريعت خلاف قانون سازي کوي، دغه رنگ دملل متحد دقوانينو پابندي کوي او دهغوی دتحليل او دتحريم پابندي کوي، چې دا ټول کفري کارونه دي ،نو په دغه وجوهاتو سره ووټونو کې برخه اخستل

صریح کفر دی چې ددی کفر نه دوی په جهل یا تاویل یا خطا وغیره سره نشي بچ کیدای.

لکه تاسې د پاکستان فعلي قانون ملاحظه کړئ، لیکي: "هر اوسیدونکي ته په خپل مذهب عمل او مذهب ته دعوت ورکولو حق حاصل دی." [حصه ٦/باب ٠/ماده ٦١/شق الف/ صـ ٠٦]

" دي قانون کې مساوات، قانون په نظر کې برابروالی، معاشرتی، معاشي، سیاسي انصاف او خیال، د خیال اظهار، د عقیدې، دین، عبادت او د اجتماع آزادي شامله ده." [تمهید صـ ٦]

"هر مذهب، عقیدې، خیال، دین " ته اختیار دی، اسلام قید په کې نه شته او همدغه خبره یې عملاً هم نافذ کړی .

بس دغه هر مذهب، عقیدې، خیال او دین کې یهود ،نصاری، سیکولران ،کمیونستان، دهریان، قادیانیان، منکرین حدیث، شیعه ګان، بریلیان او هر قسم کفري ډلو ته آزادي شوه، او هغه کفرونو ته پکې هم آزادي شوه، چې لا تر اوسه نه دي شکاره شوي .

آیا اسلام کفر ته اجازت ورکوي؟ سیوا د یهودو، نصارى او مجوسو ته، د جزیه ادا کولو په صورت کې په مشروط ډول آزادي وي. خو دغه وضعي قوانینو موافق کفر ته بې قید او شرط آزادي ورکول کفر دی.

د پاکستان قانون مطابق ټول اوسیدونکي د قانون له مخې برابر دي. لیکي: د جنس په اعتبار سره به هیڅ امتیاز نه ورکول کیږي. [حصه ٦/باب ٠/ فقره ٦٤/شق ٠-٦/صـ ٠٥]

ابتداء کې هم وایي: جمهوریت، آزادي، مساوات او عدل باندې به د اسلام موافق پوره عمل کولی شي.(دلته ورسره د اسلام نوم هسې د خلکو د غولونې په هدف ذکر کوي ، هسې خو په حقیقت کې ددغه وضعي قانون مبداء او بنسټ د اسلام د اصولو خلاف دی. قرار داد مقاصد کې هم لیکي: چې پاکستان قانون کې جمهوریت، حریت، مساوات او عدل د اسلامي اصولو مطابق خیال ساتلي شي.] آرټیکل ٦، الف /صـ ٠٩٤]

مساوات په اړه یې یو څو مادې ولولئ:

٨: د ژوند په ټولو شعبو کې د زنانه وو، په پوره توګه ونډه یقیني کولو لپاره به اقدامات کولی شي. [حصه ٦/باب ٦/فقره ٣٥/ صـ ٠١]

په مرکزي حکومت کې ٣٥٦ چوکیو څخه ٢١ د ښځو دي.[حصه ٣/ باب ٦/ ماده ٤٠/ صـ ٦٢]

او لس پکې د کافرو دي. [حصه ٣/ باب ٦/ ماده ٤٠/ شق ٥/ صـ ٦١.]

د پاکستان په کارونو کې د نسل، مذهب، ذات، جنس، اوسیدلو یا د پیدایښت ځای په اعتبار هیڅ ډول امتیاز نه ورکول کیږي. [حصه ٦/باب ٠/ماده ٦١/شق ٠/ صـ ٠٤]

او د څلورو صوبو اسمبلیو کې ټول ١٦٨ خلک وي، چې ٠٦٨ پکې ښځې او ٦٣ کافر پکې وي. [حصه ٥/باب ٦/ ماده ٠١٢/شق ٠/صـ ٢٤]

بناءا انتخابات ډیر لوی کفر دی، ځکه دا د څو نواقضو مجموعه ده:

دا د کفري نظام ډیموکراسی وسیله ده. قاعده دا ده،

للوسائل حکم المقاصد.

لهذا مقصود ډیموکراسي شرکي نظام دی نو وسیله انتخابات یې هم شرکي عمل دی .

٦. دې کې د اکثریت خلکو رأي او نظر ته اعتبار وي یعنې جموریت او اکثریت اصل وي .

٣. کافر او مسلمان فرق پکې نه کیږي .ټول یو شان د ووټ حق لري . مومن اهل الحل والعقد او فاسق فرق پکې نه کیږي .

اګر که اهل الحل والعقد دې کفرونو کې ونډه نه اخلي.

ووټ او رای ورکولو کې د ښځې او نر ترمنځ فرق نه کیږي .

کافر هم ددوی ولسمشر کیدایشي .

ښځه هم ددوی ولسمشره کیدایشي .

دا د قومیت او وطنیت لویه وسیله ده .ځکه بهرني مسلمان ته پکې د نظر ورکولو حق نشته .

دا د شرکي قانون سازۍ لپاره استازي ټاکل دي .

انتخابات په سوله اییز ډول واک ته رسیدلو باندې ایمان لرل او جهاد او قتال په ممانعت او د انکار شرکي عقیدې باندې بناء وي.

انتخاباتو په نتیجه کې د معین وخت لپاره یو کس ولسمشر یا وزیر اعظم جوړیږي، او شریعت کې خلیفه بغیر د شرعي عذر څخه تاحیات نه معزوله کیږي .

او داسې نور صریح نواقض د اسلام باندې مشتمل عمل دی .نو دغه خلک مرتد دي، او هیڅ عذر نه لري .

مُکرهَ خو بالاتفاق ندي، ځکه دغه کار پرې څوک د ټوپک په زور نه کوي.

خطا شوي هم ندي، ځکه یو ځل وي، دوه ځل وي، بیرته د خطایي څخه رجوع کوي خو دوام په خطایي دلالت نه کوي .

ماشومان، مجنونان او ویده هم نه دي .

متأولین هم ندی او نه یې تأویل ته اعتبار شته، لکه کفري قانون نافذول څه پټه خبره نده، وضعي قانون جوړول او داسې نورو شرکیاتو کې خو هیڅ تاویل معتبر ندی .

جاهلان هم ندي، او نه دا جهل عذر دی، ځکه جهل په مسائل خفیه کې وي، هغه مسائلو کې چې د تحقیق اسباب هم مهیأ نه وي ،نو نن سبا خو پاکستان په ځمکه ځومره جهادونه او معرکې وشوې، هر خاص او عام ته دغه د حق غږ رسیدلی دی ،او ددې سره سره علماؤ او مشایخو پدې کار ردونه کړي دي. بیانات موجود دي .دغه رنګ یو ماین او یو ږز دا په خلکو باندې لوي حجت دی، چې خلک خبر شي چې وټونو والا په نښه شوي، نو بس دوی ته غږ ورسیدو، دوی به وس ځان پوهه کوي.

که چیرې دوی د طاغوتي ملایانو څخه تپوس وکړي، او هغوی ورته ووایې چې ووټ جایز دی، لکه اوس چې د ملا فضل الرحمان په نوم ستر طاغوت چې جمهوریت اسلام ګڼي او ددغه ګوند اکثر غړي چې ځانونه علماء هم ګڼي ووټ ورکول عبادت ګڼي او وایي چې اول به اودس وکړې بیا به دوه رکعته لمونځ وکړې او بیا به ووټ واچوې ، یانې کفر کولو ته به اودس وکړې ، نو که له داسې خلکو تپوس کوي نو یقیني خبره ده دوی خو ټول په دې ګندګۍ ککړ دي نو باید چې په پرې توګه په دې اړه تحقیق وکړئ او مطالعه وکړې ، نو پدې یې غاړه ځکه نه خلاصیږي چې بریلیانو ته خپل مشران شرکونه د قرآن د متشابهاتو څخه ثابتوي، روافض او قادیانیان او منکر حدیث خلک هم خپل دلائل د قرآن کریم څخه ثابتوي (د هغوی په ګمان)، یهود نصاراوو ته خپل مشران خپل دین په اړه دلائل بیانوي نو دغه د بریلیانو کشران او د روافضو، قادیانیانو، یهودیانو او نصاراو کشران معذوره ندي .بلکې دوی به جانب مقابل غږ پیدا کوي، او که بیخي د تحقیق نه وروسته یې هم پیدا نه کړي نو ځان به ترې غلې نیسي، ځکه یو کار چې دائر شو، په مابین د کفر او اسلام کې، د هغه پریښودل فرض وي .

او دا خبره یاد ساتل پکار دي، چې هیڅ یوه مسئله تر ابده پټه نه وي، بلکې دلیل چې بیان شو، بیا دا مسائل ظاهره څخه ګرځي .

دویمه خبره دا ده چې یو اتمام د حجت دی یعني دلیل رسیدل دي، او بل فهم د حجت دی، په دلیل پوهیدل دي، نو شریعت کې د خلکو تکفیر لپاره فقط اتمام او بلوغ د حجت کافي دی، فهم او پوهه د حجت لازمي نده، لکه د ووټونو په اړه یو کس ته خبره بیانه شي

خو هغه وایي چې زما سر پرې نه خلاصیږي نو دا عدم پوهه ددغه کس لپاره عذر نه جوړیږي، چې ووټونو کې برخه واخلي .

***

فضل رحمن د اسلام له نظره

د جمهوریت دا پورته ذکر شوي او همدارنګه له دې پرته نوري ډېرې داسې پرېکړې شته چې د الله د شریعت مکمله خاتمه او تعطیل راولي خو أفسوس پدې راشي چې ددې هرڅه باوجود د مفتی محمود زوی فضل رحمان او دده پلویان بیاهم د خپل ردت په خر سپاره دي او د جمهوریت د بالا دستی ، تحفظ او حاکمیت لپاره د دنیا د ګنده مال او متاع په طلب کې داسې ړانده شوي چې د شریعت د دومره بې شمیره احکامو د ساقطولو او د هغې د تبدیلولو هیڅ پرواه نه کوي بلکې د هغې په مقابل کې یې د لارډ میکالي قانون لکه د اسماني شریعت داسې منلی دی!!

شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله فرمایي : ومعلوم بالاضطرار من دين المسلمين وباتفاق جميع المسلمين أن من سوغ اتباع غير دين الإسلام أو اتباع شريعة غير شريعة محمد صلى الله عليه وسلم فهو كافر ،

ژباړه : او دا خبره خو د مسلمانانو د دین څخه د ضروري معلوماتو څخه ده چې که څوک د دین اسلام نه بغیر د بل دین پیروي جایز وګرځوي او یا پیروي د بل شریعت د محمد صلی الله علیه وسلم د شریعت مقابل کې جایز وګرځوي نو دا کس کافر دی .

مجموع الفتاوى ۲۸ / ۵۲۴ ،

نو که فضل رحمان او دده ګوند به خوله زر ځله دا اقرارونه وکړي چې مونږ خو د اسلام د احکامو څخه انکار نه دی کړی هغه هم منو نو بیاهم دا ددوی د مسلمانی ثابتولو لپاره کافي نه ده ، ځکه د الله شریعت دومره ذلیل ندی چې د حاکمیت درجه اوغلبه ددې مقابل کې بل قانون ته ورکوي او په خوله ددې د منلو دعوی کوي دا دعوی هسې ترخولو محدوده ده او زړونو کې یې کفر ځای نیولی ، نو لکه څنګه چې الله تبارک وتعالی د ځان سره په ذات او صفاتو کې شریک نه خوښوي نو د خپل شریعت سره د بل شریعت شراکت هم نه برداشت کوي .

شیخ الاسلام رحمه الله فرمایي : فإذا كان بعض الدين لله وبعضه لغير الله وجب قتالهم حتى يكون الدين كله لله .

ژباړه : چې کله بعضې برخه د دین د الله وي او بعضې د غیرالله نو قتال به ورسره ترهغې واجب وي ترڅو ټول دین د الله لپاره وګرځي ،

مجموع الفتاوى ٢٨/٤٦٩ ،

علامه ابن کثیر رحمه الله د تتار د هغه قانون متعلق چې د اسلامي أحکامو سره سره د یهودیت ، نصرانیت او مختلو ملتونو د ادیانو څخه مرکب وو وفرمایل : که څوک داسې قانون جوړ کړ او دا یې د الله په شریعت مخکې کړ نو فرمایي" فهو كافر يجب قتاله ، حتى يرجع إلى حكم الله ورسوله صلى الله عليه وسلم"

ژباړه : نوپس دا کس کافر دی قتال ورسره واجب دی تردې چې د الله او د هغه د رسول حکم (شریعت) ته راوګرځي .

تفسیر ابن کثیر ج٣/ص ١٣١.

امام ابن حزم رحمه الله فرمایي:

"لأن إحداث الأحكام لا يخلو من أحد أربعة أوجه إما إسقاط فرض لازم

كإسقاط بعض الصلاة أو بعض الصيام أو بعض الزكاة أو بعض الحج أو بعض حد الزنى أو حد القذف أو إسقاط جميع ذلك وإما زيادة في شيء منها أو إحداث فرض جديد وإما إحلال محرم كتحليل لحم الخنزير والخمر والميتة وإما تحريم محلل كتحريم لحم الكبش وما أشبه ذلك ، وأي هذه الوجوه كان فالقائل به مشرك لاحق باليهود والنصارى والفرض على كل مسلم قتل من أجاز شيئا من هذا دون استتابة ولا قبول توبة إن تاب واستصفاء ماله لبيت مال المسلمين لأنه مبدل لدينه وقد قال صلى الله عليه وسلم من بدل دينه فاقتلوه“

ژباړه : وضعي احکام جوړول به له څلورو خبرو خالي نه وي يا به د فرض او لازم عمل ساقطول وي لکه د مونځ ، روژې ، زکات ، حج ، د زنا حد ، د قذف حد بعضې حصه به ساقطوي او يا به دا ټول فرض او لازم عمل ساقطوي .

او يا به دغه فرض او لازم عمل کې زيادت کوي ، او يا به نوی فرض جوړوي ، او يا به حرام څيز حلالوي لکه د خنزير غوښه ، شراب او مرداره حلالول او يا به حلال حراموي لکه د ګډ غوښه حرامول وي .

او پدې هر يو قول کونکی مشرک دی د يهودو او نصاراو تابعداري کونکی دی ، او په هر مسلمان باندې دا فرض دي چې چا د دې کارونو روا ګڼلو اجازه ورکړه ، هغه بغير له توبې طلب کولو څخه ووژنئ ، که توبه وباسي نو توبه يې نه قبليږي او مال يې د بيت المال دی ځکه دا خپل دين بدلونکی دی ، او نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي چا چې خپل دين بدل کړو ، ويې وژنئ ، الإحكام في أصول الأحكام ، ج١٦/ ص١١٠.

داشو د فضل رحمن او د هغه د ګوند حکم چې د الله په شريعت کافر او مشرکان ګرځيدلي.

لهذا ددوی خلاف جهاد کول په مسلمانانو واجب ګرځيدلی د وجهې د هغې عقيدې او عملي کارکردګی نه چې د جمهوريت غوندې کفري شريعت د جواز او اباحت باره کې يې لري ځکه دا د الله شريعت تبديلول دي لکه څنګه چې دا خبره مخکې بحث کې معلومه شوه چې جمهوريت د شريعت مخه نيسي او بيانه دومره فقط بلکې د شريعت د احکامو پرځای خپل احکام وضعه کوي ،لکه څنګه چې تاسو ملاحظه کړل چې شريعت مثلا د يو مجرم لپاره يو حکم او سزا تعينوي نو جمهوريت هماغه مجرم ته بل حکم او بله سزاء تعيينوي او دا نافذول په

خلکو لازم اوحتمي ګڼي چې ددې منل او غاړه ورته ايښودل او ددې لپاره جدّ او جهد کول دا کفر او ردت دی چې د امت د هيڅ مسلمان پدې کې اختلاف او تردد نه دی ثابت ځکه دا کار د رب حرام حلالوي او د رب حلال حراموي لکه څنګه چې تاسو ملاحظه کړه ، علامه تقي الدين ابن تيمية رحمه الله فرمايي :

والإنسان متى حلل الحرام المجمع عليه ، أو حرم الحلال المجمع عليه ، أو بدل الشرع المجمع عليه ، كان كافرا مرتدا باتفاق الفقهاء.

ژباړه : او انسان چې کله مجمع عليه حلال حرام وګرځوي او يا مجمع عليه حرام حلال و ګرځوي او يا شريعت بدل کړي چې مجمع عليه وي نو دا کس کافر او مرتد دی په اتفاق د فقهاء و مجموع الفتاوی ٢٦٧/٣.

مشهور مفسر علامه محمد أمين الشنقيطي رحمه الله فرمايي: **”و أما النظام الشرعي المخالف لتشريع خالق السماوات والأرض فتحكيمه كفر بخالق السماوات والأرض“**

ژباړه : بهرحال هغه نظام چې عملي شريعت ګرځيدلی وي چې مخالف وي د اسمانونو او د ځمکې د خالق د شريعت څخه نو ددې نظام حاکمول د اسمانونو او د ځمکو په خالق کفر کول دي .

أضواء البيان ٣ ج / ص ٢٦٠ ،

د عمربن عبدالعزيز رحمه الله باره کې د هغې خبرې متعلق چې خلکو ويل هغه په خپل خلافت کې مجرمانو ته له ځان نه سزاګانې تعين کړې وې امام ابن حزم رحمه الله وفرمايل :

”و أتى بعضهم بعظيمة فقال إن عمر بن عبد العزيز قال يحدث للناس أحكام بمقدار ما أحدثوا من الفجور قال أبو محمد هذا من توليد من لا دين له ولو قال

عمر ذلك لكان مرتدا عن الإسلام وقد أعاذه الله تعالى من ذلك وبرأه منه فإنه لا يجيز تبديل أحكام الدين إلا كافر"،

ژباړه : او بعضي خلکو په ډېره لویه خبره راتګ کړی چې وایي عمر بن عبد العزیز رحمه الله ویلي چې خلکو لپاره به د هغوی د ګناهونو په اندازه احکام جوړولی شي ، وایي دا د هغه چا خبرې دي چې هیڅ دین نلري ، که عمر بن عبد العزیز دا خبره کړې وي، نو هغه به مرتد وای ، خو هغه الله جل جلاله له دې څخه ساتلی و ، او له دې نه یې بري کړی و ، ځکه د الله د دین احکام بدلول جایز نه ګڼي مګر کافر انسان .

الإحکام في اصول الأحکام ٦جـ/صـ ١٠٩.

***

د فضل رحمن دوه مخي او منافقت

مخکې فصل کې تاسو ته د مفتي محمود د زوی فضل رحمان او د هغه د ګوند حقیقت او حکم واضح شو چې دا یو مرتد او مشرک رهبر او طاغوتي ګوند دی اوس دې فصل کې راځو او د الله متعال په توفیق لږ د فضل رحمان مرتد دوه مخیتوب او منافقت باندې بحث کوو ترڅو مسلمانان دده له حقیقت او او صافو نه څه خبر شي ، ځکه د دین دداسې دښمنانو حقیقت راښکاره کول ، د هغه ناکاره او مذموم اوصاف بیانول شریعت کې له دې وجهې نه جایز شوي چې مسلمانان یې د دجل نه خبر شي ترڅو یې له خطر اوضرر څخه ځانونه وساتي

نو واورئ فضل رحمان په جمهوریت مین او په طاغوت ایمان لرونکی بلکې خپله ستر طاغوت ، د کرسۍ او اقتدار پسې هغه ببر سری لیونی دی چې د عمر ټولې سپېرې او نامراده ورځې یې د طاغوت په دې لاره کې په سرګردانۍ تیرې کړې دي .

د وطن هر بچې هغه وخت او حال هم ولیده چې په ١٩٩٣ م کې به اخبار کې په غټه سورخي د فضلو جان دا بیانیه راغلې وه چې " اسلام میں عورتوں کی حکمرانی حرام ہے بینظیر کی حکومت کو جائز نہیں مانتے".

خو ملاجان بیا لږې ورځې بعد د بې نظیرې په قدمونو کې داسې ناست وو لکه سپی چې د مالک مخې ته د وفاداری ثبوت پیش کوي او دا هرڅه به یې فقط د یو څو ډالرو په اساس وو ، او کله به یې چې د نوازشریف مخالفت وکړه نو بیا به چې ورته څه وربښې میلاو شوې نو بیا به دا عیب نه وو چې که مریم نواز سره څنګ به څنګ په جلسو او جلوسونو کې راښکاره شي ، دغه معامله یې زرداري او ترننه د ټولو حکمرانانو سره وه ، د هر یوه دروازه کې به یې د عهدې او دراهمو سوالونه کول!

مسلمانانو دده هغه جلسې اوغونډې هم ولیدې چې د **"جهاد افغانستان دفاع پاکستان"** په نوم یې منعقدکولې ، نو ایا کوم بې علمه مسلمان به هم دا تسلیم کړي چې کوم جهاد د پاکستان د کفري قانون د دفاع لپاره وي دا به شرعي جهاد وي؟

نه دا به هرګز هغه جهاد نه وي چې شریعت کې ورته جهاد ویل شوی دی ،بلکې دا د شخصي مفادو او لاس ته راوړنو زیر نظر فتوی او فیصله وه چې فضل رحمان او دده همصفتو کاروله ، د هر چا یاد دي چې دې دوه مخي انسان د افغان طالبانو د حمایت او په افغانستان کې د هغوی وطني جنګ ته د فرض عین او واجب جهاد نوم ورکړی و، ددوی لپاره یې د چاندو او مرستو په نوم کیمپونه خلاص کړي وو ، خو د مخ بل طرف یې دا هم وو چې بیرته یې امریکا ته د طالب خلاف د کراچۍ د سمندر او د شمسي ائیربیز د استعمال په مکتوب مشرف ته د سخطونه وکړل د طورخم په باړېر یې د ناټو په سپلایې کې افغانستان ته ابتداکې د دسخط نه انکار وکړ ، خو

چې کله د امریکې د سفیر سره د ډالرو په سودا جوړ راغی نو بیا د طالب خلاف د ناټو دغه اکمالات نه ګناه وه او نه د فرضي جهاد مخالفت! عجیبه مسلماني ده ، نه د جمهوریت غونډې کفري دین باندې په ایمان راوړلو خرابیږي او نه د کفارو سره په ولاء ، دوستۍ او تعاون!!

***

لږ د أفغاني طالبانو سره

د فضل رحمن د دوه مخۍ او منافقت سره د ژور مناسبت په بنا لږ مختصر مجلس د افغاني طالبانو سره کوو ترڅو ددوی د ردّت او حماقت کچه هم وکتل شي ، د فضل رحمن او دده د ګوند او همصفتو د کړنو په مقابل کې د طالب خاموشي مونږ مجبور کړي چې ووایو طالب خو نوم د هغې بې حیاء او بې پته حشرې دی چې ایماني ننګ او غیرت قطعأ نلري ، پرون ددې فضل رحمان په فتوو او جواز نامو په امریکا بربنډ خرڅېدل خو نن هغوی دا منافق خپل روحاني پلار ګڼي ، لاسونه اوتندی یې ښکلوي! هو ولې به یې نه ښکلوي بلکې حق لري چې ښکل یې کړي ځکه نه ترېنه په عقیده او منهج کې مخالف دي او نه ترې په کفر او ردت کې شاته پاتې دي .

که فضل رحمن د جمهوریت او لاړې میکالي د قانون منونکی ، په هغې ایمان لرونکی او په دغه لار کې جنګېدونکی دی نو افغاني طالبان هم څه د اسلامي د نظام نه بلکې د جمهوریت نه په څو چنده د خطرناک کفري نظام نافذونکي ، حمایت کونکي او په هغې ایمان لرونکي دي!

که په ضد او خلاف یې د فضل رحمان په فتوو پرون د طورخم په دروازه دناټو حربي اکمالات را روان وو او یایي په پاکستان کې ورته د سفیر نه قمیص او پرتوګ ویسته او په امریکا یې بربنډ پلوره نو هغه کېسه پرونۍ وه پرون ختمه شوه ، هغه غم پرونی وو پرون تېرشو!!

کېسه سره شوه او غم یې هیر شو!! ددوی په نزد هغه ډېر کم عقل وي چې دتېرو ګوزارونو جوابونه ورکوي څه چل وشو که پرون یې امریکا دشمنه وه او فضل رحمان یې مخالف وو نن دا دی نه امریکا دشمنه ده او نه فضل رحمان مخالف دی دوی به د کوم ، کوم څه پوښتنه کوي د ملاعمر په مرموز ډول د قتلولو پوښتنه وکړي او که د اخترمنصور ؟ هغه میلونونه ، میلونونه افغانان راپاد کړي د هغې پوښتنه وکړي چې امریکا د پاکستان په تعاون بمبار کړل او په بې رحمۍ یې قتل کړل او که خپل جنګیالي راپاد کړي چې د افغانستان د ارګ او چوکۍ لپاره یې د " خسر الدنیا والآخرة " جامونه نوش کړل؟

په هر صورت همغه فضل الرحمان چې پرون یې په افغانستان د بمبار لپاره د امریکایي ډرونونو په اجازت نامه لاسلیک کاوه ، همغه فضل الرحمان چې د ناټو د اکمال جواز یې ورکاوه همغه فضل الرحمان چې د همده په فتوه او اجازه د پاکستان بري او بحري اډې پاکستان امریکا ته حواله کړې ، هغه فضل الرحمان چې په جمهوریت ایمان لري او ستر طاغوت دی ، طالب ملېشې یې اوس هم د خپل مربي او استاد او بادار په حیث پیژني او مني یې ، کابل ته یې راوبلله ، دلته یې ورته خه استقبال وکړ او سیاسي لوبو په دې انډوخر کې یې د خلکو د اذهانو د مصروف ساتلو او بدلولو په خاطر یې مختلفې کتنې ، مجلسونه او څرګندونې درلودې .

***

د پاکستان تحریکیان او فضل رحمان

لکه څنګه تعجب او افسوس چې په حال د افغاني طالبانو پکار دی دومره او یا له دې څخه زیات د پاکستاني تحریک طالبانو په حال پکار دی ځکه مخکې فصلونو کې مونږ دا خبره ثابته کړه چې د فضل رحمن او دده د ګوند منشور او عقیده داده چې د پاکستان د فوج ، پولیس او ای ایس ای اداره ، د دوی نافذکړده قانون او جمهوریت دا دوی ته له هرڅه نه مکرم او محترم دي د فوج او آیین څومره وفادار چې فضل رحمن دی دومره به د بل یو تنظیم رهبر هم نه وي!

د ۲۰۱۹م کال د فروري میاشت په ۲۷ نیټه یې د پاکستان د ناپاک مرتد فوج مدح او هغوی سره دوی محبت اظهار متعلق بیانیه نشرکړه وایي " غیرت مند اور بہادر افواج اپنے گھر میں داخل ہونے والوں کا جواب یوں ہی دیا کرتی ہیں ، جمعیت علماء اسلام پاکستان کا ہر کارکن وطن عزیز کے دفاع کے لئے اپنی افواج کے شانہ بشانہ کھڑا ہے اور ملک کے ایک ایک انچ کی حفاظت کرنے کو ہر دم تیار ہے "

ژباړه : غیرتي او زړور پوځونه خپل کور ته راتلونکو یرغلګرو ته همداسې ځواب ورکوي ، د جمعیت علماء اسلام پاکستان هر کارمند د ګران هیواد د دفاع په پار د خپل پوځ سره اوږه په اوږه ولاړ دی او د هیواد د یو یو انچ ساتنې لپاره هر مهال تیار دی.!!

دغه ډول د ۲۰۱۸م کال د جنوري میاشت په ۱۶ نیټه یې دا بیانیه نشر کړه : پوری قوم سرزمین پاک کی حفاظت میں اپنی فوج

کې شانه بشانه کھڑی ہے
ژباړه: ټول قوم د خاورې
د دفاع په خاطر خپل پوځ
سره اوږه په اوږه ولاړ دی ،
همدغه رنګ ۲۰۲۰ م کال د
مئ په اتمه نېټه باندې
یې د خپل ګوند په رسمي
ټیوټر پاڼه لیکلي نشر کړل
"دہشتگرد عناصر اس طرح
کی کاروائیوں سے افواج
پاکستان کے جوانوں کے
حوصلے پست نہیں کر
سکتے .
"مولانا فضل الرحمن"
بیا لیکي "پاک فوج کے
جوانوں کی قربانیوں کے
بدولت آج پوری قوم امن
سے رہ رہی ہے، "مولانا
فضل الرحمن"
ژباړه: ترهګري کړې
پدغه شان بریدونو سره د
پاکستاني پوځیانو حوصلي
نشي ټیټولای ، د پاک پوځ
د قربانیو له برکته نن ټول
قوم په امن سره اوسیږي .
د جمهوریت او فوج سره
یې محبت ، دفاع او د زړه
له کومې ددې ناپاک فوج
سره د ولاء دا صورت وګورئ
چې حتی ددې خلاف یې
جهاد چې شرعي حکم د رب
العالمین دی دا یې هم حرام
وګرځاوه والعیاذبالله تعالی
، "د جمعیت د ګوند د شوری
غړي قاري محمد عثمان
داګست د میاشتې په پنځمه
نېټه په خپله رسمي ټویټر
پاڼه نشرکړل چې:
"مولانا فضل الرحمٰن نے
پاکستان کے تمام مکاتب
فکر کے چوٹی کے اکابرین
کو جمع کرکے ملک میں
مسلح جدوجہد کو حرام
قرار دینے کا مسودہ تحریر
کرکے دہشت گردی کے
خلاف اعلان جنگ کیا آپ
پاکستان کیلئے اللہ تعالی
کی نعمت ہیں"
قاری محمد عثمان
ژباړه : فضل الرحمن د
پاکستان د ټولو مسلکونو
ستر مشران راجمع کولو
په نتیجه کې د مسلح
جدوجهد د حراموالي مسوده
(لیکلي فتوی صادرولو)
سره د ترهګری (جهاد) په
خلاف د جنګ اعلان وکړ ،
آیا هغه د پاکستان لپاره د
الله تعالی نعمت نه دی؟
د ۲۰۲۲ م کال د اکتوبر په
اوومه نېټه خپله فضل
الرحمن هم دا وویل : جے
یو آئی نے تمام مکاتب
فکر کو ایک پلیٹ فارم پر
اکٹھا کرکے دہشت گردی
کے خلاف فتوی دیا ،
مولانا فضل الرحمان ژباړه
: جمعیت علماء اسلام (JUI)
ټول مسلکونه په یو دریځ
راجمع کړل او د ترهګری
پرضدیې فتوه ورکړه.
د جمعیت علماء اسلام د
ګوند عمومي ناظم حیدري
وایي : اوسني دور کې جهاد
جایز ندی دا د علماؤ متفقه
پریکړه ده .
او د فضل الرحمن دا فتوی
مو مخکې ملاحظه کړه
چې وایي د اسلحې سیاست
کونکی مجاهد د دین او
شریعت ساتونکی نشي
کیدای .
لاحول ولاقوة الا بالله ، دا
د فضل رحمن د فوج نه د
دفاع او د هغوی سره یې د
خپل طرف نه د صادقانه
ولاء او دوستي اظهارات
دي چې په خپل اقرار او
اعتراف یې په هوش او
هواس سره رسمي په خپلو
جلسو او ټویټرونو کې نشر
کړي چې خلاصه یې دا
شوه :

۱: د فضلو دا عقیده ده چې
د پاکستان فوج او حکومت
سره جهاد حرام دی!

۲: فضلو او د هغه ګوند د
پاکستان د فوج ملاتړی او د
هغوی سره اوږه په اوږه ولاړ
دی!

۳: فضلو وایي د ټوپک او
اسلحې په زور اقتدار لاس
ته راوړل او ددې مطالبه
غلطه ده!

۴: فضلو وایي د فوج او
حکومت مخالفین ترهګر
دي!

۵: فضلو وایي دغه فوج
بهادر او غیرتي! فوج دی!!

۶: فضلو وایي د فوج
قرباني ده چې قوم په امن
وخت تیرروي!

۷: فضلو او دده د ګوند
جمعیت عملاء هر فرد د
فوج سره ولاړ دی!

۸: فضلو او دده ګوند د
جمهوریت غوښتونکی او
مطالبه کونکی دی!

۹: د فضلو او دده د ګوند
ټول کوشش دا دی چې د
پاکستان د ایین دفاع وکړئ
او خپله مذهبي طبقه ټوله
ددې قانون سره ودروي!

۱۰ : فضلو او دده ګوند په
پاکستان کې صرف د لارډ
میکالي د قانون حاکمیت او
غلبه غواړي فقط!!

نو چې کله د یو چا دا
عقیده وي هغه مسلمان
کیدی شي؟ هغه خپل رهبر
او مقتدا تعینول جایز دي؟
نه بلکل نه! بلکې د اسلام
د مبارک سپیڅلي شریعت
له مخې د هغه حکم د مرتد
دی چې څټ وهل یې د الله
د تقرب ذریعه ده رسول الله
صلی الله علیه وسلم فرمایي
: من بدل دینه فاقتلوه ژباړه
: چاچې خپل دین بدل کړ
بس هغه قتل کړئ ،
نو فضل رحمان او د هغه
ګوند خپل دین اسلام په
جمهوریت او لارډ میکالي
قانون بدل کړی دی چې
پدې سره د الله له دین
څخه مرتدګرځیدلي دي .

نو أی د تحریک کشرانو!!

پورته فصل کې د فضلو
د سیرت سیئه نه به د
تحریک طالبان پاکستان
د ملایانو او مفتیانو په
حال هم د افسوس ضرورت
محسوس شوی وي، ځکه
هغوی هم د نورو طواغیتو
غوندې فضلو خان ته هم
ډیره ستره مرتبه ورکړې
نو په دې اساس د تحریک
ناخبره او یا دوکه شوي
کشرانو ته په اخلاص
سره ددوی خیرخواهي په
ځان لازمه ګڼو ، نو دوی
دې بغیر له عناد او ضد
څخه دا واوري چې مونږ
تاسوته دادی بالدلیل د فضلو

ملاګوتي لس هغه کفريات د هغه په خپل اعتراف او اقرار سره پېش کړل، چې موصوف په فخر سره اوس هم په دې موقف او اعتقاد باندې کلک ولاړ دی چې يو انچ هم دې نه نه تېرېږي .

دې هرڅه باوجود دغه د ناپاک فوج سره دغه ناپاک انسان بيا ستاسو مشران او مفتيان خپل مشر او بادار ګڼي خو دوه پسنديه اوغيرتي فوج بيا دا دی ستاسو ډېرى جنګيالي مړه او زخميان کړل او ډېر يې درڅخه اسيران کړي چې خپلو زندانونو کې يې د سختو ناوړه تعذيباتو لاندې نيولي تاسو ته دې باب کې څه علم شته ، خوسره له دې بياهم ددې فوج وفادار او د هغوی سره اوږه په اوږه ولاړ د جمعيت دغه احمق المطاع فضل رحمان ستاسو مشرانو ته محترم او مکرم دی ، پدې موکله فکر کړی چې دا راز څه دی؟ او ايا که تاسو د شريعت لپاره ريښتيا جنګيږئ نو ستاسو مخالف فوج او پوليس خو د جمهوريت لپاره جنګيږي چې دغه جمهوريت د شريعت مقابل کې خپل مستقل قانون لري چې مخکې فصلونو کې مو دا ثابته کړې نو معلومه شوه چې جمهوريت او موجوده نافذ اييين او قانون د کفر پرته بل هيڅ نه دی ، خو بل طرف بيا تاسو څه په غټو غټو ګورئ او اورئ چې ددې کفر سره ملا فضلو اوږه په اوږه ولاړ دی .

نولږ راويښ شئ د خپل اخرت لپاره سوچ وکړئ چې د چا په قيادت کې او د کوم بيرغ د سيوري لاندې جنګيږئ لږ مو خير دی د خپلو مفتيانو او مشرانو نه دې باره کې وپوښتئ چې د کافر سره ولاړه کفر دی کنه؟ که کفر وي او يقيني کفر دی نو بيا فضلو ، دده ګوند او همصفته ولې کافر نه ګڼي؟

ځکه کافر ته کافر نه ويل دا خپله کفر دی ځکه دا د الله او د هغه د شريعت تکذيب کول دي ، الله ورته کافر وايي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته کافر وايي ، اجماع د امت ورته کافر وايي او تاسو يې مسلمان او حتى چې خپل رهبر او مشر يې ګڼئ دا ولې؟ او که دا کار کفر نه وي نو بيا خو د فضلو صفت په فوج کې او پوليسو کې هم دی ځکه هغوی هم د جمهوريت ساتونکي او نافذونکي دي او فضلو هم ،نو بيا څنګه فوج او پوليس وژل رواه ګڼئ او د فضلو د ګوند په افرادو چې مردار شي ژړاګانې کوئ دا ولې او وجه څه ده ؟ دا تري هم وپوښتئ چې د پاکستان د فوج ملاتړی ګوند چې باجوړ کې د خلافت د مؤمنو مجاهدو د خونړي برید هدف وګرځېده چې په لسګونه مرتدين يې د لمبوخوراک کړل نو تاسو بيا ولې لکه د جاهليت د بوډۍ ګانو ويرونه کول او د هغوی سره موخپله غم شريکي ښکاره کوله اخر ولې؟ انا لله وانا اليه راجعون ، که تاسو په اخلاص سره د الله نه د حق جماعت سره د ودرېدو دعا وغواړئ او خپل اخرت ته فکر مند شئ نو موږ د خپل رب نه پوره اميد لرو چې د خپلو مشرانو او مفتيانو نه به ددې څو پوښتنو د جواب اورېدو سره سم او فورا د خلافت اسلامي د حق جماعت سره يوځای شئ ، ځکه الله متعال فرمايي : وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ.

ژباړه : او هغه خلک چې هغوی زموږ د رضا په خاطر جهاد کوي ، هغو ته به مونږ خپلو لارو باندې تلل ورنصيب کړو او په باوري ډول الله د نېکوکارانو ملګرى دی .

چې د رب ددې هدايت سره سم به خپله وينه او خوله صرف او صرف د الله د نظام د حاکميت لپاره تويه کړي ، داسې چې مقصود د جهاد به مو په ټوله ځمکه بغير د وطنيت ، قوميت او وضعي کفري حدودو د منلو نه ، د يو امير ، يو بيرغ او يو جماعت لاندې د شرعي نظام تحکيم وي ، فقط وماذلک على الله بعزيز .

أی د تحريک جنګياليه! ته معذور نه يې!

ای د تحريک کشرخيلو! په ريښتيا ته ددې جوګه نه ياستئ چې پدې واضحو خبرو کې فکر وکړئ او پدې وپوهيږئ چې ته د يو ړوند بيرغ لاندې د طاغوت د حاکميت لپاره د طاغوت په لاره کې جنګيږې؟ ستا رهبران دا دی برملا فضل رحمان مرتد او تقي عثماني مرتد ته نه صرف په احترام او مشرى قايل دي، بلکې د هغوی په رګونو کې د جمهوريت او لاړې ميکالي د قانون وينه چليږي او په زړونو کې يې د هغې مينه ځکول شوي ، ستا مشران او قايدين د امارت د مرتدو طالبانو کلک طرفدار او معاونين دي بلکې هغوی خپل قايدين ګڼي سره له دې چې د هغوی کفر ، ردت ، د حربي کفارو او مشرکانو سره يې د اسلام او مسلمانانو مقابل کې ولاء او دوستي د فضل رحمان نه کمه نه ده.

تاسو دا هم وکتل هغه جنګ ته چې ستاسو مشرانو د جهاد نوم ورکړی! نه يوائې ددغه فضل رحمان په نزد ترهګري او د ناکامى سره مخ عمل دی او نه صرف فضل رحمان په هرځای اوهره جلسه کې ددې مقابل کې د فوج حوصله ورزياتوي او ملاتړ يې ښکاره کوي او د تحريک

د لاسه مړه شوي مرتد فوجیان شهیدان یادوي ، د جنت الفردوس دعاوي ورته کوي او زخمیانو ته یې د عاجلې شفا غوښتنه کوي ، خو بل طرف دادي ددې نه زیات ملاهیبتوف او د هغه امارت وطني هم خپل رسمي دریځ اعلان کړ چې پاکستان کې د پاکستان حکومت خلاف جنګ کول دا جنګ دی جهاد نه دی!! په خوست کابل ننګرهار وغیره منطقوکې یې د پاکستان په اشارو ځومره ستاسو تحریکیان په ډرونونو ، چیریکي عملیاتو او په خخ شویو ماینونو له مخې لرې کړل ، بلکې قونصل حافظ محب الله یې هروخت همدا چغې وهي چې د پاکستان د حکومت خلاف جنګ جهاد نه دی بلکې فساد دی او د قندهار نه راغلي صوفیان چې د ای ایس ای سره کومې پرېکړې کوي دا څه پټې او وړې خبرې دي؟ نو چې کله تاسو دا هرڅه وینئ او اورئ او بیا هم د مشرانو ړوند تقلیدکوئ! نو دا قسم بالله العظیم عذر نه دی بلکې دا عناد دی چې د حق مقابل کې یې کوئ.

ځکه خو تعجب او افسوس راشي چې د تحریک په پلګي کې ترننه یو هم لږ د عقل او فراست والا داسې جنګیالی پیدا نشو چې د خپل اخرت د غم په پار لږ د خپلو مفتیانو نه وپوښتي د هغه چاسره چې مونږ جهاد شروع کړی هغوی ته فضلو جان قهرمانان او غیرتي ځوانان وایي د هغوی ملا ورتړي ، کلک ورسره اوږه په اوږه ولاړ دی او په خلاف یې زمونږ جهاد حرام ګرځولی دی ، نو تاسو ځنګه او په کوم دلیل ده ته مسلمان وایې او خپل رهبر یې ګڼئ؟ هغه ځوک چې زمونږ جهاد ته جنګ وایي او زمونږ خلاف د پاکستان سره ترونونه کوي ، رسمي فتوې په حرمت د جهاد اعلانوي او په مرموز شکل راته جنګیالي او مشران په کابل وغیره سیمو کې په قتل ورسول تاسو بیا هم هغوی خپل قایدین ګڼئ دا ولې او په کوم دلیل!؟ ایا هغوی په افغانستان کې د دریم کال تر برابرېدو ترننه کوم حکم د شریعت نافذ کړ؟ چې نه نو اخر وجه یې څه ده؟ حکمت څه دی؟ او د الله د شریعت حکم څه دی؟ والله جواب نشته ستا د مشرانو سره مګر هسې تلبیس ،نو که تاسو په ریښتیا پدې نوم جنګوي چې د الله شریعت راولو اګر چې دا خو د تحریک د منشور او نظریې نه دومره بعیده ده لکه مشرق چې د مغرب نه لرې دی ځکه دا څوغتې غټ مرکزي عقاید تاسو د خپل تحریک او ددې د مشرانو وینئ

۱: فقط وطنیت لپاره جنګیدل .

۲: قومیت ته ترجیح ورکول.

۳:مذهبي تعصب.

۴: د نړۍ د کفارو سره دولاء اظهار.

۵: د کفارو بین المللي محکمې ته درخواستونه .

٦: مرتد او کافر ته مرتد او کافر نه ویل.

۷: ترننه په تحت التسلط منطقه کې شریعت نه نافذول .

۸: په عسکري او ملکي کافر کې فرق کول وغیره .

۹: د ټولو حربي کافرو ساتونکو او دوستانو د طالب ملېشو سره په بیعت کې پاتې کیدل .

دا ټول هغه کارونه او معتقدات دي چې قطعاً د اسلام او اسلامي نظام سره نه جمع کیږي خو څه بالفرض که په کومه درواغجنه طمعه او امید یې لکه د افغاني طالبانو د کشرانو په تیاره کې ساتلي یاست، نو بیا درته افغاني امارت در په ګوته کوو هلته کوم دی شریعت، هلته کوم دی اسلامي نظام! دا ټولې د تحقیق لارې او د حق د معرفت د درک کولو هغه اسباب دي چې ستاسو مخې ته اوږي راوړي او تاسو ددې په تحقیق نه کولو کې هیڅ قسم ممانعت او عذر نلرئ

أی د پاکستان مسلمان ولسه!

په اخر کې عام مسلمانان او د پاکستان مسلمان ولس خاص په یوه مختصره خیرخواهۍ مخاطب کوو هغه دا : هرهغه څوک چې د اسلام دعوی کوي، د رب په وحدانیت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت شاهدي ورکوي نو هغه ته پکاردي چې پدې اقرار او ګواهۍ تر اخري سلګو کلک او ولاړ پاتې شي، په هیڅ وخت او صورت کې د الله تعالی سره په دې کړي عهد کې نقض رانه ولي او دا هغه وخت کیدای شي چې انسان د توحید په جمله أقسامو کې د الله تعالی سره شریک ونه نیسي، مونږ مخکې په دلایلو دا ثابته کړه چې انتخابات د الله تعالی سره په حاکمیت او ربوبیت بلکې د توحید په جمله أقساموکې شرک کول دي، نو لهذا تاسو کې هر د اخرت غم کونکی او د خپل رب سره په ملاقات یقین لرونکی دې پدې ګنده شرک ځان ککړ نه کړي ځکه دا د شیطان او طاغوت لار او په هغه ایمان راوړل دي او حال دا چې مؤمن بنده ته الله متعال په طاغوت د کفر کولو امر کړی دی، رب متعال په سورة البقرة٢٥٦ نمبر ایت کې فرمایي :

فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ .

ژباړه: نو پس چا که په طاغوت کفر وکړ او پر الله یې ایمان راوړ نویقینا هغه یوه داسې کلکه کړۍ ونیوله، چې هېڅکله ماتېدونکې نده، او الله د هر څه اورېدونکی او پر هرڅه پوهېدونکی دی، علامه جمال الدین قاسمي رحمه الله فرمایي :

” ولا شك أن الإيمان بالطاغوت كفر بالله كما أن الكفر بالطاغوت إيمان بالله“

ژباړه: او دې کې شک نشته چې په طاغوت ایمان راوړل په الله جل جلاله کفر کول دي، لکه څنګه چې په طاغوت کفر، په الله ایمان لرل دي، تفسیرالقاسمي ج ٣ ص١٩٥،

شیخ سلیمان بن عبد الله آل الشیخ رحمه الله فرمایي : فمن لم يكفر بالطاغوت لم يؤمن بالله ژباړه: چا چې په طاغوت کفر ونه کړ، هغه په الله ایمان نه دی راوړی، تیسیر العزیز الحمید في شرح كتاب التوحيد ج١ / ص ١٤٨.

***

په طاغوت کفر کول څه ته وایي؟

دا چې طاغوت د یو باطل معبود اوګمراه کونکي أمیر

او مفتي نوم دی او دغه معنا په فضل رحمان ، د هغه په همصفتو ، د جمهوریت په اقتدار ، د هغې په قانون او حاکم کې پوره موجودیږي ، نو له دې کبله شریعت کې د الله متعال له لوري په ایمان لرونکو بنده ګانو ددې نه د اجتناب او پدې ورته د کفر کولو أمرشوی دی په طاغوت کفر کول څه ته وایي : نو علامه شیخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب رحمه الله ددې متعلق فرمايي : **فأما صفة الكفر بالطاغوت فهو أن تعتقد بطلانها ، وتتركها وتبغضها ، وتكفر أهلها ، وتعاديهم.**

ژباړه : بهرحال کوم چې د کفر بالطاغوت صورت دی نو هغه دا دی چې د هغې د باطل والي عقیده به جوړوې بیا به یې پرېږدې ، بغض به ورسره کوې ، أهل به یې کافر ګڼې او دشمني به ورسره کوې . ځکه بعضې خلک طاغوت ته کفر وایي خو جداکیږي ترې نه او که جداشي نو بغض ورسره نه کوي او که بغض ورسره هم وکړي نو أهل یې کافر نه ګڼي او که کافر یې هم وګڼي نو دشمني ورسره نه کوي نو چې یو هم پدې أمورو کې کم شي نو دا کفر بالطاغوت نه دی بس داسې وګڼئ چې دا د کفر بالطاغوت أرکان دي ترڅو چې دغه ټول أرکان ثابت نشي نو کفر بالطاغوت نه ثابتیږي او د کفر بالطاغوت دغه ټول ارکان په قران کې ذکر شوي دي .

الغرض : طاغوت کفر ګڼل ، د هغې نه برأت کول ، هغه پرېښودل ، د هغې أهل کافر ګڼل او د هغوی سره عداوت کول یو د مؤمن د مهمو وجیبو او فریضو څخه ده چې ددې هدف او مقصود لپاره الله متعال جمله انبیاء رالیږلي الله متعال په سورة النحل ۳٦ نمبر ایت کریمه کې فرمایي :

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّٰغُوتَ فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُم مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَٰلَةُ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ.

ژباړه : او یقینا مونږ په هر أُمت کې یو پیغمبر لیږلی ددې لپاره چې خلکوته امر وکړي چې تاسو صرف د الله بندګي وکړئ او د طاغوت له بندګۍ څخه ځان وژغورئ ، نو وروسته له هغو څخه چا ته الله لار وښودله او پر چا ګمراهي مسلطه شوه ، نو په ځمکه کې وګرځئ راوګرځئ ، وګورئ چې درواغ ګڼونکي له کوم برخلیك سره مخامخ شول.

دغه ډول په سُورَةُ النِّسَاء ٦٠ نمبر ایت کې فرمایي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا إِلَى الطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا أَن يَكْفُرُوا بِهِۦ وَيُرِيدُ الشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًا بَعِيدًا .

ژباړه : ایا تا نه ګورې ای نبي هغو خلکو ته چې هغوی دا دعوه کوي چې : مونږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي دي ایمان راوړی دی؟ خو غواړي چې خپلې لانجې د فیصلې دپاره طاغوت ته پېش کړي ، حال دا دی چې هغوی ته أمر کړی شوی دالله له لوري دا چې دوی په هغه یعنې طاغوت کفر وکړي خو شیطان غواړي چې هغوی ګمراه کړي په ګمراهۍ لرې سره دحق نه ، ددې ایت په تفسیر کې جمله مفسرینو په خپلو تفاسیروکې ددې د نزول متعلق روایت نقل کړی حتی سمعاني رحمه الله ور ته اصح ویلی ،

د بشر په نوم یو منافق وو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مقابل کې یې عمر رضي الله عنه ته فیصله وړې وه نو عمر توره را واخسته او د منافق نه یې ورباندې څټ ووهلو تردې چې مړشو چې بیا دې باره کې د سورة النساء دغه ایاتونه نازل شول ، تفسیر السمعاني ۱/۴۴۱ تفسیر القرطبي ٥/۲٦٤ ، نومسلمانو فکر وکړئ څومره د تعجب مقام دی نن چې یوکس د نبي صلی الله علیه په مقابل کې عمر رضي الله عنه ته فیصلې وړي د هغه وینه مباح ګرځي نو چې کله د لارډ میکالی کافر قانون د نفاذ او قیام او د هغې د محکمې د استحکام لپاره کوشش کوي او په هغې رضا شکاره کوي نو دا به څنګه د ایمان نه خلاص او د مرګ لایق نه وي بس خلاصه بیا واورئ چې تاسو ددې سبب نه شئ چې ستاسو د کوششو په سبب یو طاغوت حاکم او طاغوتي محکمه قایمه شي ځکه ووټونه د طاغوت لاره ده او پدې نه حاکمیږي مګر طاغوت او د طاغوت په لاره کې منډې او هلې ځلې دا په طاغوت ایمان او د هغه په لارکې جنګ کول دي چې الله متعال داسې خلکو ته کافر ویلي .

نو لهذا ددې نه اجتناب وکړئ او ځانونه ترې لرې وساتئ ترڅو خپل دین او ایمان د ضیاع او بربادۍ نه بچ وساتئ او د خپل رب سره په کلمه کې په کړي عهد ثابت پاتې شئ ،

وبالله تعالی التوفیق وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه وسلم .

***

ابــــرارو تــه زيــرى

او اشــــرارو تــه انــذار

الحمد لله القوي المتين والصلاة والسلام على من بعث بالسيف رحمة للعالمين أما بعد.

قال الله تعالى: يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا قَٰتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ [سُورَةُ التَّوبَة : 123]

عزتمندو مسلمانانو ورونو!

شاید ډیری خلکو سره دا سوال وي چې د اسلامي دولت مجاهدین ولې شیعه ، روافض د خپلو عملیاتو هدف ګرځوي او د هغوی ښارونه یې ورته په هدیرو بدل کړل ؟

او هره ورځ د نورو کفارو او مرتدینو ترڅنګ شیعه روافض د اسلامي دولت د استشهادي بریدونو سره مخامخ کیږي.

او یا به ډیری خلک د رافضي مشرکینو سره د طالب مرتدینو دوستی راشه درشه د دوی ساتنې او پالنې ته ګوري او د دوی په اړه به د طالب مشرکینو احساساتو او تبلیغاتو ته ګوري او ترینه به متاثره وي ،روافض به ورته مسلمانان ښکاري او د دوی تکیه خانې او د شرکي مراسمو د ترسراوي هډې به ورته مساجد ښکاري ، نو داسې خلک به ډیر له اسلامه ناخبره او یا د طالب په څیر د وطني ګټو او نورو ملاحظو په خاطر داسې فکر کوي .

راځئ تاسې په دې مقاله کې ولولئ چې روافض څوک دي او ولې زموږ د تندریزو بریدونو هدف دي .

دا واورئ ، چې زموږ د عملیاتو د شدت معیار او زموږ سخته دښمني په کفارو او مرتدینو کې په هغه چا ډیره متمرکزه ده ،چې هغوی د الله او رسول او د مؤمنانو په دښمنۍ کې شدت کوي او د هغوی په اهانت او سپکوالي یې مجلسونه اباد کړي وي، موږ ته خپل رب په همدې خبره امر کړی: **يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا قَٰتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ** [سُورَةُ التَّوبَة : 123]

ژباړه: اې مؤمنانو! د حق له هغو منکرانو سره وجنګیږئ چې تاسې ته نیږدې دي؛ او باید هغوی په تاسې کښې سختي او شدت ومومي؛ او وپوهیږئ چې الله د پرهېزګارانو ، تقوادارو ملګری دی.

د روافضو په باب د شدت او سخت دریځۍ دا عقیده کومه نوی خبره نده چې خیر د اسلامی دولت مجاهدینو درک کړې او مخکې له دې په دی باب چا څرګندونې نه دي کړې، بلکې هر قرن کې د دین اسلام امامانو او اهل علمو او د عقل او بصیرت خاوندانو د ددې خبرې درک کړې چې روافض په نړۍ کې تر ټولو سخت دریځه مرتدین دي ، د ارتداد او کفر دلائل یې څرګند دي.

په تاریخ کې دوی د قران کریم، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم، او د صحابه

کرمو په مقابل کې هغه څه وکړل چې تر دمخه یې نورو کفارو نه وو کړي، چې د هغې له جملې څخه :

ـ **اول:** دوی د قران کریم د تنقیص عقیده لري چې دا ناقص کتاب دی والعیاذ بالله او همدا عقیده دوی په ممبرونو د عامو خلکو په فکرونو کې اچوي چې د داسې عقیدې خاوندان په اتفاق د امت سره له دین څخه وتلي مرتدین دي

د دوی د نورو مشرانو او شیخانو په شمول یې نوري المالکي یې په سټېج د تولې نرۍ په مخکې د قرآن کریم د تنقیص اعتراف وکړ او د دوی کتابونه د دې عقیدې څخه ډک دي تاسې وګورئ (کتاب الإرشاد ص365) همدارنګه (الأنوار النعمانية د نعمة الله الجزائري ج2 ص360) او د دوی د دغه اعترافاتو په اړه د العزائم خپرندویه اداري اړوند نشر شوې ویډیوګانې وګورئ .

دویم: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اهانت او سپکوالي څخه د دوی کتابونه ډک دي کله وایي جبریل علیه الصلاة والسلام غلط شوی دی او د علي رضي الله عنه پر ځای یې نبي صلی الله علیه وسلم ته وحي راوړې والعیاذ بالله

حال دا چې داسې عقاید درلودل د امت مسلمه په نیز د ایمان اتفاقي ناقض دی ، ځکه دا عقیده د نبي صلی الله علیه وسلم د رسالت څخه په انکار راڅرخي.

دریم: دوی صحابه کرامو ته د کفر نسبت کوي او تر څنګ یې د هغوی اهانت ، په هغوی طعن او لعن ویل له هیچا څخه پټ ندي که مو نه وي لیدلي سترګې او غوږونه مو خلاص کړئ نن یې وګورئ او واورئ!

چې دا د دوی همیشنی عادت دی، چې حتی په ممبرونو او محفلونو کې یې په اجتماعي شکل په صحابه کرامو باندې لعن او طعن وایي او صحابه کرامو ته کنځل او د هغوی پسې مسخرې کوي.

وګورئ د دوی کتابونه (بحار الأنوار ج40 ص2 بيروت چاپ) او (الصراط المستقيم د نباطي(ج3 ص23، 35).

ـ **څلورم:** دوی عائشې رضی الله عنها ته د زنا نسبت کوي والعیاذ بالله او دا د دوی پیشه ګرځیدلې، هغه عائشه چې د مؤمنانو مور ګڼل کیږي او په عفت او پاکدامنۍ یې رب ایاتونه نازل کړي

وګورئ د دوی کتابونه (بحار الأنوار ج40 ص2 بيروت چاپ) او (الصراط المستقيم د نباطي(ج3 ص23، 35).

ـ **پنځم:** د شرکیاتو جالی په

همدوی کې موجودي دي ،د یا علي مدد شرکي نارو ترڅنګ یې ورځ او شپه په قبر پرستۍ، شیخ پرستۍ او نورو شرکیاتو او کفریاتو کې تیریږي

ـ **شپږم:** دا چې د اهل السنت والجماعت د مؤمنانو وینې دوی حلالې ګڼي که نه د دوی کتابونه وګورئ چې خپلو امامانو یې ورته د اهل السنت والجماعت د سنیانو د وینو د اباحت فتوی ورکړې

د دوی په مشهور کتاب (علل الشرایع (ص601) کې ذکر دي چې د خپل امام نه پوښتنه کوي :

عن داود بن فرقدٍ قال: قُلتُ لأبي عَبدِ اللهِ علیه السَّلامُ: ما تقولُ في قَتلِ النَّاصِبِ؟ قال: حَلالُ الدَّمِ، ولكِنِّي أتَّقي عليك، فإن قَدرتَ أن تَقلِبَ عليه حائِطًا أو تُغرِقَه في ماءٍ لكي لا يشهَدَ به عليك فافعَلْ.

ژباړه: د داود بن فرقد نه نقل کوي، هغه وایي ما ابو عبد الله علیه السلام ته ووېل چې ته د سنیانو د مرګ باره کې څه وایې؟ هغه ووېل: وینه یې حلاله ده خو زه په تا ویریږم که ته قادر شوې، چې دیوال وربانډې راچپه کړې یا یې اوبو کې غرق کړې نو دا کار وکړه دي لپاره چې څوک دربانډې خبر نشي!

نو همدا پورته ټول عقائد او اعمال د دوی د کفر او ارتداد دلائل ګرځېدلي چې د امة مسلمه امامانو، فقهاؤ او علماؤ دوی ته کفار او مرتدین ویلي چې د نمونې په طور یې یو څو اقوالو ته اشاره کوو:

شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله فرمایي: **أَمَّا مَنْ اقْتَرَنَ بِسَبِّهِ دَعْوَى أَنَّ عَلِيًّا إلَهٌ أَوْ أَنَّهُ كَانَ هُوَ النَّبِيُّ وَ إِنَّمَا غَلِطَ جِبْرِيلُ فِي الرِّسَالَةِ فَهَذَا لَا شَكَّ فِي كُفْرِهِ بَلْ لَا شَكَّ فِي كُفْرِ مَنْ تَوَقَّفَ فِي تَكْفِيرِهِ .** [الصارم المسلول ١-/ ٥٩]

ژباړه : او چا چې د خپلو کنځلو سره دا دعوه هم ملګرې کړه چې علي رضي الله عنه اله دی، یا هغه نبي دی او جبریل علیه السلام په پیغام راوړلو کې خطاء شوی دی نو دا بې له شکه کافر دی، بلکې د هغه چا په کفر کې هم شک نشته چې د داسې خلکو په کفر کې شک او توقف کوي.

امام طحاوي رحمه الله فرمایي: **وَلَا نَذْكُرُهُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ، وَحُبُّهُمْ: دِينٌ، وَإِيمَانٌ، وَإِحْسَانٌ، وَبُغْضُهُمْ: كُفْرٌ، وَنِفَاقٌ، وَطُغْيَانٌ** [العقيدة الطحاوية مع شرحها لابن أبي العز ص ـ ٦٨٩]

ژباړه: او مونږ صحابه نه یادوو مګر په خیر سره او د صحابه ؤ سره محبت او مینه کول دین، ایمان او احسان دی او صحابه ؤ سره بغض او کینه ساتل کفر، منافقت او سرکښي ده.

إمام ابن حزم رحمه الله وایي : **وَأَمَّا قَوْلُهُمْ -يَعْنِي النَّصَارَى- فِي دَعْوَى الرَّوَافِضِ تَبْدِيلَ الْقُرْآنِ، فَإِنَّ الرَّوَافِضَ لَيْسُوا مِنْ الْمُسْلِمِينَ، وَهِيَ طَائِفَةٌ تَجْرِي مَجْرَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى فِي الْكَذِبِ وَالْكُفْرِ.** [الفصل ، ٢/٢١٣]

ژباړه :هر چې د نصاراؤ دا خبره کول دي چې روافض دعوه لري چې دا قرآن بدل دی (اصل ندی) نو روافض خو مسلمانان ندي، دا یوه داسې ډله ده چې د یهودو او نصاراؤ سره په دروغو او کفر کې یو شان ده.

امام ابوزرعة رحمه الله وایي: **إِذَا رَأَيْتَ الرَّجُلَ يَنْقُصُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاعْلَمْ أَنَّهُ زِنْدِيقٌ.** [الفرق بين الفرق ” ٣٥٦]

ژباړه: کله چې یو سړی ووینې چې د نبي علیه السلام په ملګرو او صحابه ؤ کې د یو کس سپکاوی کوي نو ته پوهه شه چې دا زندیق دی.

نو مسلمانانو ورونو دا د روافضو عقائد، اعمال او افکار و،

او دا د امت مسلمه د فقهاؤ مجتهدینو او د دین اسلام د امامانو پدوی باندی د کفر فتوی وي.

نو اوس که چیرې کوم شخص کې تعصب، تنظیم پرستي او ډله پرستي نه وي او په الله او رسول الله او صحابه کرامو او خپلې مور عائشې رضی الله عنها باندی زره غیرت یې په زړه کې وي نو فیصله دې خپله وکړی چې آیا دغه روافضو سره مینه ، محبت ، همدردي او تحالفات او تعزیې پکار دی د وطني طالبانو پشان او که د اسلامي خلافت د مجاهدینو پشان ورسره د ایران د کرمان ، شاه چراغ ، عراق او افغانستان په څیر دشمني بغض ،نفرت او قتلول یې پکار دي؟

ایا دوی ته تحایف ورکول پکار دي کنه د عمر موحد او سیف الله مجاهد پشان استشهادیان ورلیږل پکار دي!؟

چې د دوی ښارونه او واټونه په هدیرو بدل کړي؟

نو اې د ایران منحوسو مجوسو!

او د افغانستان مرتدو طالبانو!

والله د دولت اسلامي مجاهدین په دار ځړولو نشي ختمولی، په زندانونو یې حوصلې او ارادي نشئ بدلولی!

ستاسې شرکي او کفري تحالف او وروړګلوۍ لا زموږ عقیدي او د قتال ارادي مظبوتوي!

ستاسي امنیتي کمربندونه ستاسې په وژنو لا زموږ حرص زیاتوي!

ستاسې ظلمونه وحشتونه به د ستاسي په کور کي نور هم د انتقام اورونه بلوي ان شاءالله..

دا خو د رافضي مشرکینو له شرکي عقایدو څخه مشت نمونه یې خروار وه نور نو د دوی نوري کړنې، اعمال، خیانتونه او خباثتونه له شماره وتلي دي، د دي مرتد او ذلیله قوم خیانتونه چې په روافضو مشهور دی، له هیڅ یو مسلمان چې الله تعالی د هغه سترګي او زړه د هدایت په نور او د اسلام مقدس دین د شریعت په معرفت روښانه کړي وي، پټ نه دی، د دعثمان رضی الله عنه او یو جماعت د صحابه ؤ رضوان الله علیهم له شهادته د بیت الله د حجاجو تر وژني او د حجرالأسود تر غلا کولو، د نصیرالدین طوسی او ابن العلقمی رافضي له خیانته او د دي دوو رافضي شیاطینو پلیته برخه د بغداد په سقوط کې، د اسماعیلي روافضو په لاس د مسلمانانو د لومړنۍ قبلي بیت المقدس تر اشغاله، په اوسني عصر کې د مرتدو رافضي نظامیانو جنایات په عراق، ایران، شام، خراسان، یمن او لبنان کې هم له هیڅ مؤحد مسلمان څخه پټ او مخفي نه دي. دا د اسلامي امت په حق کې له ماضي څخه تر اوسه د روافضو د خیانتونو کوچنۍ برخه ده.

شاید لوستونکي ځان سره ووایي، چې آیا د عثمان رضی الله عنه په عصر کې د روافضو په نوم مرتدې ډلې شتون درلود؟ د سوال ځواب "هو" دی.

یهودي عبدالله بن سبأ – لعنه الله- او د عراق بعضې قبائلو چې په درواغو یې د آل بیت رضی الله عنهم اجمعین د محبت ادعا لرله، د دې مذهب اساس او بنیاد او دا شیطاني فکر یې پر بعضې صحابه ؤ له لعنت ویلو پیل کړ.

د عثمان رضی الله عنه کور یې محاصره کړ، هغه او د هغه قدرمنه میرمن یې په شهادت ورسوله، دا د سبئیه روافضو لومړنۍ خیانت ؤ، چې د صحابه او امهات المؤمنین رضی الله عنهم و عنهن أجمعین د لعن د تهداب تیږه یې کېښوده،

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لمسي حسین بن علي رضی الله عنه سره د دې قوم د نورو خیانتونو تر څنګ بل خیانت ؤ. د لیک په استولو سره یې هغه کوفې ته وغوښته، او د هغه د شهادت مقدمات یې آماده کړل،حتی د روافضو ډېری متفکران او پوهان لکه علي شریعتي او مرتضی مطهري او حتی د دې پلیت مذهب د متأخرو علماؤ کتابونه، صراحتاً اعتراف کوي چې حسین رضی الله عنه د خپلو شیعیانو له لوري په شهادت ورسېده.

په دې دوره کې شیعه د یو اپوزیسیون او سیاسي جریان په چوکاټ کې د خلافت خلاف ظاهر شو، او تر دې دمه کامل او مینځته نه ؤ راغلی چې ځانته مذهب او فقه ولري. د آل بویه رافضي په دور کې کله چې بغداد د احمد بن بویه رافضي په لاس سقوط وکړ، او تر ۱۳۰ کالو پورې یې بني العباس خلیفه ګان خپل تابع او مطیع کړل، نو په تدریجي ډول سره د رافضي فقې د تشکیل او پیدا کېدو لپاره بستر آماده شو.

د روافضو د علماؤ له جملې حسین البحراني په خپل کتاب (المحاسن) کې وایي: د نواصبو (اهل سنتو) مالونه، نفسونه، ناموس او وینې غنیمت دي. شیخ صدوق د روافضو د محدثینو له جملې، له داود بن فرقد له أبي عبدالله نقل کړی دی چې د نواصبو (اهل سنتو) د قتل په باره کې پوښتنه وشوه، او أبی عبدالله د هغه په ځواب کې وویل: د هغوی قتل حلال دی، که د کولای شوای نو د هغې سر په دیوال ووهه، او که دې کولای شوای هغوی په اوبو کې غرق کړه تر څو د جرم اثر پټ پاتې شي. او همدارنګه حر عاملي د صفوي عصر د علماؤ له جملې په خپل کتاب (الوسائل الشیعة) او الجزائري په (الغیبة النعمانیة) کتاب کې دا حدیث راوړی او د اهل سنتو وژل یې مباح ګڼلي دي.

دا نجس روافض هېڅ داسې ورځ نه ده تېره شوې چې دوی تقیه نه وي کړې،کېدای شي د عوامو مسلمینو پر وړاندې تقیه وکړي، او د خپلو علماوو له دې کلامه منکر شي؛ لېکن پوهه شئ چې روافض د دروغ او تقیې اهل دي، روافض پر هغه څه چې وو اوس هم دي، هغوی فقط د تقیې اهل دي، او د ضعف په حال کې له هغې منکرېږي، د الله سبحانه و تعالی د مقدس شریعت په غیاب او د مرتدو طواغیتو حاکمیت په منطقه کې، د رافضي فکر د رشد او توسعې لپاره بستر آماده کړ.

د دې مرتدینو په کفري اساسي قانون کې د هېوادول او کلیوال په نوم حسابېږي او له مسلمانانو سره د مساوي حقوقو درلودونکي دي، همدا مسئله باعث د دې شوه چې

نجس روافض د (انګل) په شان زېږون وکړي، کثرت ومومي او خپل باطل عقاید نشر کړي.

په ایران کې پنځه پېړۍ کېږي چې اهل سنت تحقیرېږي او وژل کېږي، او په ډېر بدو شرایطو کې قرار لري او له خپلو ادنی حقوقو بې برخې دي، تازه مسلمان او مؤحد ځوانان چې د روافضو پلید او ناولی کفري مذهب پرېږدي، پېژندل کېږي، اسیرېږي او اعدامېږي یې،د مرتضی رادمهر له وژلو تر علی مظفریان او لسګونه نور تازه مسلمانو نارینه او ښځینه و او چې تشیع مذهب یې پرېښی،پر دې علاوه، تبعیض او د اهل سنت مناطقو تفقیر (فقیرول) له بلوچستان تر ترکمن صحراء، له خراسان تر طالش او کردستان، پېړۍ تېرې شوې طواغیتو د نورو طواغیتو ځای ونیو اما د اهل سنتو حال تغیر ونکړ، تهٔ به وایې د یو زندان ساتونکي یا مفتش شیفت تبدیل شوی او یو بل زندان ساتونکی او مفتش د هغه پر ځای راغلی دی.

اما افسوس دي وي د هغو فاسدو ملایانو پر پیروانو او اهل سنت ته منسوبو ډلګیو پر حال چې له نجسو روافضو د عزت او کرامت ګدایي کوي. الله سبحانه و تعالی فرمایي: **وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ**(المنافقون- 8)

ژباړه: «او عزت خو د الله، د هغه د پیغمبر او مؤمنانو لپاره دی، خو دغه منافقان نه پوهیږي.

او همدارنګه فرمایي: **مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلَّهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا** (فاطر- 10)

ژباړه: «څوک که عزت غواړي، نو ټول. عزت د الله لپاره دی

هو! زما مؤحدو ورونو او خویندو، عزت د الله تعالی د هغه رسول او د مؤمنانو دی، الله تعالی د عزت منشأ ده، د الله تعالی په اوامرو او احکامو باندې عمل کولو سره عزت لاسته راوړئ، نه د تهران طواغیتو او روافضو پر وړاندې ګدایئ سره.

اې د ایران اهل سنتو، په هوش راشئ، له ۵۴۰ کالو زیات وشول چې د روافضو تر حکم لاندې یاست، آیا کافي نه وو چې دومره یې له تاسو ووژل، او ستاسو مساجد یې وران کړل؟ آیا کافي نده چې درباري ملایان لکه عبدالحمید او د هغه مرستندویانو ستاسو له سادګی سوء استفاده وکړه، او ځان لپاره یې بې شمېره سرمایې ذخیره کړې، په داسې حال کې چې تر ټولو نژدې روغتون له تاسو کیلومترونه فاصله لري، د څښلو پاکې او سالمې اوبه نلرئ، آیا دومره ذلت او پستي کافي نده؟

آیا تاسو لپاره کافي نه وه، چې تاسو په سلګونه خپل عزیزان او ځوانان د تېر کال په اعتراضاتو کې له هغې جملې پر مکی مسجد باندې حملې کې له لاسه ورکړل، په داسې حال کې چې رافضي اپوزیسیون له ګوېدو او د جنسي آزادۍ تر چتر لاندې شعارونو پر تاسو وخندل. آیا تاسو ته کافي نده چې دا نجس روافض د حجاب او نقاب له کبله ستاسو د ښځو پر عفت طعنه ووهي.

سوچ وکړئ چې خامنه ای طاغوت نسکور شو، له هغه وروسته طاغوت به له اهل سنتو سره څه وکړي، د تجزیې غوښتنې په جرم به تاسو ټول ووژني، هماغه کار چې نجس رافضي خمیني د کردانو او ترکمنو له اهل سنتو سره وکړو، په دې حقیقت به ژر یا وروسته پوه شئ، د شیعه ایران له مرتد جمهوري حکومت سره د رافضي اپوزیسیون اختلافات، کورني اختلاف یا د شیعه له شیعه سره دعوا ده؛ نه له دې هاخوا، د خامنه ای رژیم مخالفان له فقیه ولایت سره مخالف دي نه د شیعه مذهب له کلیت سره، دا یعنې څه؟ یعنې شیعه مذهب به همداسې یو رسمي مذهب پاتې شي، او د ایران د خلکو جز پاتې کېږي، دقیقاً د پهلوي حکومت دور پشان،دا مسئله د دې باعث کېږي چې رافضي مرجعیت او روافض، په ډېر آسانۍ سره حکومت د اهل سنتو پر وړاندې تحریض کړي، او حکومت نغواړي چې خپل اعتبار د اکثریت په مینځ کې له لاسه ورکړي.

په هر حال د امتحان او خطا دور پای ته رسېدلی، اوس د عمل وخت ده، مجازي فضا ته لاړ شئ او وګورئ چې د خامنه ای رژیم د مخالفانو عکس العمل نسبت اسلام ته څه دی؟ اسلام او صحابه ؤ ته له توهین او تحقیر پرته، کټ مټ هماغه کار چې د خامنه ای رژیم پلویان یې کوي، په دې توپیر سره چې لومړنی تقیه نکوي او دوهمه ډله د خپل قدرت او واک د بقا لپاره مجبور دي چې تقیه وکړي، که د هغوی دریځونو او موقفونو ته

ځیر شئ، نو پوه به شئ چې د دې دوه رافضي ډلو په مینځ کې هیڅ اساسي فرق شتون نلري. یوه د اقتدار په ګدۍ ناسته ده، او د فرقه ای تعصب په انګیزه د ایران، شام، عراق او یمن اهل سنت وژني، او د اهل سنتو ضد دوهمه ډله چې د خامنه ای مخالفان دي، اکثراً قومي اړخ لري، دوهمه ډله وایي، چې صفویانو د تشیع په رسمي کولو سره اوسني ایران ته هویت ورکړ، او دا هېواد یې له اسلامي نړۍ بېل کړ او شیعه مذهب اګر چې په نوم یوه بهانه ده تر څو د خپل منصب غوښتنې اهداف لکه د ایران شهر حوزې زمکې (هغه مناطق چې د مجوسي ساساني امپراطورۍ برخه وو) بېرته احیاء کړي.

بناءً چې دا مطلب لولې په هوش راشه او نور عوام مسلمین د روافضو له خطر او شره باخبره کړه.

له کلونو یا ښه ده چې ووایم پېړیو د مسلمانانو په اجتماعي ژوند کې د الله تعالی د شریعت فقدان او پېړیو ذلت، إسارت او تسلیمۍ وروسته، الله عزوجل د رسول الله صلی الله علیه وسلم له نسب نه یو سړي ته پر ځمکه تمکین ورکړ، تر څو دین او سنن احیاء کړي، هغه سړی پرته له شیخ ابراهیم بن عواد البدري ملقب په أبوبکر البغدادي

تقبله الله بل څوک نه ؤ. الله تعالی دې جليل القدر شيخ ته عزت او تمکين ورکړي، او د نړۍ له ګوټ ګوټ نه مجاهدين او عوام مسلمانان پر ده راټول شول. او هم مهاله د حشد رافضي، پيشمرګه او د بشار نصيري له سرتيرو او رافضي ايران، حزب الشيطان، په سوريه کې صحوات، په نيجريه، افريقا ولايات، آسيا ختيځ، ليبيې او سيناء کې له طواغيتو او وطني احزابو سره وجنګيدل. که د غشو لوري ته ځير شو، نو ټولو اسلامي دولت اعزها الله خوا په نښه کړې ده، او دا خپله د دې مؤمن جماعت د منهج پر صدق دلالت کوي. د صحابؤ د سيرت په مطالعه او د قرآن عظيم الشأن مبارکو آيتونو ته په رجوع کولو سره پوهه شو، چې ابتلاء او امتحان د مؤمنانو د ژوندانه يوه برخه ده، او الله تعالی مؤمنان تل آزمايي. الله سبحانه و تعالی فرمايي: **إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ**(آل عمران- 141-140).

ژباړه: «اوس که تاسې ټپي شوي یاست؛ نو له دې څخه مخکې ستاسې دښمنه ډله هم همداسې ټپيان شويدي. دا د زمانې خوږې ترخې دي چې موږ يې د خلکو تر منځ اړوو را اړوو. پر تاسې دا مرحله ځکه راوستل شوه چې الله دا کتنه غوښتله چې په تاسې کې ربښتيني مؤمنان څوک دي، او د هغو خلکو انتخابول يې غوښتل چې په واقعي توګه (د ربښتينولۍ) شاهدان وي؛ ځکه چې ظالمان د الله نه خوښيږي.

اما د هغه ناروغه زړونو منافقينو په ځواب کې چې د اسلامي دولت اعزها الله مناصرينو ته دا القاء کوي، چې نور اسلامي دولت په شام او عراق کې پر ښار، کلي او منطقې باندې تسلط او کنټرول نلري، او فلان امير، قومندان او يا خليفه په شهادت ورسيد، وبه وايو، چې هغه ځمکه چې پر هغې باندې يوه ورځ د الله تعالی شريعت حاکم وي، له دې غوره ده چې زر ورځې دې د طواغيتو حکم پرې حاکم وي، او د کفري قوانينو پر اساس پر خلکو حکومت وکړي. که څه هم د اسلامي دولت حکومت حداقل د حق او باطل د تفکيک لپاره په يو معيار تبديل شو. د شام صحواتو او د خليج سروري

او مدخلي مشايخو، اسلامي دولت د رافضي ايران او نصيري بشار اسد مزدور ګڼلو، له بل لوري نصيريه او روافضو، اسلامي دولت د خليج عربي هېوادونو لکه عربستان سعودي او قطر مزدور ګڼلو او ګڼي.

آمريکا روسيه د اسلامي دولت په حمايت تورنه کړه، او روسيې، آمريکا د اسلامي دولت په ايجادولو او تشکيل تورنه کړه، اما په عمل کې، دا ټول هېوادونه او دا طواغيت او سياسي احزاب او نظامي ډلې د سياسي اختلافاتو او منافعو د تضاد سره سره، ټول په ټوله د اسلامي دولت اعزها الله پر ضد متحد شول، او د اسلامي دولت پر ضد يې په مختلفو سياسي، فرهنګي، اقتصادي او امنيتي برخو کې هر اړخيزه جګړه پيل کړه، اما د اسلامي دولت په شاته تګ سره، د کفار تر مينځ د منافع تضاد راښکاره شو، روسيه او آمريکا په اوکراين کې د يو بل خلاف جنګېږي. اخواني حماس او رافضي حزب الشيطان، لومړنی په مستقيم ډول او دوهم په غير مستقيم ډول د رافضي ايران په نيابت د ناخيزه يهودي دولت سره په جنګ کې ښکېل شول، په عراق کې د شيعه ډلو او احزابو تر مينځ خپل منځي اختلافات په دې هېواد کې د راتلونکي نامعلومه سياست په اړه او نور موارد ټول دغه تحولات په دې ټکي څرخېدل چې ټول دغه کفار د سياسي اختلافاتو او منافعو تضاد باوجود د اسلامي دولت پر ضد سره متحد شول او دا د دې منهج پر صدق ګواهي ده.

لېکن د امراؤ او خلفاؤ د شهادت په اړه دا وايو، چې د يو امير يا خليفه شهادت نه يوازې ننګ او پېغور نده، بلکې د هغوی د راسخ او مضبوط ايمان او د اسلام په شرائعو د باور نښه ده.

الله تعالی فرمايي: **مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا** (الأحزاب- 23)

ژباړه: «له مؤمنانو څخه ځيني داسې شخصيتونه شته چې له الله سره يې کړې ژمنه رښتيا کړې ده: له هغو څخه چا خپل نذر پوره کړ او څوک د وخت راتلو ته انتظار باسي. هغوی پخپله کړنلاره کې هيڅ تبديلي را نه وسته

د امراء او خلفاؤ شهادت هغوی او د اسلامي دولت

اعزها الله لپاره له عزت، وياړ او كرامت پرته بل څه ندی، په داسې حال کې چې په خراسان کې د طالب او په إدلب کې د جولاني قومندانان د امریکایي ډرونونو او الوتکو تر څار لاندې دي، خو پرته له وېرې خپلو ورځني امورو ته دوام ورکوي، دلته باید له ځانه وپوښتو چې له اسلامي دولت سره د دوی توپیر په څه کې ده؟
اسلامي دولت، د الله تعالی د شریعت د تحکیم، له کفارو سره مبارزې او د طواغیتو له إسارته د مسلمانانو د ژغورلو لپاره هېڅ ځنډ ونکړ، د سایکس-پیکو جعلي مرزونه چې له یوې پېړۍ راهیسې یې د اسلامي امت تر منځ واټن اچولی، په رسمیت نه پېژني، او له خپل راسخ منهجه په شا شوی نده. اما بل خوا، په إدلب کې جولاني او په خراسان کې طالبان د چمیلون (آفتاب پرست) په شان هره ورځ یو رنګ واخیست او خپل باطل منهج یې تبدیل کړ له یو باطل بل باطل ته، او داسې یې د کفر او ارتداد منزلونه طی کړل، چې غرب هغوی د منلو وړ وګڼل.

اې د ایران اهل سنتو، له ټولو تفاصیلو سره چې ذکر شول، باید ووایو، چې تاسو له الله عزوجل او وروسته له هغې د اسلامي دولت اعزها الله له مجاهدینو پرته بل ناصر او معین نلرئ چې د خمیني په شرکي مزار، په ۲۰۱۷ کال کې د طاغوتي مجلس پر ساختمان، په کال ۲۰۲۲ د سپتمبر میاشت کې د أحواز په نظامي مانور او د شاهچراغ په شرکي معبد حملو باندې دا ثابته کړه، چې دا د ایران له قومندانانو او نظامیانو سیوا دي، چې په سوریه او عراق کې د اسلامي دولت د مجاهدین په لاس په هلاکت ورسېدل. په دې برخه کې درباري ملایانو د هغوی په رأس کې عبدالحمید إسماعیل زهی څه وکړل، پرته له دې چې دا ذلیله روافض شهیدان ونوموي، او دا حملې وغندي،کېدای شي د عبدالحمید انصار ووایي چې دا مصلحت دی، اما د چا مصلحت؟ د عوامو مسلمینو مصلحت یا د عبدالحمید او د هغه په شان د نورو شیاطینو شخصي مصلحت، چې د خلکو له فقر او ساده توبه یې ناوړه ګټه پورته کړه، او ځان لپاره یې ډېره سرمایه او دارایي لاس ته راوړه.

کېدایشي ووایئ چې د اسلامي دولت ملاتړ او د هغه داخلېدل به په ایران کې د اهل سنتو د قتل عام لپاره بهانه شي، تاسې تقریباً ۵۴۰ کاله کېږي چې د ایران په نوم یاده شوې خاوره کې چې تاسو خپله د هغې تاریخ جوړ کړ او

صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین هغه فتحه کړه، اسیر یاسټ او روافض تاسو ته ذلت درڅښي.

آیا د دومره وخت په تېرېدو سره اسلامي دولت شتون درلود؟ آیا کله چې هغه طاغوت محمد رضا پهلوي، رافضي موسی صدر لبنان ته ولېږه او لبناني مسیحي او رافضي ملېشې یې مسلح کړې او هغوی ته یې نظامي زده کړې ورکړې، اسلامي دولت شتون درلود؟ آیا کله چې پهلوي زابلي نجس او مرتد روافض د بلوچستان او ترکمن صحرا خاورې ته راوړل، او زرګونه بلوچ او ترکمن اهل سنت یې ورټل او ووژل، آیا اسلامي دولت شتون درلود؟ ځان مه دوکه کوئ، تاسو په دواړو حالتونو کې څه له اسلامي دولت سره او څه بغیر له هغې به قیمت اداء کړئ. که اسلامي دولت راشي او نجسه روافض د اهل سنتو مناطق کېدایشي بمبارد کړي، اما له جهاد سره کولای شو انتقام واخلو او هغوی ته ضربه ورسوو، او د روافضو په ښارونو کې د استشهادي او انغماسي عملیات طرحه کړي، لکه د شیخ الزرقاوي تقبله الله په عهد کې چې د عراق نجسو روافضو پر خلاف سرته ورسېدل. د عوامو اهل سنتو د هرې وینې په بدله کې چې تویې شوې، د اسلامي دولت اعزها الله مجاهدینو څو رافضیان جهنم ته ولېږل، نو که چېرې اسلامي دولت نه وي هم تاسو به تاوان ورکړئ، فقط د دې نجسو صیغه زېږونکو روافضو ذلت، فلاکت، توهین او تحقیر به خپلو زامنو او لمسیانو ته په ارث پرېږدئ، او په تدریج سره، ستاسو د مناطقو په فقیرولو، او تاسو له خپلو حقوقو په محروم ساتلو او د بعضي خائنه ملایانو او سیاسي متخصصینو په وسیله ستاسو په خاموشولو د معروف قول په بناء په پختې (پنبه)سره به مو سرونه پرې کړي، لکه څنګه یې چې دا کار وکړو، او داسې ورځ به راشي چې بعضي خلک به ووایي، چې یو وخت اکثریت بلوچستان او یا کردستان اهل سنت وو، خو نن له هغوی هېڅ ندي پاتې او نفوس یې کم شوی او د هغوی ځای کډوالو روافضو ونیوه.

په پای کې په ایران کې د اسلامي دولت اعزها الله مناصرینو ته خطاب کوو، چې الله عزوجل مونږ قتال او جهاد ته دعوت کړي یو، نه فقط نصرت او بریا ته، شهادت هم یو ډول بریا او سعادت دی. د بیمار وزړونو والاؤ اراجیفو او منحرفانو ته غوږ مه نیسئ؛ هغوی هغه څه چې له خپلو شیاطینو زده کړل تاسو ته یې وایي تر څو تاسو ناامیده کړي. قال تعالی: [وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ] (الأنعام-121).

ژباړه: «شیطانان د خپلو ملګرو په زړونو کې شکونه او اعتراضونه اچوي چې هغوی له تاسې سره شخړه وکړي. خو که تاسې د هغوی اطاعت ومانه، نو بېله شکه به تاسې مشرکان یاست.

د ۲۰۱۹ کال په اوایلو کې تنها د الباغوز مرزي کلی د اسلامي دولت تر کنټرول لاندې باقي ؤ، چې تر ۳ کیلومتر مربع ډېر مساحت یې نه درلود، او شپه او ورځ د امریکایي جنګي الوتکو لخوا بمبارېده، او د PPK ملاحدؤ له لوري محاصره ؤ. لېکن دا د بیاځلي تمکین لپاره د امید تخم ؤ، په دې وخت کې، له بورکینافاسو، مالی، موزامبیک، کنګو او نیجر نه مجاهدینو له اسلامي دولت اعزها الله سره بیعتونه وکړل او نن بفضل الله تعالی په افریقایي ولایاتو کې مهم مناطق د اسلامي دولت تر تسلط لاندې دي، په دې پوهه شئ مونږ خپل خلفاء د هغوی په اقوالو او اعمالو پېژنو، نه د دوربین پر وړاندې له مختلفو خبرنګارانو سره په مکررو مصاحبو، لکه مرتد جولاني په إدلب او مرتد طالب مشران په خراسان کې د اسلامي دولت مناصرینو الشیخ أبی إبراهیم الهاشمی تقبله الله د طواغیتو پر زندانونو د حملې د مهندس په عنوان پېژندو. کله چې د ۲۰۲۲ کال په جنوري میاشت کې د اسلامي دولت اعزها الله (۱۲) تنه مجاهدینو په الحسکه ښار کې د غویران پر زندان برید وکړ، او سلګونه اسیران یې آزاد کړل، هماغه وخت ؤ چې د اسلامي دولت مناصرینو د خپل ګمان صحت تأیید کړ. حتی د شیخ أبی إبراهیم الهاشمي تقبله الله له شهادته وروسته او د صرف څو ورځې وروسته د آزاد فوځ د مرتدو صحواتو په لاس په درعا ښار په جاسم ښارګوټي کې د شیخ أبی الحسن الهاشمي تقبله الله له شهادت نه پس، د اسلامي دولت مجاهدینو د شاه چراغ مبارک عملیات

طرحه کړل،او دادی یو ځل بیا د اسلامي دولت سر شیندوکو غازیانو د کرمان په واټونو کې دومره رافضي ککرې وربیلې چې نړۍ یې ډاره وریږدیده او بله کلکه څپېړه یې د رافضي خامنه ای پر مخ ووهله.

اې د حق مناصرینو او اې موحدینو، صبور او ثابت قدمه اوسئ، او د مجاهدینو په مناصرت کې له هیڅ کاره غافل نشئ.

لېکن نجسو روافضو ته زمونږ پیغام، ستاسو له خیانت او رذالته ډک تاریخ او د تاریخ په اوږدو کې ستاسو جنایات او ظلمونه به هیڅکله هېر نکړو. هغه ورځ به لېرې نه وي چې د جهاد اوبه ایران ته هم ورسیږي، او هغه وخت به هماغه کار چې په عراق، شام، یمن او خراسان کې مو ستاسو له سپیانو سره وکړو، له تاسو سره به یې په شیراز، اصفهان او أحواز کې وکړو. هغه ورځ چې له تاسو سره مخامخ شو، زمونږ د سترګو پر وړاندې به هیڅ څیز نه وي، پرته د هغه عراقي او شامي ماشومانو او زنانه ؤ له انځورنو چې ستاسو په لاس په شهادت رسېدلي؛ ټول اهانتونه چې زمونږ مور عائشه صدیقة رضی الله عنها او صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین ته مو کړي، هېر نکړو، او زمونږ مقدساتو ته مو چې کوم اهانتونه او توهینونه کړي، له هغې به ستاسو پر خلاف د مسلمانانو د تحریض لپاره استفاده وکړو. ډېر ژر به تاسو د ابو مصعب الزرقاوي تقبله الله په شان د عراق د ورځو شاهدان اوسئ،قسم په الله چې ضعف او زوال مو نږدې او ساګاني مو شمېر ته لوېدلې. اې نجسو روافضو، د مجاهدینو حملې او په ایران کې یې عملیات به هېڅکله آخري نه وي، بلکې بالعکس د مهمو اهدافو او د لویو عملیاتو سره له ډېرو تلفاتو لپاره به مقدمه وي. د مسلمانانو د وینو بدله چې تویې کړې مو دي د مؤحدینو په زړونو کې به تاسې د کینې، بغض او انتقام نیالګی کېنوي، شک مه کوئ، د هغو وینو چې تاسو تویې کړې څو برابره به له تاسې تویې کړو، زمکه به ستاسو پر نجسو وینو خړوبه کړو، او جسدونه به مو د سپیانو خوراک شي، او داسې ورځ به راشي چې هېڅ سپی به وږی نه وي، ځکه ستاسو له جسدونو به وخوري. په دې باندې پوهه شئ اې حقیرو سپیو، مونږ د شام صحوات او مرتد طالبان نه یو، چې له تاسو سره مصالحه او مذاکره وکړو. زمونږ مذاکره به استشهادي عملیات، او مصالحه به مو مزایل او مرمۍ وي، احمقانو، هغه امنیت چې ستاسو طاغوت خامنه ای درته د برابریدو وعدې درکوي، د غني له کوره هم سست دی، پوه شئ، نه دا فوج، نه سپاه او نه به هم بسیج زمونږ پر وړاندې د درېدو توان ولري، له هزاره نجسو روافضو عبرت واخلئ، چې څنګه مو هغوی د سپیانو په شان د خراسان له ځمکې وشړل او د ایران په لور مو په حرکت کړل، د اسلامي دولت اعزها الله د حملاتو له وېرې یې ایران ته پناه یوړه، هغه هېواد چې حتی د خپلو روافضو له دفاع او د ژوند له برابرولو عاجز دی. له هزاره ګانو وپوښتئ، له هغوی سره مو څه وکړل، مطمئن اوسئ چې له تاسو سره به خپل حساب په بدترین شکل تسویه او پاک کړو.

وروستنی پیغام مو په خاص ډول اسلام ته منسوب د مرز ساتونکي او پولیس ته او په خاص ډول د مرتد ایران مسلح ځواک او جواسیسو ته دی، د الله تعالی په مقدس او سپېڅلي ذات قسم، هغه لاس چې د مسلمانانو د نوامیسو او ښځو په لور اوږد شوی وي له څنګل به یې قطعه کړو، هغه سترګې به راوباسو چې څښتن یې د جاسوسي اراده ولري، هغه ژبه چې أمهات المؤمنین او صحابه ؤ ته ښکنځلې او سپکې سپورې وایي، له ستوني به یې بهر کړو، او ستاسو سرکښه ورمېږونه به ووهو، هماغه کار چې له نصیریه سره مو په شام او روافضو سره په عراق کې کړی ؤ، ستاسو جسدونه به ټوټې ټوټې کړو، او مغزونه به مو وشیندو، د اسلام د نصرت او مسلمانانو د مقدساتو دفاع لپاره، د الله تعالی د شریعت تحکیم او د کفر او ارتداد د نابودۍ لپاره. پوهه شئ چې د فتحې وعده نږدې ده، او ډېر ژر به ستاسو په لوري درشي.

وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ

و الحمد لله رب العالمين

***

د جهاد لپاره مو خپلې هڅې مه سپموئ!

مالي جهاد

الله تعالی فرمايي:

ژباړه: «پر الله تعالی او د هغه پر پیغمبر ﷺ باندي ایمان راوړئ او د الله په لاره کې خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد وکړئ. همدغه ستاسې لپاره بهتره ده که تاسې پوهیږئ» [الصَّف: ١١]

د ډیجیټلي پیسو یا کریپټو کرنسي له لاري چې د پیسو د لیږد تر ټولو محفوظه او مصؤنه لاره ده په مالي او اقتصادي جهاد کې ګډون وکړئ.

Monero (XMR)

4A7bskZhPjSQ5R1Uwza6wVFzD
D5Y3cUvCTDWv8Evrbo4jQ5W
Mc7fRnBUtqFu5NBtdfFVV59qy
vqv8jeQ58yxu3niVmmmYuw

طالب ملېشي اوس د خپل شخصي او وطني گټو لپاره دومره جرأت کوي، چې د يو بسته مؤمن قوم په پلورلو هم صرفه نه کوي، بلکې که د اسلامي امت سره په هر ډول خيانت کې د دوی گټې خوندي وي دوی ترې دريغ نه کوي.

تر وروستي حده پريوتي
دريځونه



له کومې ورځې چې طالبان د دوحې په شاندارو هوټلونو ننوتي او د قطر له لوري د دوی د اهلي کولو پروسه پيل شوې، له هماغه ورځې راهيسې طالب مليشې ورځ تر بلې له خپلو موقفونو تنزل کوي اوپه داسې شرمناکو دريځونو راښکاره کيږي چې هر مسلمان په داسې دريځ نيولو شرميږي، خو دوی که د اسلامي امت، اسلامي نړۍ، مسلمانانو او کفري نړۍ پر وړاندې هر ډول بيکاره او له شرمه ډک دريځ خپل کړي، بيا هم پرې وياړي، يو بل ته مبارکي وايي او دا ډول شاتګ ورته يو مصلحت او د سياست په ډګر کې لوی برى ښکاري.

دوی که پرون ويل، چې شل کلنې جګړې هيڅ ګټه ونه کړه او زمونږ خو ټول حکومت او دا لاسته راوړنې په دوحه کې د هغو مذاکراتو زيږنده ده چې د امريکايي لوري سره مو وکړې، او په ډير وياړ يې د جهادي وسلوالې مبارزې څخه په شاندارو هوټلونو کې هغه مذاکرات، خبرې اترې او مفاوضات بريالي وبلل چې دوی په کې د ډيرو شرعي ارزښتونو او آن اسلام په سر معامله وکړه.

دوی ياد قرار داد د (مؤمن وژنې) امريکايي ماموريت د ترسراوي په بدل کې له نړيوالې ټولنې سره امضاء کړ، او دوی د امريکا د بهرنيو چارو د وزير (مايک پمپيو) دا خبره هم په چکچکو بدرګه کړه چې ورته ويل يې: "مونږ تاسې سره دا تړون امضاء کوو، خو تاسې به خپلې ژمنې پوره کوئ، اسلامي دولت سره به جګړه کوئ او ماتې به ورکوئ"، سره د دې چې طالب ملېشو لسګونه عقيدوي نيمګړتياوې درلودلې، خو دا ځل کفري نړۍ هوډ کړی و چې ملېشې په بشپړ ډول د اسلام له دائرې وکاږي او د خپلو نيابتي ملېشو په څېر يې وکاروي.

دوی که له يوه لوري د اسلامي دولت سره د کفر په ګټه نيابتي جګړه پيل کړه، له بل لوري يې د ټولې اسلامي نړۍ او اسلامي امت سره پريکون وکړ او ټول تمرکز يې په همدې راټول کړ چې څنګه د صليبي ټلوالې سره اوږه په اوږه ودريږي او هغوی راضي کړي.

نو شروع شول، يوه ورځ به يې د قطر د دفتر وياند محمد نعيم وردګ ويل چې: "د اسرائيلو سره د دوی کومه ستونزه نشته" بله ورځ به يې ختيځ ترکستان او د ايغور مظلوم ولس د چين کورنۍ مسئله ګڼله.

د دوی هر قدم ايښودل په ښکاره له اسلامي شريعته تيښته وه او غوښتل يې دوی هم د ديموکراسۍ په اخور ودريږي، عباس ستانکزی چې اوس د بهرنيو چارو وزارت

لومړی معین دی او هغه وخت د قطر د دفتر معاوین وو وویل: "مونږ په راتلونکې کې داسې حکومت جوړوو چې خلک یې وغواړي" خبریال تري وپوښتل: که خلک دیموکراسي وغواړي، هم تاسې یې ورسره منئ؟ ستانکزي ویل: هو، مونږ هماغه حکومت قائموو چې خلک یې وغواړي او د افغانستان د ډیرى خلکو غوښتنه وي.

دوی کلونه د الله تعالی په لاره کې د جهاد په نامه خلک وغولول، خو کله چې د آزموینې ځای راغی، بیا یې د الله تعالی د کلمې د لوړوالي او د هغه د شریعت د تحکیم پرځای یې د خلکو حکومت او واک ته ترجیح ورکړه.

دوی نه یوازې په دوحه کې نړیوالې ټولنې څخه د (مؤمن وژنې) پروژه په خپله غاړه واخیسته، بلکې د دې کلکې وعدې یې هم ورکړې چې تر څو مونږ ژوندي یو، د امریکا امنیت ته به څوک ګواښ جوړ نکړي، چې دا د (ملا برادر) د خپلې خولې اقرار و، او په دې وروستیو کې به تاسې د (ملا کبیر) هغه خبرې هم اوریدلي وي چې ویل یې: "دا د اسلامي(!) امارت برکت دی چې نن په امریکا کې امنیت دی".

په پاکستان کې د داعش پراخ حضور د افغانستان او سیمې لپاره ستر ګواښ
أبو محمد
@almersaad0 almirsaad.com
image_title#
أبو محمدڅه موده وړاندې المرصاد په یوه راپور کې ویلي وو چې داعش په سیمه (پاکستان، افغانستان، ایران) کې د دیني مذهبي علماؤ د ترور پلان درلود او ادعا یې کړې وه چې د اسلامي امارت استخباراتي ارګانونو د یادو بریدګرو په اړه مکمل مالومات د پاکستاني او ایراني چارواکو سره شریک کړي وو. همداسې یې پاکستاني مذهبي علماؤ ته سپارښتنه کړې وه چې باید پر حکومت اتکاء ونکړي او خپل امنیت په خپله ټینګ کړي. خپله اسلامي امارت په افغانستان کې د یاد پلان پلي کوونکي وژلي ووخو د پاکستاني لوري د بې غورۍ له امله د هغه وخت څخه په پاکستان کې د دیني او مذهبي علماوو ترور جریان لري، دوې ورځې وړاندې په کراچۍ ښار کې یو سلفي ملا شیخ ضیاء الرحمن ترور شو او پرون بیا د جمعیت علماء اسلام ګوند پر مخکښ غړي حافظ حمدالله باندې برید تر سره شو چې په بې داعش پر غاړه واخسته او همدا لړۍ نوره هم جریان لري. د اسلامي امارت د راتګ سره په افغانستان کې د داعش تغر په تولیدو شو، او اسلامي امارت غواړي چې د سیمي د هیوادونو سره په هماهنګۍ ددې فتنې نور مخنیوی هم وکړي، خو متأسفانه چې پاکستاني چارواکي د داعش پراخ حضور لکه څنګه چې د سیمې د امنیت لپاره ستر خطر دی، ... ورکولو کې خپلې

دوی یوازې په دې بسنه ونکړه چې په خراسان کې د اسلامي دولت پر ضد د نړیوالو د ګټو د تامین او امنیت د خوندیتابه لپاره وجنګېږي، بلکې ډیر ستر کفر ته یې لاس واچاوه، او رسماً یې نړیوالو طواغیتو، استخباراتي سازمانونو او طاغوتي حکومتونو ته د مجاهدینو جاسوسي شروع کړه او د ملګرو ملتونو طاغوت د خوښۍ لپاره یې دومره ستره بې ننګي وکړه چې په تاریخ کې یې سارى نه موندل کېږي، دوی له یوه لوري جاسوسي کوله او له بل لوري یې په ډیر ویاړ دا اعلانونه کول چې: "مونږ ایران او پاکستان ته د اسلامي دولت د وروستیو بریدونو او هلته د میشتو مجاهدینو په اړه بشپړ احوال لیږلی وو تر دې چې ایراني روافضو هم ومنله چې د ترهګرۍ (اسلامي دولت) پر ضد طالبانو له ایراني حکومت سره ډیره مرسته کړې او په (مشهد) او ځینو نورو سیمو کې د سپاه پاسداران او روافضو پر ضد د بریدونو مخه هم د

طالب چارواکو د استخباراتي معلوماتو پر اساس نیول شوي ده.

دوی په عقیده، الولاء والبراء، سیاست، حکومتولۍ او نورو ټولو چارو کې له شرعي موقفونو شاتګ وکړ، او د دې لپاره چې نړیوال کفري قوتونه ترې راضي شي په ډېره سپین سترګۍ یې د قرآني قوانینو پر ځای د (مرتد ظاهر شاه) وضعي قوانین نافذ کړل، حدود یې معطل کړل، جهاد یې منسوخ وګرځاوه او ټولو په ګډه د جهاد د ختمولو. لپاره متې راونغاړلې:

ملا یعقوب به یې ویل: د امیر له امر پرته جهاد نشته، که چا وکړ، جهاد یې جهاد نه بلل کېږي، بلکې تشه جګړه ده!

د پیښور سفیر یې ویل: په پاکستان کې جګړه حرامه ده!

او نورو ټولو چارواکو یې تر خپلې وسې کوښښ وکړ چې د جهاد مخه بنده کړي، خو د الله عز وجل د سپېڅلي وینا سره سم به د الله رڼا خپرېږي، اګر که د طالب ملېشو په څېر ډېری مشرکین یې بده وګڼي، الله تعالی فرمایي: [يُرِيدُونَ أَن يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ] [سورة التوبة: ٣٢].

ژباړه: «دا خلك غواړي چې د الله رڼا په خپلو پوكيو سره مړه كړي. خو الله د خپلې رڼا له بشپړولو پرته منونكی نه دی، كه كافرانو ته دا هر خومره ناکاره وبرېښي هم.

دوی له یوه لوري د مجاهدینو سره جګړه پیل کړه، له بل لوري یې د جهاد د حرمت او ختمیدو فتواوې پیل کړې، او له بل لوري یې بیا د عامه ذهنیت جوړولو په پار کوښښ وکړ، چې په اسلامي امت د روانو ناخوالو په اړه دوی بې طرفه دي، او شرعا پر دوی د مسلمانانو نصرت واجب نه دی، والعیاذ بالله!

نو یې متقي، ملا برادر، سراج حقاني، ملا یعقوب، ذبیح وطني او نور ټول لګیا شول ویل یې: مونږ د چا په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوو، چا د ایغوریانو د موضوع په اړه ویل چې هغه د چین داخلي موضوع ده، چا په سوریه کې پر مسلمانانو د روسیې بې رحمه بمباورنه توجیه کول او هغه یې خپله اړوند موضوع نه ګڼله، سراج حقاني بیا له ټولو جلا و، او ویې ویل: ”فلسطین، د هغوی کورنۍ مسئله ده، مونږ د چا په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوو“، دوی تر اوسه له اسلامي نړۍ او امت څخه د بېزارۍ لارې ګودرې لټولې، خو دا ځل یې له لومړۍ قبلې هم خپله بېزاري اعلان کړه، او یوازې په تشو چیغو، مظاهراتو او پوچو شعارونو د مظلوم اسلامي امت نصرت کاوه، دوی کټ مټ لکه د منافقینو په څېر غوښتل، الله ته دوکه ورکړي، خو الله عز وجل د دې قسم صفت لرونکو خلکو په اړه فرمایي: [يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا

يَشْعُرُونَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ مَا كَانُوا يَكْذِبُونَ} [سورة البقرة]

ژباړه: «هغوی له الله او مؤمنانو سره تېګي کوي، خو په اصل کې په خپله خپل ځانونه غلوي او له هغو سره دې شعور نشته، د هغوی په زړونو کې یوه ناروغي ده، چې الله هغه لا پسې زیاته کړه. او کوم درواغ چې هغوی وایي، د هغه په بدله کې د هغو له پاره دردوونکی عذاب دی

نو دوی په دې ډول کارونو یوازې ځانته دوکه ورکوي او بس!

دوی د فلسطین په مسئله کې د ټولو شرمناکه دریځونو د نیولو سربیره، یو بل ستر کفر، چې د کفر له پاسه کفر و؛ ترسره کړ، د مرتدو طالب ملېشو مشر قاضي او ستر مفتي (عبد الحکیم حقاني) د فلسطین قضیه "نړیوالې طاغوتي محکمې ته وړاندې" کړه، دوی د اسلامي امت په ټولو سیاسي مسئلو کې د ملګرو ملتونو طاغوت، نړیوالو طاغوتي عدلیه سازمانونو او نورو طواغیتو ته مراجعه کوي، خو دا ځل یې تر ټولو مشر قاضي دا کار وکړ، او اسلامي امت ته یې وښوده چې نور طالب ملېشې په بشپړ ډول له وزیره تر اجیره او له والي تر جوالي د اسلام له دائرې څخه وتلي دي، او اوس دوی د الله تعالی پر ځای د یو بل معبود چې (ملګري ملتونه، امنیت شورا، نړیواله ټولنه او نړیواله طاغوتي محکمه) ده؛ عبادت کوي.

طالب مرتدین له مودو راهیسې د خپلو ګټو لپاره په اسلامي شعایرو ملنډې وهي، کله د طواغیتو په مړینه مرثیې وایي، کله د روافضو په مرګ ویرونه کوي، کله د نورو مرتدینو او مشرکینو په مرګونو د تعزیې او تسلیت مراتب وړاندې کوي، د مرتدینو او مشرکینو لپاره د جنت غوښتونکي او کورنیو لپاره یې د صبر غوښتونکي وي، چې تازه دوی د کویټ د ستر طاغوت په مړینه ماتمونه کول او د صلیب ددې وفادار سپي مرګ یې د اسلامي نړۍ لپاره ستره ضایعه بلله، حال دا چې له دې څخه الله عز وجل منع کړې ده، فرمایي **[مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ ءَامَنُوٓا أَن يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوٓا أُولِي قُرْبَىٰ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَٰبُ الْجَحِيمِ]** [سورة التوبة]

ژباړه: «له پیغمبر او مؤمنانو سره نه ښایي چې د مشرکانو لپاره د بخښنې دُعاوې وکړي. که څه هم هغوی د دوی خپلوان هم وي کله چې دوی ته دا خبره روښانه شوېده چې هغوی د دوزخ وړ دي»

خو دوی د قرآن د حکمونو څه پروا لري، دوی ته خو د الله تعالی له اوامرو خپلې ګټې، مصلحتونه او د ملګرو ملتونو رضایت مهم دی.

دوی په دغو مرثیو او تسلیتونو کې ډېر مخکې ولاړل او د هغو روافضو په وژل کېدو یې ویرونه پیل

کړل چې د نبي صلی الله علیه وسلم ناموس، صحابه کرامو او د امت سلفو ته ښکنځل کوي، د مؤمنانو په میندو تهمتونه لګوي او له الف تر یاء یې ټول عقاید فاسد او باطل دي، تر دې چې دوی دومره بې حیاء او سپین سترګي شول چې د اسلامي امت ستر مجرم، وحشي صفته انسان او غټ خنزیر (قاسم سلیماني) یې شهید وباله، د اتل لقب یې ورکړ، د اسلامي نړۍ نومیالی یې وګاڼه او ویې ویل چې ټوله اسلامي نړۍ د سلیماني خنزیر په مردارېدو خفه وه، خو مونږ حیران یو چې دوی کومه اسلامي نړۍ یادوي؟ حال دا چې له اندلس تر موزمبیقه او له لیبیا تر تهرانه ټولو اهل سنتو د سلیماني په وژل کېدو خوښي ښوده، او که د دوی هدف له اسلامي نړۍ څخه نجس روافض، ایراني اخوندان او یا د سپاه پلیتې ملیشې وي؛ نو طالب ملیشې دې پوهه شي چې له داسې اسلامي نړۍ څخه اسلامي امت په بشپړ ډول بېزاره ده، ځکه هغوی چې اسلام درسره نه مني، ته یې څنګه اسلامي امت حسابوې او ټوله اسلامي نړۍ یې ګڼې؟!

دا چې د دوی هر دریځ له بل ډېر شرمیدلی او رسوا وي، او په هر دریځ نیولو سره کوښښ کوي چې حتی الوسع دوی په دې اعلامیې سره نړیوال قوتونه خوښ وساتي، اګر که دا دریځ د اسلامي امت په سر معامله ولې نه وي، په همدې لړ کې په دې وروستیو کې طالب ملېشو اعلامیه خپره کړه او پکې یې په ډېره سپین سترګی د کمونست او ملحد چینایي رژیم د ”واحد چین“ له پالیسۍ څخه ملاتړ اعلان کړ.

دوی په دې سره د ایغوري مسلمانانو پر ټولې مبارزې اوبه واړولې، او هغوی ته یې یو بل وروستی پیغام هم دا ورکړ چې دوی د ایغوري مسلمانانو او چینایي ملحد رژیم ترمنځ کشمکش کې د چینایي کمونیست رژیم ترخنګ ولاړ دي او د دې ملاتړ کوي چې چینایي کمونستان یوه واحده رهبري ولري، ختیځ ترکستان د دې حق نه لري چې د چینایي ملحدانو څخه آزادي واخلي او د هغوی اشغال پای ته ورسوي.

طالب ملېشې اوس د خپل شخصي او وطني ګټو لپاره دومره جرأت کوي، چې د یو بسته مؤمن قوم په پلورلو هم صرفه نه کوي، بلکې که د اسلامي امت سره په هر ډول خیانت کې د دوی ګټې خوندي وي دوی ترې دریغ نه کوي.

دوی په مستقیم ډول د واحد چین د پالیسۍ ملاتړ کړی، چې له مخې یې چین ختیځ ترکستان او تایوان خپله خاوره بولي، چې په دې ډول طالب ملېشو یو ځل چینایي ملحدینو ته دا ډاډ ورکړ چې په ایغوري مظلومانو دوی هر ډول وحشت کولی شي،



او هیڅوک له دوی څخه د هغوی تپوس نه کوي، بلکې دوی په بشپړ ډول له ایغوریانو بېزاره او د چینایي ملحدینو ملاتړي دي.

چین د طالب ملېشو د یادې پریکړې سره سم اعلان وکړ چې کمونیست حکومت یې د طالب ملېشو سره د 100 میلیونه چینایي روپیو مرستې کوي، او دا خو تاریخ کې بار بار ثابته شوې ده، چې په کفارو د خپل اسلامي امت خرڅونکي دا بیعه په ډېره کمو پیسو تکو کوي، خو شرم یې تلپاتې او همېشنۍ وي.

دوی تل د ملي ارزښتونو او ملي ګټو بابولالي غروي، اګر که دا ګټې او ارزښتونه په بشپړ ډول له اسلام سره په ټکر کې دي او د "ملي" مختارۍ چې کله هم د یوې کلمې سره وتړل شو، مانا دا چې دا کار د اسلام سره تړاو نه لري، ځکه همدا یوه کلمه په دې معنا ده چې دوی اسلامي اصولو ته ژمن نه دي، اسلامي نړۍ نه مني، اسلامي امت نه بېزاره دي او د الولاء والبراء عقیده یې ټوټې ټوټې کړې ده، په دې یوې کلمې سره دوی ثابتوي چې دوی ملګرو ملتونو، د هغوی قوانینو او په اسلامي نړۍ کې د هغوی مجرمانه ویش ته ژمن دي، د کوم له مخې چې بیا د دوستۍ او دښمنۍ معیار اسلام او اسلامي ارزښتونه نه؛ بلکې وطن او وطني ارزښتونه وي، په همدې اساس دوی سیک مشرکین، نجس روافض، دیموکراټان، کمونیستان او نور سیکولران چې افغانان وي خپل ورونه ګڼي او د ډېرو هغو حقوقو څخه برخمن دي چې یو سم مسلمان ته یې نه ورکوي، بل لور ته که بیا د افغانستان له پولو بهر هر څومره ستر مؤمن وي، دوی یې نه پېژني، نه یې نصرت کوي او که افغانستان ته راشي دوی د ملګرو ملتونو د قوانینو له مخې مجبور دي بیرته یې خپل هیواد ته وسپاري.

دا په دې لنده موده کې له شرعي دریځونو د طالب ملېشو شاتګ دی، دوی که نن پر ځای د دې چې نړیوال جهاد ته اوږه ورکړي، شریعت نافذ کړي، حدود تطبیق کړي، کافر سره د کافر، مرتد سره د مرتد او مشرک سره د مشرک په څېر چلند وکړي، د طواغیتو پرځای مؤمنانو ته وروڼه وایي، د اسلامي امت مسائل د طاغوتي حکومتونو د کورنیو مسائلو پرځای خپل مسائل وګڼي، د مظلومو مسلمانانو نصرت وکړي، د ملګرو ملتونو له طاغوت براءت وکړي، له روسیې، امریکا، چین، هند، اسرائیلو، ترکیې، ایران او نورو طواغیتو سره د دوستۍ پرځای له هغوی د مظلوم اسلامي امت پوښتنه وکړي او د مسلمانانو غچ ترې واخلي او په ادارو کې د تېر نجس جمهوري نظم پرځای شرعي نظم تطبیق کړي او په نورو ټولو مسائلو کې شرعي دریځونو خپل کړي؛ د دې ټولو برعکس کوي، کله امریکا لوی هیواد ګڼي او وایي چې مونږ سره دې دوستي وکړي، کله سلیماني شهید بولي، کله د اسلامي امت ستونزې د طاغوتي هیوادونو کورني مسائل بولي، کله جهاد تعطیلوي، کله ملي ګټې او ارزښتونه د اسلامي ګټو او ارزښتونو نه پورته بولي او کله بیا د نړیوالو طواغیتو د رضایت لپاره هر کفر ته لاس کوي او هر له شرمه ډک دریځ خپلوي، دا ټول یوازې د دې لپاره چې په واک کې پاتې شي، دا ټول د دې لپاره چې امریکا او نړیواله ټولنه ترې راضي شي، دا ټول د دې لپاره چې دوی هم د قطر او ترکیې په څېر د نړیوال طاغوتي او جاهلي نظام یوه برخه وګرځي او دا ټول د دې لپاره چې نور دوی ته څوک د ترهګرۍ او کفر سره د جګړې ګوته ونه نیسي، او د نړۍ ټول کفار باید دوی خپل وروڼه، دوستان، خواخوږي او نږدې ملګري وګڼي.

***

آیا د خلفاؤ شهادتونه

د خلافت د بطلان دلیل دی؟

الحمد لله وكفى والصلاة والسلام على من أرسله الله على ملة ليلها كنهارها البيضاء أمابعد: په موجوده اسلامي خلافت او د حق پرستو په دې حق جماعت او روڼ کاروان د سلسله وارو اعتراضاتو، تهمتونو او شبهاتو څخه یواعتراض، تهمت او.شبهه دا هم ده چې که دا خلافت په حق وای او د دې د خلیفه سره بیعت په هر مسلمان واجب وی، نو بیا ولې د دې خلفاء د دښمن د لاسه په قتل رسیږي، نو کله چې د دې خلفاء په خپله په امن نه دي او له دښمن څخه د خپل ځان دفاع نشي کولی، نو دا خلافت به د بل دفاع او ساتنه څنګه وکړای شي؟ دا او دېته ورته اعتراضونه یوله هغه شیطاني وسوسو او هلاکونکو شبهو څخه ده چې ډېرى بې علمه مسلمانان يې په حق خلافت او ریښتوني جماعت بدګمانه کړي دي او ورته د صدٌ عن سبیل الله سبب ګرځیدلی ده.

نو راځو په لاندې بحث کې د لوی الله متعال په خاص فضل او توفیق د دې اعتراض او شبهې ځواب ذکر کوو او هغه دا چې باید هر مسلمان دا د خپل ایمان عقیدوي برخه وګرځوي چې د کفارو او مشرکانو له لاسه د مسلمان او مؤمن بنده قتل په دنیا کې د شکست او ناکامۍ نه بلکې دا په مجموع کې د سعادت او کرامت یولوی دلیل دی چې دا یې رب مستحق وګرځاوه ځکه دغه ډول مرګ د مرګ په جمله اقسامو کې د مؤمن بنده لپاره ډېر غوره او اعلی قسم دی! دا داسې مرګ دی چې په فضیلت او غوره والي کې هیڅ قسم مرګ دې ته نشي رسېدلی، بلکې دغه رقم مرګ د فتحې یو قسم دی چې الله تبارک وتعالی یې په [سورة التوبة: ٥٢] نمبرایت کریمه کې مدحه په دې الفاظو سره ذکر کوي فرمايي:

{قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَن يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِ أَوْ بِأَيْدِينَا فَتَرَبَّصُوٓا إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ}

ژباړه: ته ووایه دوی ته ای پېغمبره! چې تاسې انتظار نه کوئ زموږ په باب کې مګر یو له دوو ښېګڼو (چې هغه فتح او یا هم شهادت دی) او موږ چې ستاسې په باب کوم شي ته سترګې په لاره یوو، هغه دا دی چې یا به الله په خپله تاسې ته سزا درکوي او یا به یې زموږ په لاسونو درکوي پس نو تاسې هم انتظار اوسئ او موږ هم ستاسې سره منتظر یوو. دلته ابن جریر قرطبي بغوي او سمعاني بلکې جمله مفسرینو د ابن عباس رضی الله عنهما امام مجاهد قتادة او نورو مفسرینو څخه همدا نقل کړی چې د " إحدی الحسنیین " څخه مراد فتح او شهادت دی نو معلومه شوه چې څنګه فتح د خوشحالۍ او کامیابۍ دلیل دی داسې د مسلمان لپاره شهادت هم د کامیابۍ او کامرانۍ دلیل دی نه دا چې د دې په شکست او بطلان دلیل وګرځي.

د شهادت بل فضیلت د دې ایاتونو څخه معلوم کړئ چې الله تبارک وتعالی په [سورة البقرة ١٥٤] نمبرایت کریمه کې فرمايي :

{وَلَا تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ}

ژباړه: او مه وایئ هغو خلکو ته چې د الله په لار کې وژل شي، مړه، داسې خلك خو په حقیقت کې ژوندي دي، خو تاسې دا شعور نه لرئ چې د هغو په ژوند خبر شئ! دلته خه غور وکړئ دا خلک مړه دي ځکه که مړه نه وي نو بیا دوی دفن شوي ولې دي؟ ښځې یې نور نکاحونه ولې کوي؟

خو دا دلیل دی چې د دنیا څخه تللي دي نو اوس سوال دادی چې دلته ورته د دې باوجود د مړو ویلو نه منعه راغلې دا ولې؟ نو ځواب دا دی چې دوی د الله په لار کې شهیدان شوي نو د نورو مړو سره یې د درجې او فوقیت په بنا له دې خطاب نه بچ کړل داځکه چې دوی د عامو مړو غوندې نه دي بلکې دوی ته الله په خپل نزد داسې ژوند ورکړی چې هغه یې نورو مړو ته نه دی ورکړی. د دې ایت تفسیر خپله قران په [سورة ال عمران ١٦٩] نمبرایت کریمه کې داسې کړی، فرمايي: {وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ

اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ﴾

ژباړه: او ګمان مه کوئ تاسو په هغو کسانو چې د الله په لار کې وژل شویدي د مړو بلکې هغوی خو د خپل رب په وړاندې ژوندي دي او روزي ورکولی شي هغوی ته؛

نو وګورئ مسلمانانو! دا د شهید مقام او فضیلت دی چې د مسلمانانو ترمنځه په هرنوعه مرګ باندې فضیلت لري ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

(والذي نفسي بيده لوددت أني أقتل في سبيل الله، ثم أحيا، ثم أقتل، ثم أحيا، ثم أقتل، ثم أحيا، ثم أقتل)

ژباړه: قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په واک کې دی زه دا ضرور خوښوم چې زه د الله په لارکې قتل کړی شم او بیا (دوباره) ژوندی کړی شم او بیا قتل کړای شم او بیا ژوندی کړای شم بیا قتل کړای شم او بیا ژوندی کړی شم او بیا قتل کړی شم " امام بخاري رحمه الله دې حدیث ته په دې عنوان باب وضعه کوې " باب تمنی الشهادة " بغیر له دې چې د شهادت في سبیل الله څومره فضایل او غوره والی ذکر شوی دا به د بل یو قسم مرګ نه وي ذکر شوی چې د کتاب اوسنت په مطالعه کونکي به پټ نه وي ان شاء الله تعالی، عبدالله بن مبارك رحمه الله په سند سره د شاهسوار صحابي خالدبن ولید رضي الله څخه نقل کړي چې هغه به فرمایل: **("ماأدري من أي يومين أفر، يوم أراد الله أن يهدي لي فيه شهادة، أو من يوم أراد أن يهدي لي فيه كرامة)**

ژباړه: زه نه پوهېږم چې زه په هغه دوه ورځو کې له کومې ورځې څخه تېښته وکړم؟ له هغې ورځې وتښتم چې الله په هغې کې ماته شهادت هدیه کوي او که له هغې ورځې چې الله په کې ماته فتحه هدیه کوي، [الجهاد لابن المبارك رقم الأثر:١٠٦]

نو وګورئ دلته هم ثابته شوه چې د.فتحې غونډې شهادت هم یوه هدیه ده مسلمان ته چې د الله له لوري ورکول کیږي، نو دغه هدیې ته د ناکامی، بطلان او شکست نوم ورکول د کتاب، سنت او اجماع د امت مخالفت کول دي.

نو چې کله تردې ځایه دا جوته شوه چې شهادت په اصل کې کامراني او سعادت دی نو په دې اساس مونږ دلته د دې شبهې د دیوال لمړی حصه راوغورځوله او هغه داچې د موجوده اسلامي خلافت أقامهاالله وأدامها د خلفاؤ یا د ولاتو او أمراؤ شهادتونه د بطلان نه بلکې د حقانیت، سعادت، په حق د ثبات او د احسنې خاتمې دلایل دي ان شاء الله تعالی، خو که د عناد ګرو په دې مطلق فضیلت د شهادت تشفي نه کیږي او خپل اعتراض واپس نه اخلي نو بیا مجبور یو چې ورته لږ د.اسلام د تېر برم د خلفاء او خلافتونو مختصر تاریخ مخې ته کېږدو، کوم اعتراض چې دوی په خپل ګمان د موجوده خلافت د بطلان لپاره کوي ایا دا د خلفاء راشدینو په خلافت نه واقع کیږي؟! نو راځو او دغه مختصر وضاحت ذکر کوو!

(خليفه راشد عمر بن الخطاب رض الله عنه)

د اسلام د راتلو نه بعد د مسلمانانو دویم خلیفه راشد او أمیر المؤمنین عمر بن خطاب العدوي رضي الله عنه چې کله دروښې خلیفه ابوبکر صدیق رضي الله عنه له لوري استخلافا د مسلمانو امام او خلیفه مقررېږي نو په انصارو او مهاجرو کې یوکس هم د ده په خلافت او امامت اعتراض نه کوي بلکې دغه ټول ورسره په علی السمع والطاعة بیعتونه کوي، د خلافة ټوله موده یې تقریباً لس کاله او څو میاشتې ذکر کیږي. [کمافی مورد اللطافة فیمن ولی السلطنة والخلافة ١/٥]

بیا دا څه معمولي هم نه بلکې هغه داسې یومنلی او غښتلی شخصیت تېر شوی، مسلمانان څه چې کفار او د دین جمله دښمنان یې د غیرت، شجاعت تقوا، عدل، کثرة العبادة او شرعي سیاست کې د عبور، مهارت او د کامل اجتهاد د ملکې متعلق اعتراف باندې قایل دي، دا هغه کس دی صحیح البخاري کې راځي چې نبي صلی الله علیه وسلم ورته مخامخ وفرمایل: **(والذي نفسي بيده، ما لقيك الشيطان قط سالكا فجا إلا سلك فجا غير فجك)**

ژباړه: قسم په هغه ذات

چې زما روح د هغه واک کې دی مخامخ به نه شي شیطان له تاسره داسې چې هغه دې تاسره په یوه لار روان وي مګر داچې هغه به (ستاله لارې) په بله لاره ستا د لارې نه بغیر بانـدې لاړشي. باب مناقب عمر ... [رقم الحدیث ٣٦٨٣]

د هغه د خلافت په دور کې چې کوم فتوحات شوي او څومره أقوام د اسلام په حق او مبارک دین کې داخل شوي بې حسابه دي، د عراق او ایران نیمګړي فتحه د عمر بن خطاب رضي الله عنه په خلافت کې کامله شوه، ټول شام د هغه په خلافت کې فتحه شو، جزیره أرمینیة او الباب د هغه د خلافت په مبارک دورکې فتحه شوي، مصر هم د هغه په زمانه کې فتحه شو، افغانستان، شرقي چین، بحرقزوین، د تونس غربي حصه وغیره ښارونه ټول د هغه د خلافت په دور کې فتحه شو، د مهاجرینو او انصارو کور د رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینه د خوشحالی، امن او.سکون سره د دنیا د ستر راشده خلافت مرکز دی، د عدل او انصاف تله وضع شوې، ذره برابر ظلم په چا نه کیږي خو د دې هرڅه باوجود د همدې ستر راشده خلافت دغه مبارک خلیفه او أمیرالمؤمنین د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسجد کې د هغه په مصلی ولاړ د لمانځه په حال په اول صف، په نبوي محراب کې د دښمن له لاسه په خنجر وهل کیږي او نه صرف دا بلکې ورسره نور دیارلس 13 غوره کبار صحابه کرام هم په دې زهرلړه خنجر وهل کیږي د مسلمانانو دغه امام او خلیفه د داسې وسیع تمکین او قوي خلافت باوجود په خپل مرکز کې په شهادت رسیږي چې د مسلمانانو زړونه د ډېرغم او پریشانی له کبله له خولو څخه بهر راوځي، مسلمان خو څه چې یومنافق هم که چیرته موجود وو هغه هم دا خبره ونه کړه دا څنګه خلافت دی چې خلیفه یې په دارالخلافة کې محفوظ نه دی او په خلکو خپل بیعت واجب ګرځوي، خو أفسوس نن منافقان د یو حق او ریښتوني خلیفه شهادت د خلافت او خلیفه د تکذیب او بطلان سبب ګرځوي، همدا کار د کفارو د جنګ یوه برخه ده، غواړي په دې طریقه د مسلمانانو په اذهانو حمله وکړي او د بیعت پرځای ورته د جاهلیت ژوند ښه او راحت منـد ښکاره کړي ترڅو مسلمانان د اتفاق او جماعت پرځای د افتراق او جهالت ښکار وګرځي او د بیعت نه شاته شي ترڅو مسلمانان د تل لپاره د کفارو د تأثیر او اقتدار لاندې ذلیل او رسواء ژوند تیرکړي، همدارنګه بیا د عمر رضي الله عنه د شهادت نه بعد چې کله عثمان رضي الله عنه خلیفه مقرریږي، راشئ لږ د هغه د خلافت څخه هم.

څانونه خبرکړئ!

(خلیفه راشد عثمان الأموي رضي الله عنه)

عمر رضي الله عنه د شدید زخمي توب په حالت کې فوراً د أهل الحل والعقد شپږ کسیزه شوری دایره کړه چې هغې کې علي، عثمان، طلحة، زبیر، عبد الرحمن بن عوف او سعد بن أبي وقاص رضي الله عنهم اجمعین وو، ابو طلحه انصاري رضي الله عنه یې د پنځوس کسانو انصارو سره په دوی مقرر کړ چې دوی به یو کور کې وي هیڅ چاته به اجازه نه ورکوي چې د دوی داخل ته ورشي او نه به دوی پرېږدي چې د درېمې ورځې تېرېدو پورې دوی امیر ونه ټاکي. [کمافی الطبقات الکبری لابن سعد ٣/٢٧٨]

دا هرڅه د دې لپاره چې مسلمانانو ته امام او خلیفه ټاکل فرض دي، نو الغرض چې کله د هغوی اتفاق په عثمان رضي الله عنه راغی نو هغه سره مسلمانانو بیعت وکړ، عثمان رضي الله عنه هم بعینه د مخکې خلفاوو غوندې د جهاد او إعداد کاروان جاري وساته او په همدې عمري مسیر روان و، اسلام او مسلمانان چې د فتوحاتو، ساحاتو، سهولتونو او مالي پراخۍ سره څومره اندازه د خلافت په دې دور کې برخمن او مشرف شول، دغه زمانه دولس ورځې کم دولس کاله ذکر کیږي، [کما في مورد اللطافة فیمن ولی السلطنة والخلافة ١/٥٥]

د خلافت په دې زمانه او عصر کې چې کوم

فتوحات شوي نو دا قسم فتوحات او مالي پراخي مخکې نده شوې، ارمينية، ازار بايجان، قبرص طرابلس او قسطنطنيه فتح شوي دي، خلافت په افريقايي ممالکو وزرونه غزولي، روم باندې د حملو لپاره د اسلام شهسواران مستعد شوي خو دلته بيا عجيب حکمت او لوی امتحان د الله رب العالمين دا وګورئ چې په خپل کور او د خلافت راشده په مرکز او دارالخلافة کې د دې خلافت دغه راشد خليفه او د رسول الله صلى الله عليه وسلم زوم ذوالنورين او ذوالهجرتين عثمان بن عفان رضي الله عنه د بغاتو او خوارجو د لاسه په بې حده بې رحمۍ سره په شهادت رسيږي داسې چې قلم يې د حکايت نه معذرت غواړي خو د دې هرڅه باوجود د مسلمانانو بالکلية اتفاق دی په دې چې داهم په حقه خليفه او هم يې خلافت حق خلافت دی. بلکې يو د هغو حق او راشده خلافتونو څخه دی چې نبي صلى الله عليه وسلم يې وړاندوينه کړې ده، نو ترننه هيڅ مسلمان د هغه دغه ډول مظلومانه شهادت او د ده خلاف د خوارجو او بغاتو پاڅون او بغاوت د ده په خلافت بدګمانه نکړل، خو أفسوس راشئ چې نن اسلامي دولت او خلافت چې د ځمکې په مخ د جملو اصلي او طاري کفارو په مقابل کې يې د جهاد او برأت هود کړی او بعينه د مخکې راشده خلافتونو په منهج جوړ او روان دی نه حق ګڼل کيږي او نه ورسره ملګرتيا، تعاون او بيعت ته څوک اماده کيږي، بلکې د کفارو کم کرايه بلاعمه صفته ملايان او شيخان د دې خلافت او د دې د خلفاوو متعلق قسما قسم شبهو او شيطاني وسوسو سره داشبهو او وسوسه هم مسلمانانو ته وراچوي چې داڅنګه خلافت او خلفاء دي چې لا خپله محفوظ نه دي او خلکو باندې له ځان سره بيعت لازموي! نو مونږ وايو که دا اعتراض بالفرض په ځای وي، نو بيا دوی د عمر رضي الله عنه د خلافت او امامت څخه څه ځواب کوي؟ د عثمان رضي الله عنه د خلافت او امامت څخه څه ځواب کوي؟ ورووسته راروان د علي رضي الله عنه د خلافت څخه څه ځواب کوي؟ دلته ډېر تعجب راشي چې د يادو خلفاوو سره سرسخته دښمني کوونکي هغه روافض دي چې بدترين مرتد او د صحابه کرامو دښمنان دي هغوی په عثمان او عمر رضي الله عنهما چې کوم اعتراضونه او نيوکې کوي او دوی په حق کې چې د بطلان کوم دلايل ذکر کوي په هغې کې يو هم دغه دليل نه وړاندې کوي چې داڅنګه خلفاء وو، چې محفوظ نه وو، خو نن ځانته مسلمان ويوونکي د خليفه قتل او شهادت د هغه د بطلان سبب ګرځوي، انا لله وانا اليه راجعون، د دوی يوه شيطاني وسوسه داهم ده چې دوی تمکين د خليفه سره د بيعت او خلافت د حقانيت د پاره شرط ګڼي، نو ځواب مو دا دی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په دويمه ليلة العقبة کې چې په لسګونو انصارو په هجرت او طاعت بيعت کولو دغه وخت رسول الله صلى الله عليه وسلم يو لويشت ځمکه تمکين لرلو؟

دغه بحث مونږ بتوفيق الله تعالى په کره دلايلو سره په (وروره تا بيعت کړې دی) نومې رساله کې کړی، هغې ته مراجعه وکړئ دلته يې دوباره يادول مناسب نه ګڼو، دلته مو غرض دا دی چې د عمر او عثمان رضي الله عنهما غوندې خلفاء هم د خپل دارالاسلام په مرکز کې بيا په خپل کورکې د خپلې مظلومې ښځې سره بې ګناه ناحقه په قتل رسيږي، خو څوک د هغه دغه ډول مظلومانه قتل د هغه د خلافت او امامت د بطلان لپاره دليل نه ګرځوي! او بيا نه يوائې دا چې دويم خليفه د خلافت په مرکز کې په شهادت رسيږي، راشئ د مسلمانانو د څلورم خليفه راشد او د رسول الله صلى الله عليه وسلم دال بيت غوره فرد علي بن ابي طالب رضي الله عنه واقعې ته ځير شئ، دا پدې اعتبار سره دريم خليفه دی چې قتليږي.

(خليفه راشد علي بن ابي طالب رضي الله عنه)

موصوف هم يو د راشدينو مهديينو او هغو خلفاوو څخه دی چې د امت هر بچی د

ده د کرامتونو، شجاعت، صحابیت، افضلیت او امامت په اثبات باندې لکه د فطرت داسې یقیني او باوري دی، خو د دې هرڅه باوجود په خپله دارالخلافه کې د دین د بدترینو دښمنانو خوارجو له لاسه په شهادت رسیږي، د هغه دغه قسم شهادت د اولنیو مسلمانانو څخه ترقیامته د راتلونکو مسلمانانو ترمنځ د خلافت او امامت د بطلان سبب نه ګڼل خو پرېږده بلکې دې باره کې سوچ ته هم جواز نه ورکوي، خو په نني عصر کې بیا د کفارو او مرتدینو د داسې فعالو او مجهزو اسبابو د لاس رسي باوجود که د مسلمانانو یو خلیفه د دوی دلاسه په شهادت رسیږي نو بیا د بلعام بچي د عامو مسلمانانو زړونو ته دا انجکشني وهي چې دا څنګه خلیفه او خلافت دی چې د دښمن نه محفوظ نه دی. انا لله وانا إلیه راجعون.

(خلیفة عبدالله بن زبیر رضي الله عنه)

همدارنګه عبد الله بن الزبیر رضي الله عنه هم د مسلمانانو یو حق او رښتونی خلیفه تېر شوی، مناقب او فضایل یې په امت کې د لمر په څېر روښانه دي، کله چې معاویه بن یزید رحمه الله چې د معاویه ابن ابي سفیان لمسي او د یزید زوی دی وفات شو، نو خلکو د عبدالله بن زبیر رضي الله عنه سره بیعت وکړ، چې د ابو بکر رضي الله عنه د لور له خوا لمسی کیږي، د مور نوم یې اسماء بنت ابي بکر ده، دا چې کله خلیفه شو نو په دیارالاسلام کې ورسره له هر جهت څخه بیعتونه وشول چې دا یو شرعي امام او خلیفه مقرر شو، البته د یزید ماما خیل چې حسان بن مالک یې په سرکې واقع و، چې دا د یمنیانو د قبیلې یو سردار او زعیم ګڼل کېده او دأمویانو سخت تائیدوونکی و، دوی نه غوښتل چې خلافت دې دأمویانو له لاسه ووځي، نو دوی دأمویه وو د بل جهت سره بیعت وکړ، چې هغه مروان بن حکم و، هغه یې وروسته له شپږو میاشتو په شام کې خلیفه مقرر کړ، دوی ورته خلیفه ویلی خو د محققینو او کامل عقل لرونکو په نزد یو باغي و، څکه چې ږومبی خلیفه عبدالله بن زبیر رضي الله عنه و، خو دوی یې مخالفت وکړ او مقابل کې یې مروان بن حکم ودرولو چې د دوی ترمنځ بیا ډېر خونړي جنګونه شوي. الغرض رفته رفته دغه حق خلیفه عبد الله بن زبیر رضي الله عنه د وخت د ظالم ترین انسان حجاج ابن یوسف د لاسه په سخته بې رحمۍ سره په شهادت رسیږي چې حتی څو ورځې یې جسد ورته په چوک کې زوړند کړی و، خو د نوموړي دغه ډول شهادت ترننه هیچا د ده د خلافت د بطلان او یا د ده د امامت غیر مستحقیت سبب نه دی ګڼلی، نو بیا نن د ابوبکر بغدادي القریشي، د ابو ابراهیم الهاشمي، د ابوالحسن القریشي او د ابوالحسین القریشي تقبلهم الله تعالی اجمعین شهادتونه ولې د دوی د امامت او خلافت د بطلان سبب وګڼل شي، سره له دې چې دوی په خپل عهد، ایمان، اسلام او توحید د کفارو او مشرکانو سره په جهاد او برأت تر اخري سلګی پوري کلک ولاړ پاتې شوي دي ان شاء الله تعالی نحسبهم کذلک والله حسیبهم.

مسلمانه وروره! نو د مقالې په اخر کې اول هغه مسلمان ورور په دې وجه مخاطب کوم چې د باطل پرستو په دې او دېته ورته شبهاتو او اعتراضاتو باندې دوکه او خطا شوی دی او په موجوده حق خلافت او یا یې په خلفاؤو بدګمانه شوی، اوله خبره دا ده: ای مسلمانه وروره! که نن په تا د خپل خلیفه شهادت یوغم او مصیبت ګرځیدلی نو دا غم او مصیبت د هاغه غم او مصیبت نه کم وګڼه کوم چې د عمر، عثمان، علي او زبیر رضي الله عنهم په شهادتونو ستا په ورونو صحابه کرامو او تابعینو باندې راغلی و! بل پدې خبره سر خلاص کړه چې څنګه شهادت د هغوی امامت، کرامت، حقانیت او خلافتونه باطل ونه ګرځول داسې، الحمد لله ستاسې خلافت هم په هماغه مسیر ګام په ګام روان دی چې د بطلان هیڅ دلیل او ثبوت یې څوک نه شي ورانددې کولای ولوکان بعضهم إلی بعض ظهیرا.

***

د بحث خلاصه :

نود دې مختصر تفصیل نه باید هر چاته داجوته شوي وي چې زمونږ د موجوده خلفاوو شهادتونه او اسارتونه کومه نوې خبره نده، بلکې د اسلام په تاریخ کې د رومبۍ ورځې څخه د إبتلاء دا کیسې او حادثې راروانې دي، چې دا محض یو امتحان دی، فقط الله رب العالمین وربانديي خپل بنده ګان ازمایي د دې لپاره چې سبا الله ته ورځي کامیابو ته جزأ او ناکامو ته که وغواړي نو سزأ ورکړي، الله متعال په [سورة الأنبیاء: ۳۵] نمبر ایت کریمه کې فرمایي: **{وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ }** ژباړه : او مونږ تاسو لره په شر او خیر دواړو سره ازمایو لپاره د امتحان اخستو ستاسې نه او بیا زمونږ طرف ته ستاسو رجوع کیدی شي، نو دا هم نه دی مګر یو د امتحاناتو څخه چې الله تبارک وتعالی یې په اړه په [سُورَةُ البَقَرَة ۱۵۵] نمبر ایت کریمه کې فرمایي: **{وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ }** ژباړه: او مونږ هرومرو په ویره، خطر، لوږه، د سر او مال په تاوان او د عایداتو په خساره کې په اخته کولو په تاسې ازمېښت کوو، او ای پیغمبره صبر کوونکو ته زیرې ورکړه!. نو لکه څنګه چې زمونږ اولني مسلمانان ورونه په داسې حادثو او مصیبتونو کې په حق ثابت قدمې پاتې شوي او د کلک صبر مظاهره یې کړې او په دې سره یې د رب مرسته او مدد حاصل کړی نه داچې په خپل نظام او حاکم بدګمانه شوي او نه د منافقانو په شبهو او وسوسو له حق څخه په بل مخ ګرځېدلي، نو نن مونږ هم باید دا د الله رب کریم له لوري یو امتحان وګڼو، په دې کې د رب په نزد د کامیابۍ حاصلول همدا دي چې صبر وکړو، په حق او ریښتوني جماعت او د هغې په حق پرست مؤمن امام بدګمانه نشو، د حاکم د بطلان لپاره د کفارو له لاسه د هغه قتل د هغه د دین او ایمان د پختګۍ دلیل ګرځي، نه د هغه د بطلان.

مسلمانه وروره! تاته د دې مخکینیو خلفاؤو په شهادتونو کې یو غټ درس پروت دی، هغه داچې ته هم باید په دې ټولو حوادثو کې ثابت قدمې پاتې شې او دا زړه ته کوزه کړې چې دې باب کې په تا راغلي مشکلات او مصیبتونه صرف تنها پر تا نه، بلکې له تاڅخه مخکې په خیر القرون کې هم ستا په هغه ورونو راغلي چې په زر ها چنده له تاڅخه غوره او افضل انسانان وو، نو مبارک شه داچې د خلفاؤو دغه قسم شهادتونه تاته ستا د خلافت او خلفاؤو حقانیت ثابتوي، نو ته هم د علم لرونکو منافقانو او یا هم د ناپوهه بې علمه جاهلانو په وسوسو او شبهاتو بانديي په خپل حق او نبوي منهج جوړ خلافت او په خپل حق پرست او مشروط بشروط الخلافة امام بانديي بدګمانه او له طاعت څخه یې لاس په سر نه شې ترڅو یې له بیعت نه شاته او د جاهلیت د مرګ مستحق ونه ګرځې، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : ("من خلع یدا من طاعة، لقي الله یوم القیامة لا حجة له، ومن مات ولیس في عنقه بیعة، مات میتة جاهلیة، ژباړه: چاچې لاس له طاعت څخه واخست د الله سره به د قیامت په ورځ مخامخ شي چې هیڅ دلیل (عذر) به نه لري چې ځان خلاص کړي، او څوک چې مړ شو او په غاړه کې یې بیعت (د إمام) نه وي نو دا مړ شو په مرګ (په شان) د زماني د جاهلیت والاو. [صحیح مسلم رقم الحدیث ۱۸۵۱] دغه ډول د جماعت نه د وتلو او د امام او خلیفه له طاعت نه د لاس ویستلو چې څومره وعیدات احادیثو کې ذکر دي، نو هغه تقریباً تواتر ته رسیږي اګر چې د منونکي بنده او امتي لپاره د خپل رب او یا د هغه د رسول یو فرمان هم کافي دی.

وباالله تعالی التوفیق والحمد لله رب العالمین.

هو! ټول وژنو

هو! د طالب ملېشو او رافضي مشركينو عقيده يوه ده ځكه يي ورونه ګڼي او ترينه ځاريږي . دوی دې ساتي او موږ به يي وژنو ، دوی دې ورونه بولي موږ به پرې اورونه بلوو، دا ځکه چې دوی مشركين دي ، دوی صحابه رضي الله عنهم ته كنځل كونكي مرتدين دي ، دوی قران كريم نه مني او دا تحريف شوی بولي ، دوی د اهل سنتو قاتلين دي ، دوی د امريكا په شمول د ټولو كفارو ايتلافيان او د دوی نيابتي ملېشې دي

دوی دې داسې کفر او شرک کوي ، ښکاره دې ام المؤمنین عایشه رض الله عنها او نورو صحابه رضي الله عنهم ته کنځلې کوي او بدې ردې وايي ، علي رضي الله عنه سنتو قتل عام کوي هغوی دې په اورونو کباب کوي د هغوی د تور سرو بېعزتي دې کوي ، ماشومان دې ورته د دوی په مخ کې وژني له هغوي دې په ژوندوني دوی دې خپل ورونه وبولي ، د دوی امنیت دې وساتي او د دوی د نیابتي ملېشو رول دې ولري .

نه ،هیڅکله داسې نه ده .

که د آی ایس آی د وندر ښخه یی په خپلو ادارو کې د محتسبینو په شمؤل ګڼ کسان په مختلفو عهدو ګمارلي ، دوی خپل تن او وجود ګڼي .

او دا ځکه چې طالب ملېشو

دې نعوذ بالله خالق او مالک ګڼي قران کریم دې یو بدل کتاب بولي ،ستر طاغوت خمیني دې د نورو چټیاتو ترځنګ الله سره د خبرو کولو دعوه کوي . په شام ، عراق ، خراسان او نورو سیمو کې دې د اهل غوړونه پرې کوي او سترګې دې ترې وباسي .

خو ددې هر څه باوجود دې رافضي مشرکین بیا له موږ دا تمه لري چې د اسلامي دولت مجاهدین دې هم د رافضي مشرکینو په غاړو کې ګلونه واچوي ، سخوندر ملا متکي او نور یې روافض خپل ورونه بولي او دوی ته د هر ډؤل امنیت ډاډ ورکړي نه یوازې ډاډ بلکې دا چې دوی د رافضي مشرکینو ساتنه کوي ، په مراسمو کې ورسره اشتراک کوي ، د دوی ته چې کله امریکا د کابل ګدئ وسپارله د نورو کفري شرائطو ترڅنګ یي پرې دا په کلکه منلې وه چې امریکا ته د وفاداره رافضي مشرکینو هغسې ساتنه وکړي څنګه یي چې جمهوریت کوله او همغسې ورته د

هرېۋل شرک او کفر کولو اذادي وي څنګه يي چې په جمهوريت کې وه ، ځکه نو طالب ملېشي شپه او ورځ د رافضي مشرکينو په ساتنه کې ستړي دي .

د ايران رافضي مشرکينو هم په همدې خاطر په هره برخه کې د طالب ملېشو ملا ورتړله ترڅو دوی سره د کابل ګدۍ ته په رسيدو کې همکاري وکړي او دوی د اسلامي دولت د بريدونو څخه خوندي کړي ، خو کله چې طالب ملېشي په واک کې راغلې نه يوازې دا چې د خپلو بادارو رافضي مشرکينو د وژنې مخه يې ونه شوه نيولې بلکې په ايران ، افغانستان او پاکستان کې د رافضي مشرکينو وژنه لا زياته شوه ، ايراني مشرکين مجبور شول چې طالب مشرکينو سره خپلې همکارۍ زياتې کړې او طالب ملېشي هم په دې برخه کې د رافضي ايران سره د استخباراتي مالوماتو په شريکولو سره هڅه کوي چې ايران ته د اسلامي دولت بريدونه سرايت ونه کړي .

خو له څه چې دوی ويره لري الله عزجل همغسې دوی ړاروي او درډوي ، د شا چراغ د اتلوال بريد راوروسته رافضي مجوس سخت ډار او هيبت ونيول.

هغه مهال يې د اسلامي دولت دوه تنه مجاهدين په ډيره بې رحمۍ په شهادت ورسول ، چې همغه وخت ورته د اسلامي دولت د خراسان ولايت ميرنيو غازيانو اختار ورکړ چې د خپلو شهيدو ورونو داسې دروند غچ به اخلي چې د دوی په تصور کې هم نه وي .

له دې اختاريې وروسته چې د اسلامي دولت مجاهدين په ايران کې د رافضي مشرکينو د وژلو په پلان ګذارۍ بوخت وو، نو ايراني مجوسو او طالب مشرکينو له دې خاموشۍ داسې فهم واخيست چې ګوندې د اسلامي دولت مجاهدين يې ځپلي په طالب او رافضي مشرکينو يې د بريدونو له توانه ويستلي ، ځکه نو ايراني مشرکينو هم طالب مرتدين په شاوتپول او طالب ملېشو هم په ډېر شدومد د اسلامي دولت د نابودۍ سندرې زمزمه کړې.

دوی لا په همدې تکراري باتو شخوند واهه چې د اسلامي دولت دوه تنه زړورو استشهادي اتلانو ....عمر مؤحد او سيف الله مجاهد د خپل خليفه سره دا عهد تازه کړ چې دوی به صحابه و ته سپکاوي کونکي د اهل سنتو قاتلين او د امريکا او نوري کفري نړۍ متحدين په خپل کور کې د بارودو په لمبو سيزي او د خپلو دوه ملګرو ....نعيم قتالي او محمد رامز رشيدي غچ به

Security Council Press Statement on Terrorist Attack in Kerman, the Islamic Republic of Iran

The members of the Security Council condemned in the strongest terms the cowardly terrorist attack in the city of Kerman, the Islamic Republic of Iran on 3 January 2024. This reprehensible act of terrorism resulted in the grievous loss of more than 100 lives, including children and women, and has left 211 others injured, some in critical condition.

The members of the Security Council expressed their deepest sympathy and condolences to the families of the victims and the Government of the Islamic Republic of Iran, and they wished a speedy and full recovery to those who were injured.

The members of the Security Council reaffirmed that terrorism in all its forms and manifestations constitutes one of the most serious threats to international peace and security.

The members of the Security Council underlined the need to hold perpetrators, organizers, financiers, and sponsors of these reprehensible acts of terrorism accountable and bring them to justice. They urged all States, in accordance with their obligations under international law and relevant Security Council resolutions, to cooperate actively with the Government of the Islamic Republic of Iran, as well as all other relevant authorities in this regard.

The members of the Security Council reiterated that any acts of terrorism are criminal and unjustifiable, regardless of their motivation, wherever, whenever, and by whomsoever committed. They reaffirmed the need for all States to combat by all means, in accordance with the Charter of the United Nations and other obligations under international law, including international human rights law, international refugee law, and international humanitarian law, threats to international peace and security caused by terrorist acts.

4 January 2023

Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan reposted
Abdul Qahar Balkhi
@QaharBalkhi

وزارت امور خارجهٔ امارت اسلامی افغانستان وقوع دو انفجار در استان کرمان جمهوری اسلامی ایران را که منجر به جان باختن و جراحت تعدادی از شهروندان آن کشور گردیده، محکوم می‌نماید.

Translate post

ISLAMIC EMIRATE of AFGHANISTAN
MINISTRY of FOREIGN AFFAIRS
MoFA
mofaAF
mfa.gov.af

7:25 AM · Jan 4, 2024 · 92.9K Views

تري هم اخلي .

هوا!

د کرمان په واټونو کې د اسلامي دولت د دوه تنه انغماسي زمرو د تکبیر د هیبتي نارو سره د چاودیدونکو درنو واسکټونو تندریزو غږونو د ایراني مجوسو له سرونو د فارس د امپراطورۍ خیالي فکرونه وتورول ، او د اهل سنتو د ستر قاتل قاسم سلیماني تلین ته راټول شوي د سلګونو رافضي مشرکینو د وینو ویالې وبهیدې .

په دغه مرګوني بریدونو کې چې د ایراني لوړ پوړو چارواکو ، پولیسو ، د فاطمیون د افغان مشرکو غړو په شمول په کې په سلګونو مشرکینو ته مرګ ژوبله واوښته تولو نړۍ يي د دار په مرګوني کمر ودرولو ، د نړۍ د کفري او طاغوتي مشرانو په څېر طالب ملیشو هم په دغه برید خواشیني وښوده او د خپلو رافضي مشرکینو په درد يي اوښکې توې کړې او د خپلو مشرکو وروڼو اوښکي يي ورپاکې کړې چې خیر مه خفه کیږئ زموږ او ستاسې دښمن یو دی .

هوا!

طالب ملیشو د همدې برید په غبرګون کې په دې خاطر ډول ډول څرګندونې وکړې چې چرته ایراني مشرکین او نور کفار افغانستان ته ګوته ونه نیسي چې برید له همدې ځایه طرحه شوی ، چې بیا به د طالب ملیشو دا لاپې او دعوې تولې دروغجنې شي چې تازه يي تکرار کړې وې چې دوی اسلامي دولت په افغانستان کې ځپلی ، ځکه يي نو یو ځل بیا جاهل راوغوښتل او ویې ویل چې اسلامي دولت په افغانستان کې هیڅ مرکزیت نه لري .

جاهل لا د مرتدو رسنیو سره په همدې تکراري باتو شخوند واهه چې په کابل کې د دوی د ډیرو لاندې د دوی په رافضي وروڼو هم لمبې بلې شوې او د کابل په

کورني راپورونه

له مجاهد وايي هېواد کې د داعش ډلې ۸۰ کسان پاتې دي

3 اونۍ وړاندې

ذبیح الله مجاهد وايي چې په ټول هېواد کې د داعشو شمېر ۸۰ کسانو ته راټیټ شوی دی.

اهد دا څرګندونې د طالبان نیوز ټلویزیون سره په خبرو کې کړې دي او زیاته کړې یې ده چې ډېر ژر به د داعش ډلې دغه کسان د طالبانو لخوا تر پېژندنې ور ل شي.

همدارنګه وویل، چې په افغانستان کې د داعش ډلې ټول پټنځایونه له منځه وړل شوي دي او نور د دې ډلې څخه هېوادوالو ته هیڅ خطر موجود نه دی.

زیاته کړې: " د داعش ډلې ډېر کم کسان پاتې دي چې شمېر یې له ۷۰ څخه تر ۸۰ پورې رسېږي، که څوک وي هم په تېښته دي او تر څارنې لاندې دي، د د له منځه تللي دي»

همدارنګه ویلي: « د داعش ډلې زیات شمېر یې په زندانونو کې دي او تر محاکمې لاندې دي، ډېر لږ کسان یې پاتې دي چې ان شاء الله هغه به هم ډېر ژ او د هغوی ټول فعالیتونه مو ور بند کړي دي»

حال کې ده چې په وروستیو میاشتو کې داعشو د هېواد په ځینو برخو کې یو شمېر چاودنې تر سره کړي وې چې لسګونه افغانانو ته پکې مرګ ژوبله هم او

دې سره سره چې طالبان د افغانستان څخه د ترهګرو ډلو د پاکېدو ادعاوې کوي، خو بیا هم ګاونډي هېوادونه وايي چې په افغانستان کې د سیمې د ځینو پټنځایونه شتون لري، دا هغه موضوع ده چې طالبانو له وړاندې رد کړې ده.

دشت برچي کې د رافضي مشرکینو څخه ډک کاسټر د اور د لمبو خوراک شو او ورسره جوخت د کونړ په مرګوني درو کې د طالب ملېشو غبرګ جاسوسان د زمرو په پنجو کې ژوندي کیوتل او وروسته تري سر ونه پرې شول .

طالب مرتدین چې تل یې د اسلامي دولت د نابودۍ باټې د اسلامي دولت زمرو په دې مخ ورویشتلي په هیڅ هم نه شرمیږي ، دوی هغه مشرک سلیماني ته په قهرمان ویلو هم نه شرمیږي چې په عراق او شام کې یې د اهل سنتو د ښځو او ماشومانو قتل عام وکړ ، دوی یې ژوندي وسیځل ، او دوی یې په ډله ایز شکل ووژل .

دوی هغه سلیماني ته شهید وایي چې د

Maulvi Fazl Al-Hadi Ahmad, official from Ministry of Foreign Affairs of Taliban, called Soleimani a hero of the Islamic world and added: "The struggles and heroism of the martyr General Qassem Soleimani against global arrogance are the pride of the Islamic world."
Video
7/7

2:32 PM · Jan 4, 2024 · 28.4K Views

امریکا او روس په شمول د هر کافر سره یې د مسلمانانو په وژلو کې بیل ، بیل ایتلاف وکړ او د همدوی په حمایه یې د مسلمانانو کورونه او ښارونه ویجاړ کړل . هوا!

د طالب ملېشو او رافضي مشرکینو عقیده یوه ده ځکه یې ورونه ګڼي او ترینه ځارېږي .

دوی دې ساتي او موږ به یې وژنو ، دوی دې ورونه بولي موږ به پرې اورونه بلوو، دا ځکه چې دوی مشرکین دي ، دوی صحابه رضي

الله عنهم ته کنځل کونکي مرتدين دي ، دوی قران کريم نه مني او دا تحريف شوی بولي ، دوی د اهل سنتو قاتلين دي ، دوی د امريکا په شمول د ټولو کفارو ايتلافيان او د دوی نيابتي مليشې دي او دوی ....

طالب مليشو ته وايو ! که زموږ نه منئ او دا په څلور مذهبه مشرک روافض خپله ورونه بولئ اگر که په دې دعوه کې رښتېني یاست څکه تاسې هم مشرکين ياست او روافض هم مشرکان دي څکه يې نو په درد دردمند ياست ، د دوی په ساتنه کې خپل سرونه بايلئ او له دوی څخه د اهل سنت مسلمانانو په وژلو مرسته ترلاسه کوئ نو خپل د هغه وژل شوي ستر طاغوت رجيم فتوه خو به مو اوريدلي وي چې هغه مشرک هم روافض تکفيرول.

په طالب کشرخيلو غږ کوو چې له دې شرک او ارتداد څخه توبه وباسې د اسلامي دولت غيږ ته تاسې ته خلاصه ده ، که مخکې له توبې موږ په تاسې لاس برې شو نو بيا مو توبه نه قبليږي او دا ډيره نيږدې ده چې تاسې به هم د خپلو پلورل شويو مشرانو د خيانتونو ، ارتداد او کفر ته د چوپړ حساب ورکړئ باذن الله ، نو نه خو تاسې په دی تکراري تشو دعوو د اسلامي دولت مجاهدين ختمولای شئ او نه هم خپل رافضي او غربي مشرک ورونه او نه هم خپل سرونه د اسلامي دولت د غازيانو له گذارونو ساتلای شئ باذن الله .

د رجب د میاشتې

بدعتونه او منکرات

د النبأ مجلې څخه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على نبينا محمد خاتم المرسلين وعلى آله وصحبه أجمعين، وبعد:

په شريعت کې نوي شيان را پيدا کول او نوي عبادتونه را جوړول چې د الله له طرفه پرې هيڅ دليل نه وي د هلاکت لاره او د لويو گمراهيو څخه ده، د جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي: (رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله خطبه ويله نو سترگې به يې سرې شوې، غږ به يې اوچت شو او قهر به يې زيات شو، تردې چې تا به گمان کولو چې د کوم لښکر څخه دې وېروي (چې يا سبا درته راروان دی او يا بېگاه) او ويل به يې: (زه او قيامت داسې يو) او د شهادت او منځنۍ گوتې به يې سره نږدې کړې او ويلې به يې: (اما بعد: تر ټولو ښې خبرې د الله کتاب دی، په طريقو کې تر ټولو غوره طريقه د محمد صلى الله عليه وسلم ده، ترټولو بد ترين کارونه په دين کې نوي شيان پيدا کول دي او هر بدعت گمراهي ده). [رواه مسلم]

د رجب مياشت له هغو مياشتو څخه ده چې ترټولو مياشتو پکې ډېر بدعتونه او له ځانه طريقې جوړې شوې، په دې مقاله کې به مونږ په دې مياشت کې هغه مشهور بدعتونه ذکر کړو، ترڅو مؤمن ځان ترې ښه وساتي او تر ښه ځان ترې لرې کړي.

اي موحدينو.. د رجب مياشت ځکه په دې نوم نومول شوې چې د دې درناوی شوی لکه څرنگه چې ابن رجب رحمه الله وايي: "رجب ځکه په دې نوم نومول شوی چې د دې مياشتې احترام کېدلو: يعنې لويوالی يې کېدلو" [تفسير ابن رجب]، ابن کثير رحمه الله د سخاوي څخه د دې نوم په باره کې روايت کړی وايي: "رجب: ترجيب لويوالي ته وايي، او جمع يې أرجاب، رجاب او رجبات ده" [التفسير].

رجب د هغو حرامو (عزتمنو) مياشتو څخه ده چې الله تعالى يې په اړه فرمايلي: {په حقيقت کې د الله په وړاندې د الله په کتاب کې د مياشتو شمېر دولس دی له هغې ورځې چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي چې له هغو څخه څلور حرامې دي، همداسم دين دی، نو په دغو کې پرخپلو ځانونو ظلم مه کوئ} [توبة: ٣٦].

حرامې مياشتې ذوالقعدة، ذوالحجه، محرم او رجب دي لکه څرنگه چې په صحيحينو کې راغلي ابو بکرة د نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت کړی وايي: (وخت بېرته هغه ځای ته را وگرځېدلو چې الله آسمانونه او ځمکه پيدا کړي وو، کال دولس مياشتې دی، چې په دې کې څلورحرامې مياشتې دي، درې پرلپسې مياشتې: ذو القعده، ذو الحجه او محرم او بله مياشت رجب د مضر قبيلې هغه مياشت ده چې د جمادي او شعبان په منځ کې ده).

خو په حرامو مياشتو کې د جنگ په اړه کله چې کافران جنگ پيل کړي ټولو په جواز اجماع کړې خو د دې صورت پرته په نورو حالاتو کې بيا د علماوو اختلاف دی.

ابن قيم رحمه الله ويلي: "په حرامو مياشتو کې د قتال په اړه په داسې حال کې چې کافران جنگ شروع کړي کوم اختلاف نشته، بلکه اختلاف د مسلمانانو له لوري د جنگ په پيلولو کې دی، جمهورو دا روا بللی ويلي يې دي: په دې مياشتو کې د جنگ کولو تحريم منسوخ دی، چې دا د څلورو امامانو رحمه الله مذهب دی، عطاء او نورو ويلي چې دا ثابت دی او نه دی منسوخ، عطاء به په الله باندې قسم کولو چې په حرامو مياشتو کې جنگ نه دی روا او د دې حرمت نه دی منسوخ" [زاد المعاد].

کله چې په دې پوه شوئ نو مونږ به په هغه څه پيل وکړو چې زمونږ مقصد دی، چې هغه په دې مياشت کې خپاره منکرات دي والله المستعان.

له دې منکراتو څخه: د رجب د داخلېدلو دُعا ده:

د انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رجب د راتللو سره ويل: (اي الله مونږ ته په رجب او شعبان کې برکت واچوه او رمضان را ته راوله). دا حديث منکر حديث دی او اکثر محدثينو دا حديث ضعيف بللی.

بيهقي وايي: "زياد النميري په کې تنها شوی او يو بل راوي يې زائدة بن أبي رقاد دی بخاري وايي: زائدة ابن ابي رقاد چې د زياد النميري څخه روايتونه کري هغه منکر دي" [شعب الإيمان].

د منکراتو له جملې څخه: دا مياشت په عباداتو، روژو، لمونځونو، ذبحو او نورو شيانو خاص کول دي

ځينې مسلمانان د رجب مياشت په ځينو عبادتونو سره خاص کوي، دا ګمان کوي چې دا مياشت افضليت، غوراوی او اجر لري، خو صحيح دا ده چې رجب د نورو مياشتو په څير يوه مياشت ده او دا مياشت په کوم ځانګړي عبادت نه خاص شوی او نه ورته توجه شوي. د هغو عباداتو څخه يو صلاة الرغائب دی: چې خلکو د رجب په مياشت کې را جوړ کړی، هغه د رجب په اوله جمعه کې د ماښام څخه وروسته دولس رکعته لمونځ دی، دا بې شکه يو منکر بدعت دی او حديث يې موضوع (د ځانه جوړ کړل شوی) دی، بلکې د جمعې شپه په لمونځونو باندې خاص کولو په اړه د نبي صلی الله عليه وسلم څخه منع راغلې، مسلم د ابو هريره څخه روايت کړی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: »په شپو کې د جمعې شپه لمونځونو ته مه خاص کوئ او همدارنګه په ورځو کې د جمعې ورځ روژې ته مه خاص کوئ، مګر دا چې يو څوک روژه نيسي نو ودې نيسي«.

نووي رحمه الله وايي: " په دې حديث کې په شپو کې د جمعې شپه په لمانځه او ورځ يې په روژې باندې د خاص کولو څخه صريحه منعه راغلې لکه څرنګه چې مخکې تېر شول، د دې په مکروه والي باندې اتفاق شوی او عالمانو له دغه حديث څخه په دې له ځانه جوړ شوي لمانځه مکروه والي باندې حجت نيولی چې په الرغائب باندې نومول شوی، الله دې د دې ايښودونکی او جوړونکی هلاک کړي، دا منکر بدعت ګمراهي او جهالت دی او په دې کې څرګند منکرات دي او د امامانو يوې ډلې د دې بدعت په بدی او د دې بدعتي لمونځ کونکو او بدعت کونکو د ګمراهۍ په اړه او د دې بدعت په باطلوالي او دې بدعتيانو په ګمراهۍ او بدۍ باندې مدلل بې شمېره تاليفات کړي، والله اعلم" [شرح صحيح مسلم].

ابن تيمية رحمه الله وايي: "صلاة الرغائب هيڅ اصل نه لري، بلکې دا د ځانه جوړ شوی دی، نه يې په جماعت کړل مستحب دي او نه په تنهايی سره... او هغه حديث چې د دې په اړه ذکر شوی هغه د علماوو په اتفاق سره دروغ او د ځانه جوړ شوی حديث دی" [الفتاوی، باختصار].

ابن رجب رحمه الله وايي: " د رجب په مياشت کې خاص لمونځ کول نه دي صحيح چې په دې پورې خاص وي او د رجب مياشتې د اولې جمعې په شپه د صلاة الرغائب په فضيلت کې چې کوم احاديث روايت شوي هغه ټول دروغ، باطل او صحيح نه دي او د ټولو علماوو په نزد دا لمونځ کول بدعت دی" [لطائف المعارف].

او د هغو منکراتو له جملې څخه: په رجب کې روژه نيول دي:

د رجب مياشت د نورو مياشتو په څېر ده، پدې مياشت کې د روژې نيولو په هڅونه کې کوم صحيح حديث نه دی روايت شوی، خو هغه چا ته د دې مياشتې دوشنبې، پنجشنبې او د ايام البيض ورځو روژه نيول روا دي چې په نورو مياشتو کې يې دا روژه نيول عادت وي، خو تنها په دې مياشتې کې بيا نه ده روا.

امام مسلم رحمه الله په خپل سند سره د عثمان بن حکيم الانصاري څخه روايت کوي وايي: ما د سعيد ابن جبير څخه د رجب په مياشت کې د روژې نيولو په اړه پوښتنه وکړه، په داسې حال کې چې د رجب

مياشت وه، نو ويې ويل: ما د عباس رضی الله عنه څخه اورېدلي، چې ويل يې: " رسول الله صلى الله عليه وسلم به روژه نيوله تردې چې مونږ به ويل، هېڅ روژه نه ماتوي، او روژه به يې نه نيوله تر دې چې مونږ به وويل: روژه نه نيسي".

نووي رحمه الله وايي: ظاهرا داسې ښكاري چې د سعيد ابن جبير د دې دليل څخه مراد دا دی چې پدې مياشت كې نه روژه نيول مستحب دي او نه هم پدې مياشت كې روژه نه نيول منع شوي لكه د نورو مياشتو په څېر. " [شرح صحيح مسلم].

او يوازې په رجب مياشت كې د روژې د نيولو او يا د رجب د يوې ورځې د روژې د نيولو د فضيلت په اړه ټول روايت شوي احاديث صحيح نه دي.

ابن رجب رحمه الله وايي: "يوازې په رجب مياشت كې د روژې د نيولو د غوروالي په اړه هېڅ شی نه د نبي صلى الله عليه وسلم څخه ثابت شوي او نه د هغه له صحابه ووڅخه".

ابن قيم رحمه الله وايي: " د رجب په مياشت كې د روژې نيولو او په ځينو شپو كې لمونځ كولو ټول احاديث دروغ او د ځانه جوړ شوي دي". {نقد المنقول}

ابن حجر رحمه الله وايي: "د رجب د مياشتې په فضيلت كې، د هغه په روژه كې او يا د هغې مياشتې څخه د يو څو ورځو د روژې په نيولو او يا په دې مياشت كې په لمونځ كولو باندې په يوه خاصه شپه كې داسې يو صحيح حديث نشته چې دليل پرې ونيول شي" [تبيين العجب]

او د هغه منكراتو له جملې څخه: په رجب كې

ذبح كول هم دي چې په (الرجبية) نومول شوي

ځينې خلك د مخنف بن سليم -رضي الله عنه- په حديث باندې دليل نيسي چې وايي: مونږ په عرفات كې د نبي صلى الله عليه وسلم سره ولاړ وو نو ما واورېدل چې ويل يې: (اې خلكو! د هر كور په خلكو باندې په هر كال كې قرباني او عتيره وي آيا تاسو عتيره پېژنئ؟ هغه چې (الرجبية) ورته ويل كېږي)، دا حديث ضعيف دی.

ابن حزم رحمه الله وايي: "د مخنف حديث چې د ابو رملة الغامدي او حبيب بن مخنف څخه روايت شوی - دواړه مجهول دي څوك يې نه پېژني" خبره يې ختمه شوه. [المحلى]،

خطابي رحمه الله وايي: " د دې حديث تخريج كونكى ضعيف او ابو رملة مجهول دی" [عون المعبود]

ابن كثير رحمه الله وايي: په سند كې يې خبره شته " [التفسير]

صحيح حديث چې په صحيحينو كې دی، ابو هريره د نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت كړی وايي: (نه فرع شته او نه عتيره)

وايي: "فرع: اولي زېږېدلى حيوان به وو چې دوی به خپلو طواغيتو ته ذبح كولو او عتيره: په رجب كې وي".

همدارنګه د نورو عبادتونو په هكله هغه كه زكات دی او كه بل څه ابن رجب رحمه الله وايي: " د دې هېوادونو د خلكو دا عادت دی چې د رجب په مياشت كې خپل زكاتونه وباسي، چې په سنت كې دا هېڅ اصل نه لري او د سلفو له هيچا څخه نه دی ليدل شوی...

په رجب كې د عمرې كولو په اړه د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: نبي صلى الله عليه وسلم په رجب مياشت كې عمره كړې، نو عائشې رضي الله عنها د هغه په دې قول انكار وكړ، په داسې حال كې چې دی ده اورېدلو خو چوپ پاتې شو" {لطائف المعارف}.

د الله تعالى څخه سوال كوم چې په خپل فضل او كرم سره د سنتو د اتباع او د بدعتونو څخه د ځان ژغورلو توفيق راكړي، والله تعالى اعلم.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه والتابعين والحمد لله رب العالمين.

***

لا إله إلا الله
الله
رسول
محمد
په خپلو
مالونو سره
جهاد وکړئ
د خالد بن زید رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې
د الله په لار کې مجاهد (په اسلحه او توښه) سنبال کړ یقیناً چې ده غزا وکړه او څوک چې د الله په
لار کې د مجاهد د کورنۍ په کفالت کې پاتې شو ده غزا وکړه.

مقدمه:

الحمد لله الذي أمر بالإنفاق في سبيله، و يُضاعف فيه الأجر والثواب لمن يشاء من عباده، والصلاة والسلام على من اجود الناس في خلقه أمابعد:

قال تعالى: انفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ [سُورَةُ التَّوْبَة : 41]

دا چې قتال او جهاد د مسلمانانو لپاره د اخروي کامیابۍ تر څنګ په دنیا کې د خپل دین، نفس، مال، عقل او عزت ساتونکی دی، او په همدې جهاد سره د ځمکې څخه شر او فسادونه ختمیږي، د ظالمانو او بې رحمه خلکو مخه نیول کیږي، د الله د شعائرو ساتنه ورباندي کیږي او مظلومان د ظالمانو له منګولو څخه پرې نجات مومي، نو ځکه یې قرآن او سنت ډیر اوچت مقام ذکر کړی او د احیاء لپاره یې بې شمیره نصوص نازل کړي، پدې مقاله کې به د الله عزوجل په توفیق سره د همدې مقدسي فریضې روح، عصب، او حیاتي عنصر باندې خبره کوو، هغه روح چې جهاد بغیر له دې ژوندی نه شي پاتې کیږي، هغه عصب چې د قتال او جهاد هر برخه په هوش کې راولي، چې هغه انفاق في سبیل الله دی، چې په بل تعبیر ورته جهاد بالمال هم ویلی شو، چې قرآن او سنت کې په نا اشنا طریقو دې جهاد ته الله عزوجل خپل بندګان دعوت کړي، کله د ترغیب په طریقه، کله د مثالونو وړاندې کولو په طریقه کله د انفاق نه کونکو په مذمت ذکر کولو او داسې نورو مختلفو لارو دې جهاد ته مؤمنان بلل کیږي، نو په همدې اساس به مونږ هم په راتلونکو صفحو کې د انفاق في سبیل الله فضائل، اهمیت، آداب، فوائد، د نبي صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو عملي نمونې، د اسلامي نظام اقتصادي منابع او داسې نور ذکر کړو ترڅو د مؤمنانو په زړونو او عمل کې دا جهاد یو ځل بیا راژوندی شي.

وصلَّى اللهُ وسلَّم على نبيِّنا محمَّد، وعلى آلِه وصَحْبِه أجمَعِين.

***

د جهاد بالمال اهمیت او فضیلت:

جهاد بالمال هغه عمل دی چې د جهاد بالنفس څخه یې اهمیت او فضیلت کم نه دی، ځکه د جنګي الاتو او اسلحو برابرول او د مجاهدینو او د هغوی د اهل عیال د کفالت کولو څخه پرته د دښمنانو پر وړاندې قتال او جهاد کول ناشوني دي، نو اسلحي اخیستل او برابرول او مجاهدین مجهز کول او د دښمن مقابلې ته یې لیږل ټول مال ته ضرورت لري.

جهاد بالنفس او جهاد بالمال دا دوه نه جداکیدونکي خانګې دي چې قرآن کریم کې یې هم الله عزوجل بار بار سره یوځای ذکر کړي:

الله عزوجل فرمایي: {إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ} [سُورَةُ التَّوْبَة : 111]

ژباړه: حقیقت دا دی چې الله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کې اخیستي دي.

بشیر بن الخصاصیة رضي الله عنه وايي زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم چې بیعت ورسره وکړم نبي صلی الله علیه وسلم په ما شرط ولګاوه، چې باید ګواهي د (لا إله إلا الله محمدرسول الله) ورکړم او لمونځ قائم کړم، زکات ورکړم او د بیت الله حج وکړم او د رمضان د میاشتې روژې ونیسم، او د الله په لار کې جهاد وکړم، هغه وايي ما ورته وویل: د جهاد او صدقې (زکات) ورکولو طاقت نلرم، رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه لاس ونیو او ویې خوځوه او ورته یې وویل: **" فَلَا جِهَادَ , وَلَا صَدَقَةَ , فِيمَ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِذًا ؟ " , قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ , أَنَا أُبَايِعُكَ , قَالَ : فَبَايَعْتُ عَلَيْهِنَّ كُلِّهِنَّ** .(مسند احمد رقم الحدیث: 21389)

[قال الهیثمي في مجمع الزوائد: رواه أحمد والطبراني في الكبير والأوسط واللفظ للطبراني ورجال أحمد موثقون)

ژباړه: چې نه جهاد وي او نه صدقه نو په څه شي جنت ته داخلیږي ؟ هغه وايي: ما ورته وویل: ای د الله رسوله زه درسره بیعت کوم، هغه وايي: پدې ټولو اعمالو

مې ورسره بیعت وکړ.

همدارنګه جهاد چې څنګه نفسونو ته ضرورت لري همداسې مال ته هم ضرورت لري ، له همدې وجې که قران او سنت ته سر ورښکاره کړو، نو بې شمیره فضائل ، ترغیبات او مال سره جهاد کولو اوامر به ووینو او ترڅنګ به مو د هغه چا مذمت او بدي او بد عاقبت په نظر راشي چې کوم خلک جهاد بالمال نکوي ، د الله عزوجل په لار کې انفاق او خرڅه نه کوي.

بلکې د ډیر تعجب خبر خو داده چې الله عزوجل په خپل کتاب کې جهاد بالمال په جهاد بالنفس مقدم کوي.

الله عزوجل فرمایي: **{انفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَٰهِدُوا بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ}** [سُورَةُ التَّوبَة : 41]

ژباړه: که سپك یاست که درانه (غزا ته) ووځئ او د الله په لار کې په خپلو مالونو او په خپلو نفسونو سره جهاد وکړئ. دا ستاسې لپاره ډیره ښه ده که پوهیږئ.

همدارنګه بل ځای الله عزوجل فرمایي: الَّذِينَ ءَامَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَٰهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ اللَّهِ ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَآئِزُونَ [سُورَةُ التَّوبَة : 20]

ژباړه: د الله په وړاندې د هماغو خلکو درجه لوړه ده چې ایمان يې راوړ، د هغه په لار کې يې هجرت وکړ (کور او کلی يې پرېښوی) او په سر او مال يې جهاد وکړ، هماغوی بریالي دي.

دارنګه سورة انفال کې هم الله عزوجل جهاد بالمال په جهاد بالنفس مقدم کړی او فرمایي: **إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَٰهَدُوا بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ ءَاوَوا وَّنَصَرُوٓا أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ** [سُورَةُ الأنفَال : 72]

ژباړه: کومو خلکو چې ایمان راوړ، دغه راز هجرت يې وکړ او د الله په لاره کښې يې په خپل سر او مال وجنګېدل. او کومو خلکو چې مهاجرینو ته ځای ورکړ او له هغو سره يې مرسته وکړه، هماغوی په اصل کې يو د بل دوستان دي.

همدارنګه الله عزوجل فرمایي: **إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ ءَامَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَٰهَدُوا بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّدِقُونَ** [سُورَةُ الحُجرَات :15]

ژباړه: په حقیقت کې خو مؤمنان هغه دي چې پر الله او د هغه پر پیغمبر يې ایمان راوړ. بیا هغوی څه شك ونکړ او په خپلو مالونو او سرونو سره يې د الله په لاره کې جهاد وکړ، همغوی رښتیني خلك دي.

امام قرطبي رحمه الله وایي: وقدم الأموال في الذكر إذ هي أول مصرف وقت التجهيز.

ژباړه: مال يې اول ذکر کړ ځکه چې په وخت د تیارۍ کې اول مصرف د مال وي.

نو پورته ایاتونه دلیل شو په اهمیت د جهاد بالمال او د الله په لار کې په مال خرڅه کولو ځکه چې جهاد بالمال يې په جهاد بالنفس مقدم کړی ، او د دې د اهمیت او اوچت مقام وجه هم همدا کیدایشي، چې عام خلك د مال په دفاع کې قتال او جنګ کوي چې مال مې ضایع نه شي زیات شي او د غلو او نورو خلکو څخه يې محفوظ کړي ،خو مجاهد بالمال رالګیږي او په خپله خوښه خپل مال راخلي او د الله په لار کې يې خرڅ کوي!

تاسی وګورئ کفار په خپلو عسکرو او هغه چا چې د هغوی د خاورې دفاع کې ولاړ وي څومره مالونه خرڅ کوي، بلکې تر هر څه همدې عسکرو ته ترجیح ورکوي چې د هغوی د ملك او پولو ساتنه کوي، نو مؤمنان خو ډیر حقدار دي چې په هغه فریضه کې خپل مال ولګوي ،چې د هغې له وجې يې دین ، نفس ، مال ، او عزت محفوظیږي، او په همدې فریضی سره يې د اسلام سرحدات ساتل کیږي!

په همدې وجه الله عزوجل مؤمنانو ته اعلان کوي او فرمایي: **هَٰأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِ وَاللَّهُ الْغَنِىُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَآءُ وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓا أَمْثَٰلَكُم** [سُورَةُ مُحَمَّد : 38]

ژباړه: وګورئ، تاسې ته بلنه درکول کیږي، چې د الله په لاره کې مال ولګوئ، نو ستاسې څخه

ځینې کسان داسې دي چې بخیلي کوي او چې څوک بخیلي کوي، په حقیقت کښې پر خپل ځان بخیلي کوي الله خو شتمن دی او تاسې هغه ته اړ یاست، که تاسې مخ واړوئ، نو الله به ستاسي په ځای کوم بل قوم راولي؛ او هغوی به بیا ستاسې په څیر نه وي.

دارنگه جهاد بالمال او د رب په لار کې انفاق کول یوه داسې ستره سوداگري او تجارت دی چې هیڅ تاوان نه لري، سورة فاطر کې الله عزوجل دې خبرې ته اشاره کوي او فرمایي: **إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّن تَبُورَ** [سُورَةُ فَاطِر : 29]

ژباړه: کوم کسان چې د الله کتاب لولي او لمونځ قائموي او څه چې موږ هغو ته روزي ورکړېده ، د هغې څخه په پټه او ښکاره (د الله په لار کې) لگښت کوي، په یقیني ډول هغوی د داسې یوې سوداگرۍ هیله مند دي چې په هغې کې به هیڅکله زیان نه وي.

همدارنگه جهاد بالمال د انسان څخه د بخل او حرص بد مرضونه ورک کوي او دا د انسان لپاره یوه کامیابي شمیرل کیږي .

الله تعالی فرمایي: **فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنفِقُوا خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ** [سُورَةُ التَّغَابُن : 16]

ژباړه: له دې امله تر څو پورې چې ستاسې په وس کې وي، له الله څخه وېرېدونکي اوسئ او (د هغه فرمان) واورئ او اطاعت وکړئ او خپل مال (د الله په لار کې) ولگوئ،همدا ستاسې لپاره خیر دی، څوک چې د خپل نفس د حرص څخه خوندي پاتې شو، نو همغوی بري موندونکي دي.

قرآن کریم کې الله عزوجل انفاق في سبیل الله ته په نا اشنا طریقو سره دعوت ورکوي ،که انسان چیري فکر وکړي ، سورة بقره کې الله عزوجل انسانان مخاطب کوي چې اې خلکو پر تاسې داسې یوه ورځ حتمي راتلونکې ده چې د دنیا ټول ساز و سامان به درڅخه جدا شي، ټول قوتونه به مو زائل شي او په یوائې ځان به مو معامله د الله جل جلاله سره شروع شي ، په دغه وخت کې به اخیستل خرڅول او تجارت نه شئ کولای ، دوستان به مو هم نه وي ، او څوک به مو سفارش هم نه شي کولای ، نو لهذا د دغې ورځې له راتلو څخه مخکې د خپلو مالونو یوه برخه د الله په لاره کې ولگوئ :

الله تعالی فرمایي: **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ** [سُورَةُ البَقَرَة : 254]

ژباړه: اې مؤمنانو! څه مال شتمني چې مو درکړېده، له هغه څخه لگښت وکړئ، مخکښې له دې چې هغه ورځ راشي چې په هغې کښې به نه اخیستل او خرڅول وي، نه دوستي په درد خوري او نه به سپارښت کار وکړي او ظالمان په اصل کې هغه کسان دي چې د کفر لاره غوره کوي.

همدارنگه الله عزوجل فرمایي: **قُل لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ** [سُورَةُ إبراهيم : 31]

ژباړه: اې پیغمبره زما کومو بندگانو چې ایمان راوړی دی، هغو ته ووایه چې لمونځ قایم کړي او څه چې موږ ورکړیدي، له هغو څخه (د خیر په لاره کې) په پټه او ښکاره لگښت وکړي، مخکې له دې څخه چې هغه ورځ راشي چې نه به په کې رانیول او خرڅول وي او نه به د خپلوۍ پالنه وشي.

دارنگه د قرآن کریم ترڅنگ رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په خپلو سنتو کې جهاد بالمال ته زیات ترغیبات ورکړي، چې د کفارو او مشرکینو مقابل کې خپل مالونه خرچ کړئ: **عَنْ أَنَسٍ ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ"** (سنن ابي داود: 2146)

ژباړه: د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې یقیناً نبي صلی الله علیه وسلم وویل: جهاد وکړئ د مشرکانو سره په خپلو مالونو ،نفسونو او

ژبو سره.

إمام شوكاني رحمه الله وايي: **فيه دليل على وجوب المجاهدة للكفار بالأموال والأيدي والألسن. وقد ثبت الأمر القرآني بالجهاد بالأنفس والأموال في مواضع، وظاهر الأمر الوجوب.** (نيل الأوطار: 7/251)

ژباړه: په دې کې د کفارو سره په مال، لاسونو او ژبو د جهاد د فرضيت ثبوت دى، او په ډېرو ځايونو کې په نفس او مال سره جهاد ثابت دى په قراني دليل سره او حکم يې فرض دى.

همدارنګه إمام صنعاني وايي: **الحديث دليل على وجوب الجهاد بالنفس وهو بالخروج والمباشرة للكفار، والمال وهو بذله لما يقوم به من النفقة في الجهاد والسلاح ونحوه، وهذا هو المفاد من عدة آيات في القرآن.** {وجاهدوا بأموالكم وأنفسكم} [التوبة: 41] **والجهاد باللسان بإقامة الحجة عليهم ودعائهم إلى الله تعالى وبالأصوات عند اللقاء والزجر ونحوه من كل ما فيه نكاية للعدو.** (سبل السلام: 2/460)

ژباړه: دا حديث دليل دى په نفس سره د جهاد کولو په فرضيت او دا عملاً د کفارو مقابل کې د وتلو په معنى دى، او (دليل دى په جهاد کولو) د مال سره او دا مصرفول د مال دي د هغه څه لپاره چې په جهاد او اسلحې وغيره کې کافي شي، او دا په قرآن کې د يو شمير آيتونو څخه معلوميږي (لکه) «او د هغوى سره په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد وکړئ او په ژبې سره جهاد، قائمول د حجت دي په هغوى او الله تعالى ته په بلنې سره، او چغې وهل دي د (تکبير) د مخامخ کيدو په وخت کې (دشمن) ته او رټل د هغوى دي او داسې نور هغه چې په هغى کې درد (ذلت) وى دشمن ته.

بل روايت کې هم نقل دي:

عن زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَن رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَدْ غَزَا، وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا" (صحيح البخاري)

ژباړه: د خالد بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې د الله په لار کې مجاهد (په اسلحه او توښه) سنبال کړ يقيناً چې ده غزا وکړه او څوک چې د الله په لار کې د مجاهد د کورنۍ په کفالت کې پاتي شو ده غزا وکړه.

همدارنګه جهاد بالمال يوه قرينه ده ظاهرا د انسان په صداقت، او د هغه د ايمان په قوت دلالت کوي، او هر چې باطن دى په هغې خو الله عزوجل پوهيدونکى ذات دى. حديث د صحيح مسلم رقم 333 کې راځي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: **وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ**،...

ژباړه: او صدقه ورکول دليل دى (په ايمان او صداقت د انسان)

همدا خبره د عبدِ اللهِ بنِ مسعودٍ رضي الله عنه څخه هم امام طبراني نقل کړي چې هغه وايي: **الصَّدقةُ بُرهانٌ والصَّدقةُ جُنَّةٌ** ...(رواه الطبراني باسناد جيد)

ژباړه: صدقه ورکول دليل دى (په ايمان او صداقت د انسان) او صدقه ډال دى (د اور څخه).

همدارنګه انفاق في سبيل الله هغه بهتر او اوچت عمل دى چې جنت کې به الله عزوجل خاص دروازه پدې نوم جوړه کړې وي، حديث کې نقل دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ: يَا عَبْدَ اللَّهِ، هَذَا خَيْرٌ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ" (صحيح البخاري)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې دوه جوړه شيان د الله په لار کې خرچ کړل د جنت له دروازو څخه به ورته اواز کيدايشي: اى د الله بنده دا (عمل چې تا کړى) دا ډېر غوره دى، نو څوک چې لمونځ والا وي نو هغه ته به د باب الصلاة څخه اواز کيدلى شي (چې داسې راشه) او

څوک چې جهاد والا وي نو هغه ته به د باب الجهاد څخه اواز کیدلی شي (چې داسې راشه) او څوک چې روژې والا وي نو هغه ته به د باب الریان څخه اواز کیدلی شي (چې داسې راشه) څوک چې صدقې والا وي نو هغه ته به د باب الصدقه څخه اواز کیدلی شي (چې داسې راشه).

فائده: جهاد بالمال کې نا اشنا وسعت دی، چې حکم یې هر چاته شامل دی که هغه سړي وي که زنانه او که هغه ځوانان وي که بوډاگان ، هغه ماشومان وي او که لویان په خلاف د جهاد بالنفس چې هغې کې خاص خلک برخه اخلي او ځینې نور له هغې څخه مستثنی کیږي!

بیا پدې جهاد کې د مال لپاره شریعت کوم خاص نصاب هم نه دی فرض کړی بلکې هر انسان د خپل استطاعت په اندازه یکې برخه اخیستلی شي!

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دې خبرې ته هم ترغیب ورکوی چې که د یوې کجورې په اندازه مال خرچ کړئ دا هم د الله په نزد ډیر اوچت عمل دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " لَا يَتَصَدَّقُ أَحَدٌ بِتَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ ، إِلَّا أَخَذَهَا اللَّهُ بِيَمِينِهِ ، فَيُرَبِّيهَا كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ أَوْ قَلُوصَهُ ، حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الْجَبَلِ أَوْ أَعْظَمَ"

(صحیح مسلم)

ژباړه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: صدقه نکوي یو شخص په یوی کجوری سره د حلال مال څخه مگر الله یې په ښې لاس ونیسي پس تربیت یې کوي لکه څنگه چې تاسې کې یو کس د آس او اوښې بچي تربیت کوي، تر دې چې د غره په اندازه یا د هغې څخه هم لوی شي.

نو عزتمندو مسلمانانو!

دي باب ته په دې خاتمه ورکوم چې په نظام کې اقتصاد او مال د امیر قوت او مضبوطه قلعه شمیرل کیږي ، او دا د دښمن پر وړاندې په ظاهري اسبابو کې یوه مضبوطه اسلحه ده او سبب دی!

دارنگه مال د جهاد د قیام او ژوندي ساتلو لپاره یو رکن او بنیاد دی چې بغیر له دې د جهاد ابادي نه ساتل کیږي بلکې رانسکوریږي ، د جهاد ډانچه راړنگیږي ، او تنه یې خرابیږي!

نو لهذا هر مؤمن او مؤمنه زنانه باید په جهاد بالمال او انفاق في سبیل الله کې پوره برخه واخلي تر څو د خپل اخرت جوړولو ترڅنگ د جهاد ډانچه او ابادي وساتو او دښمنان ونه توانیږي ،چې د مسلمانانو دین ، عزت مال او معاشره فاسده کړي.

د جهاد بالمال یا انفاق في سبیل الله دنیوي او اخروي گټې:

د الله په لار کې خپل مالونه لگول که هغه زکات وي یا نفلي صدقات وغیره وي ، قرآن کریم کې یې الله عزوجل نا اشنا فضایل او گټې ذکر کړي ،چې د هغې له جملې څخه به یو څو ته د الله عزوجل په فضل اشاره وکړو:

۱: انفاق في سبیل الله او صدقات ورکول د متقیانو صفت دی ، او داسې خلک به رب خپلو نعمتونو او جنت ته داخلوي .

الله تعالی فرمایي: **إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ (15) آخِذِينَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ مُحْسِنِينَ (16) كَانُوا قَلِيلاً مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ (17) وَبِالأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ (18) وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ** [سورة الذاریات:19]

ژباړه: یقیناً متقیان به په جنتونو او چینو کې وي ، په داسې حال کې چې هغه څه لره به نیوونکي وي چې دوی ته یې د دوی رب ورکوي، بېشکه دوی له دې نه مخکې نیکي کوونکي وو ، دوی به د شپې په لږه برخه کې ویده کېدل ، او د سبا ختلو پر مهال به دوی استغفار کاوه ،او د دوی په مالونو کې به د سوالگر او د محروم (مسکین) حق و.

۲: زکات او صدقات ورکول د کامیابی سبب دی

الله تعالی فرمایي: **قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ(1) الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ (2) وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ (3) وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ** [سورة المؤمنون: 4]

ژباړه : په باوري توگه هغو مؤمنانو بری موندلی،

هغه کسان چې پخپل لمانځه کې عاجزي کوي ،او هغه کسان چې له بدو کارو او بدو وینااوو لرې اوسي ، او هغه کسان چې د زکات ورکونکي وي.

۳- صدقات او زکاتونه او جهاد بالمال هغه عمل دی ،چې انسان ته د رب له خوا بښنه کیږي ، او د دې تر څنګ په اداء کولو سره یې مال هم پاکیږي او په معنوي لحاظ د ګناهونو څخه پاکیدل دي.

الله تعالی فرمایي: **خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ** [سورة التوبة:103]

ژباړه: د دوی له مالونو څخه صدقه (زکات) واخله څو دوی د هغې (صدقې) له مخې پاک او برکتي کړې ، او دوی ته دعا وکړه په رښتیا سره چې ستا دعا دوی ته هوساینه ده .

همدارنګه حدیث کې راغلي چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي : **وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ** ...(جامع الترمذي رقم الحدیث 558)

ژباړه : صدقه ګناهونه داسې له مینځه وړي لکه اوبه چې اور سړوي .

۴- صدقاتو ورکولو سره د مؤمن مال زیاتیږي ځکه الله عزوجل پکې برکات اچوي:

الله تعالی فرمایي: **يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ** [سوره البقره :276]

ژباړه : الله سود له مینځه وړي او صدقات زیاتوي او الله نا شکره ګنهکار نه خوښوي.

حدیث کې هم راغلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ , قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ وَلَا يَقْبَلُ اللَّهُ إِلَّا الطَّيِّبَ، وَإِنَّ اللَّهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ ، ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الْجَبَلِ" (صحیح البخاري)

ژباړه: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې د یوې خرما په اندازه حلال مال صدقه کړ ، او الله پاک نه قبلوي مګر یوازې د پاک (حلال) مال (صدقه) او الله تعالی هغه پخپل ښي لاس کې نیسي او هغه ته داسې وده ورکوي د هغه شخص لپاره لکه تاسې چې کره آس ته روزنه او پالنه ورکوئ تر هغه چې دا خرما په اندازه د یوه غره شي.

۵- د الله په لار کې زکات او صدقات ورکول د دنیا او اخرت غمونه او خفګانونه ختموي، الله تعالی فرمایي: **إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ** [سوره البقره :277]

ژباړه : یقیناً هغه کسان چې ایمان یې راوړی او ښه کارونه یې کړي دي او لمونځ یې قائم کړی دی او زکات یې ورکړی دی ، د هغوی اجر د دوی د رب سره دی پر دوی نه کومه ویره شته او نه به غمجن شي .

۶- انفاق او د الله په لار کې مال ورکول ، انسان لپاره سبب د نجات دی جهنم څخه الله تعالی فرمایي: وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى (17) الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ [سورة الليل:18]

ژباړه : د (جهنم د اور نه) به هغه متقیان خلک تر ټولو ژر ګوښه شي چې خپل مال د الله په لار کې ددې د پاره لګوي چې ده ته سپیڅلتیا حاصله شي.

حدیث کې هم راغلي:

عن عَدِيَّ بْنَ حَاتِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ , قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : " اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ" (صحیح البخاري)

ژباړه: د عدي بن حاتم رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې ویل یې: ځان بچ کړئ د اور نه اګر که په (صدقه کولو د) نیمې کجورې سره وي.

۷- په جهاد بالمال او انفاق سره انسان جنت ، تقوی او اکرام او اعزاز ته رسیږي.

الله تعالی فرمایي: **لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ** [سُورَةُ آل عمران : 92]

ژباړه: تاسي نېکی (جنت، تقوی) ته هیڅکله نشئ رسیدای تر څو خپل هغه شیان (د الله په لار کښې) ونه لګوئ چې

تاسي ته گران وي؛ او څه شی چې تاسې ولگوئ، الله پرې عالم دی.

د (الْبِرَّ) تفسير عبد الله ابن عباس او ابن مسعود رضي الله عنهم په تقوی سره کړی او بعضو په جنت او په اعزاز ورکولو سره کړی.

٨- جهاد بالمال او انفاق في سبيل الله سبب د رحمت دی د مؤمن لپاره.

حديث کې راځی:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ” الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ ، ارْحَمُوا مَنْ فِي الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ ...“ (جامع الترمذي:1843)

ژباړه: د عبد الله بن عمرو څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: رحم کونکو باندی به رحمن ذات رحم کوي ، تاسو ځمکې والا باندې رحم وکړئ تاسو باندی به هغه ذات رحم وکړي چې اسمان کې دی...

٩- صدقه او انفاق في سبيل الله ورکونکی به د قيامت پر ورځ د الله عزوجل د خاص سيوري لاندې وي په هغه ورځ چې بل سيوری به نه وي.

حديث کې راځي:

وي عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : ” سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ ، الْإِمَامُ الْعَادِلُ ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ ، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ ، وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ ، وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ ، فَقَالَ : إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ أَخْفَى حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ ، وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ“.

(صحيح البخاري)

ژباړه: ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی هغه يې د نبي صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه وفرمايل : اوه کسان دي چې الله تعالی به دوی ته په هغه ورځ سيوری ورکړي په کومه ورځ به چې د ده له سيوري پرته بل سيوری نه وي هغه دادي :

اول : عادل پاچا

دويم :- هغه ځوان چې په ځوانی کې د الله تعالی عبادت کوي

دريم :- هغه ځوک چې د هغه زړه مسجد سره تړلی وي (پنځه وخته لمونځ په جمع کوی کله چې يو لمونځ آدا کړي د بل په فکر کې وی)

خلورم: - هغه دوه کسان چه د الله تعالی د رضا لپاره يې خپل منځ کې محبت وی ،هم په همدې د هغوی يوځای کيدل وي او هم په همدې د دوی جدايي وي .

پنځم :- هغه کس چه يوه شايسته ، شريفه ښځه يی خپل طرف ته متوجه کړي او هغه ورته ووايي چه زه د الله تعالی نه ويريږم.

شپږم: - هغه سړی چې پداسې پټه طريقه صدقه)انفاق في سبيل الله (ورکړي چې چپ لاس هم خبر نشي چې ښي لاس څه خرڅ کړل

اوم :- هغه کس چه د الله تعالی ذکر په تنهايي کې وکړي او اوښکي يې وبهيږي (يا په پټه کی د خپلو گناهونو په يادولو د الله تعالی له ويرې وژاړي يا د شوق او محبت له وجې د ذکر پر وخت پټ وژاړي.

١٠ - مالي جهاد او انفاق في سبيل الله هغه عمل دی چې د مرگ څخه وروسته هم د انسان لپاره د هغې اجر جاري وي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ : أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : ” إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ ، إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ“

(صحيح مسلم)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې انسان مړ شي ، د هغه عمل کټ شي مگر دري (اعمال به يې جاري وي) مگر د صدقه جاريه څخه او علم چې فائده اخيستلی شي په هغې او نيک اولاد چې دي ته دعا کوي.

١١- انفاق في سبيل الله هغه عمل دی چې له دې به مؤمن لپاره د اخرت پر ورځ سيوري جوړ شي مخکې له دې چې الله عزوجل د انسانانو ترمنځ فيصله وکړي ، حديث کې راځي: عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ ، يَقُولُ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُولُ : ” كُلُّ امْرِئٍ فِي ظِلِّ صَدَقَتِهِ حَتَّى يُفْصَلَ بَيْنَ النَّاسِ“ (مسند أحمد رقم: 16999)

ژباړه: د عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي : ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې: هر انسان به د خپلې صدقې په سیوري کې وي تر دې چې د خلکو تر منځ فیصله وشي.

عزتمندو مسلمانانو خویندو او ورونو!

دا د نمونې په طور یو څو فوائد و چې ستاسې مخ ته مو ذکر کړل اګر چې د انفاق في سبيل الله بې شماره دنیوي او اخروي ګټې دي چې قرآن او سنت ته په رجوع کولو سره یې انسان ترلاسه کولی شي ، نو دغه فوائد حاصلول او دې مقام ته ځان رسول یواځې په لوستلو نه کیږي بلکې دا مقام به رب عاملینو ته ورکوي ، کوم خلک چې د رب په سپیڅلې لار کې خپل مال خرچ کړي ، نو راځئ که تر وسه مو په جهاد بالمال کې برخه نه وي اخیستې نو لا هم فرصت لرو چې د خپل مال یوه حصه د رب په لار کې قرباني کړو ترڅو د رب سره خپل ځان د مجاهدبالمال په مرتبه کې ولیکو!

***

د انفاق او جهاد بالمال نکولو مذمت:

دا چې کومو خلکو ته رب العالمین پدې ازمایښتي دنیا کې د مال یو څه برخه ورکړې وي ، نو یقینا چې دا یو لوی امتحان وي پدې شخص ، ځکه چې بیرته یې ورڅخه په خپل کتاب او سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم کې د انفاق او خرچ کولو مطالبه کړې وي ، که د الله دې حکم ته کوم شخص لبیک ووایي نو یقیناً چې کامیابي یې په نصیب شوه او که چیرې کوم شخص پدې باب کې وروسته شي انفاق ونکړي او یا هم په جهاد بالمال کې برخه وانخلي نو دا خپل ځان هلاکت ته د اچولو په معنی وي چې الله عزوجل ورته اشاره کړې: **وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ** [سُورَةُ الْبَقَرَةِ : 195]

ژباړه: د الله په لار کې (مال) ولګوئ او په خپلو لاسونو خپل ځانونه (په سر او مال سره د جهاد په پرېښودلو) په هلاکت کې مه غورځوئ. د ښېګڼې لاره غوره کړئ چې الله ښېګڼه کوونکي خوښوي.

د دې ایات په تفسیر کې د صحابه کرامو او مفسیرینو همدا قول دی چې ځان هلاکت ته اچول ، انفاق في سبيل الله او جهاد بالمال نه کول دي.

امام ابن جریر طبري رحمه الله د دیرو اهل علمو نه نقل کړې هغه وایي:

عن الأعمش، عن سفيان، عن حذيفة: "ولا تلقوا بأيديكم إلى التهلكة" قال: يعني في ترك النفقة. (تفسیر الطبري:3/583)

ژباړه: د اعمش نه نقل دی هغه یې د سفیان او هغه یې د حذیفه نه نقل کوي (د دې ایات باره کې "ولا تلقوا بأيديكم إلى التهلكة") هغه ووېل: په ترک کولو د انفاق سره(ځانونه هلاکت ته مه اچوئ)

امام قرطبي د دې ایات په تفسیر کې وایي:

فيه ثلاث مسائل: الأولى- روى البخاري عن حذيفة:" وأنفقوا في سبيل الله ولا تلقوا بأيديكم إلى التهلكة" قال: نزلت في النفقة.(تفسیر قرطبي:2/361)

ژباړه: پدې کې درې مسائل دي: اول امام بخاری د حذیفه څخه نقل کړی چې **(وأنفقوا في سبيل الله ولا تلقوا بأيديكم إلى التهلكة)** دا ایات د انفاق باره کې نازل شوی.

امام ابن کثیر هم همدا پورته قول کړی وګورئ (تفسیر ابن کثیر:1/528)

همدارنګه هغه مؤمن چې جهاد بالمال نکوي ، د الله په لار کې مال نه مصرفوي ، صدقات نه ورکوي هغوی ته هره ورځ ملائک ښیراوي کوي.

او کوم مؤمن چې مال مصرفوي نو ملائک ورته د نور مال د ورکړې دعا کوي.

حدیث کې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا : اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا ، وَيَقُولُ الْآخَرُ : اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا" (صحیح البخاري)

ژباړه : د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نشته هیڅ یوه ورځ چې بندګان پکې سبا کوي ،مګر دوه

ملائکې (ځمکې) ته را کوزېږي ، یوه یې وایي : ای الله! څوک چې ستا په لار کې انفاق کوي هغې ته بدله ورکړې ، او بله یې وایي : ای الله! څوک چې ستا په لار کې انفاق (خرچ) نه کوي د هغه مال هلاک کړه ،(یعني د هغې مال تلف کړې).

د الله په لار کې انفاق او خرچ نکول الله عزوجل د منافقانو صفت ذکر کړی. الله تعالی فرمايي:

هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُوا عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّوا وَلِلَّهِ خَزَائِنُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ [سُورَةُ المُنَافِقون : 7]

ژباړه: دا همغه کسان دي چې وايي: "د پیغمبر پر ملګرو لګښت کول بند کړئ، تر څو چې تیت پرک شي." - پداسې حال کې چې د اسمانونو او ځمکې د خزانو مالك الله دی، خو دغه منافقان نه پوهیږي.

فائده: دا خبره یاد ساتل پکار دي چې انفاق او د الله په لار کې مال لګول هیڅکله د انسان رزق نه کموي او بخل او حرص هیڅکله د کوم انسان رزق نشي زیاتولی ځکه چې د رزق کمول او زیاتول د الله تعالي په اختیار کې دي ، د همدې خبرې ذکر الله عزوجل خپل خوږ پیغمبر محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم ته کوي او فرمايي:

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ وَمَا أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ [سُورَةُ سَبَإٍ : 39]

ژباړه: اې پیغمبره دوی ته ووایه: "زما رب چې له خپلو بندو ګانو څخه یې چا ته اراده وشي، پراخه روزي ورکوي او چا ته چې وغواړي روزي پرې تنګوي. څه چې تاسي لګوئ، د هغه په ځای هماغه الله تاسې ته نور درکوي، هغه تر ټولو روزي ورکوونکو څخه ښه روزي ورکوونکی دی."

همدارنګه حدیث قدسي کې نقل دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " قَالَ اللَّهُ : أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ"

(صحیح البخاري)

ژباړه: د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ای د ادم بچیه ته په نورو نفقه کوه زه به پرتا نفقه وکړم .

یو بل روایت کې راځي:

عن أبي هريرة، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم، دخل على بلال وعنده صبرة من تمر، فقال: " ما هذا يا بلال؟ " قال: تمر ادخرته، قال: " أما تخشى يا بلال، أن يكون له بخار في نار جهنم؟ أنفق بلال ولا تخش من ذي العرش إقلالا" (شعب الإيمان 2/483)

قال الهيثمي: ورواه الطبراني في الأوسط بإسناد حسن. (مجمع الزوائد: 3 / 126)

ژباړه: د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بلال رضي عنه ته راغی او د هغه سره یوه ډیره کې د کجورو وه هغه وویل: دا څه دي ای بلال؟ هغه وویل دا کجورې دي چې ما زخیره کړې هغه وویل: ای بلال ته نه ویریږې چې دي (کجورو) لره به په اور د جهنم کې بخار وي (هغه کس به سیځي چې چا زخیره کړې وي او خرچ کوي یې نه)؟ ای بلال خرچ کوه او د عرش د مالک څخه د فقر نه ویره مکوه.

او بل حدیث کې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ ، وَمَا زَادَ اللَّهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا ، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللَّهُ"

(صحیح مسلم)

ژباړه: د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی هغه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي چې هغه فرمایلي: صدقه د مال څخه څه نه کموي ، او نه زیاتوي الله بنده ته په معافي کولو سره مګر عزت او عاجزي نکوي یو شخص الله ته مګر الله هغه پورته کوي.

دا شو مختصر فضایل ، اهمیت او ګټې د انفاق في سبیل الله ، په راتلونکې ګڼه کې به د الله عزوجل په فضل د انفاق في سبیل الله اداب ، عملي نمونې او د اسلامي نظام اقتصادي منابع وغیره ذکر کړو.

وصلَّى الله وسلَّم على نبيِّنا محمَّد، وعلى آله وصَحْبِه أجمَعِين.

٦
اسباب النصر والتمكين
بــرخــه

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى صَدَقَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وأعزَّ جندهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ ، لاشيأً قبلهُ ولا شيأً بعده: وأشهدُ أن محمداً عبدهُ ورسولهُ أما بعد.

قال تعالى: {وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ} [سُورَةُ الأنفال : 60]

عزتمندو مجاهدينو ورونو! تيرو درسونو کې د رب العالمين د نصرت په معنوي اسبابو خبره وشوه چې تقريباً دولس معنوي اسباب ذکر شول راتلونکو صفحو کې به د رب العالمين په توفيق سره د الله د نصرت او تمکين دويم قسم اسباب ذکر کوو چې هغه ظاهري يا مادي اسباب دي، يواځې په معنوي اسبابو تکيه کول او په هغې اکتفاء کول دا زمونږ د شريعت لاربشوونه نه ده، بلکې د معنوي اسبابو تر څنګ دين اسلام د ظاهري او مادي اسبابو توصيه او حکم هم کړی چې د دې خبرې تذکره مو په (توکل على الله مع الاخذ بالاسباب المشروعة) تر عنوان لاندې کړې وه، چې مشروع اسباب استعمالول زمونږ د دين يو حکم دی، چې مؤمن مجاهد به دې باب کې هم غفلت نکوي بلکې حتى الوسع به کوشش کوي چې د دښمنانو پر وړاندې په مادي او ظاهري اسبابو هم ځان سنبال کړي:

الله تعالى فرمايي: {وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ} [سُورَةُ الأنفال : 60]

ژباړه: او تاسې تر خپلې وسې ډېر زيات طاقت او تيار زين کړي اسونه، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ، تر څو چې په دې وسيله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ، چې تاسې يې نه پيژنئ خو الله يې پيژني.

د اسبابو استعمالولو په اړه مونږ ته قرانکريم کې رب العالمين ځای پر ځای اشاري کوي، چې د تمکين حاصلولو لپاره به اسباب استعمالوئ، انبياء عليهم السلام او اولياء کرامو هم په خپله زندګی کې اسبابو ته خپل خاص اهميت او ځای ورکړی و، چې د نمونې په ډول:

١ - د ذوالقرنين په قصه کې رب العالمين د مادي او ظاهري اسبابو درس مونږ ته راکوي.

الله تعالى فرمايي: {إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي الْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا} [سُورَةُ الکهف : 84]

ژباړه: موږ هغه ته په ځمکه کښې قدرت ورکړی ؤ او هر ډول وسايل او اسباب مو وربښلي وو.

د دې اسبابو باره کې مفسرين وايي چې مراد ترې علم، کثرة الجند (لوی لښکري) تعليم الألسنة (د ژبو زده کړې)، وسائل البناء (د ابادۍ اسباب) او داسې نور وو.

امام بغوي رحمه الله وايي: كل ما يستعين به الملوك على فتح المدن ومحاربة الأعداء.

ژباړه: هر هغه څه چې بادشاهان ورباندې د ښارونو په فتحه کولو او د دښمنانو سره په جنګ کولو کې ګټه اخلي.

نو دې قصه کې ورونو زمونږ لپاره دا اشاره رب العالمين کوي چې هغه خپلو بندګانو ته مناسب اسباب ورکړي وو، چې د دښمنانو پر وړاندې به يې استعمالول، نو مؤمنان به هم په هره زمانه کې د وخت او حالاتو د تقاضا مناسب اسباب استعمالوي.

٢-: په سورة سباء او نورو سورتونو کې د داود او سليمان عليهما السلام قصص دا درس مونږ ته را کوي، چې مؤمنان به د دښمنانو پر وړاندې مادي اسباب برابروي، د اسلحو تر څنګ به د مهمو اسبابو کارخانې جوړوي ترڅو د تمکين لپاره ترې کار واخلي، داود او سليمان عليهما السلام ته رب العالمين اوسپنه نرمه کړې وه، بلکې د اوسپنې چينې يې ورته روانې کړې وې، د هغې څخه به يې د زغرو تر څنګ قسما قسم اسباب جوړول، لکه الله تعالى فرمايي: {وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُدَ مِنَّا فَضْلًا يَٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ} [10] {أَنِ اعْمَلْ سَٰبِغَٰتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوا صَٰلِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ } [سُورَةُ سَبَإ]

ژباړه: موږ داؤد (عليه السلام) ته له خپل لوري څخه لوی فضل په برخه کړی ؤ. (موږ حکم وکړ چې) اې غرونو! له هغه سره همغږي اوسئ (او همدغه حکم موږ) مرغانو ته وکړ. او موږ اوسپنه د هغه لپاره پسته کړه.

له دې لاربښووني سره چې زغرې جوړې کړه او د هغو

کړې په سمه اندازه (ور کړه) (اې د داود کورنۍ!) نيك عمل وکړئ، تاسې چې څه کوئ زه هغه وينم.

۳ـ: همدارنګه د مريم عليه السلام قصه کې د اسبابو او حرکت کولو درس پروت دی.

الله تعالی فرمايي: {وَهُزِّيَ إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا} [سُورَةُ مَرْيَم : 25]

ژباړه: او ته لږ غوندې د دغې ونې تنه وخوځوه. پر تا به خوږې تازه خُرماوې را توی شي؛

دلته د کجورې تنه خوځول اسان کار ندی او د دې سره رب العالمين قادر هم دی چې بغير له خوځولو د تنې سره مريم عليه السلام ته کجورې ورکړي خو ديکې اشاره ده چې انسان به حرکت کوي اسباب به په کار اچوي قلار تکيه به نه وهي.

۴ـ د موسی عليه السلام قصه کې رب العالمين همدا درس مؤمنانو ته ورکوي چې هغه د دښمن څخه هجرت کوي، اخر بحر ته رسيږي يو طرف بحر بل طرف دښمن اسباب نشته نه کښتۍ شته نه لامبو بحر کې وهل کيږي، نو ځکه ورته قوم وايي: {فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَابُ مُوسَىٰ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ} [سُورَةُ الشُّعَرَاء:61]

ژباړه: کله چې دواړه ډلې سره مخامخ شوې، نو د موسی عليه السلام ملګرو چيغه کړه چې موږ خو ونيول شو.

خو موسی عليه السلام ورته وايي: {قَالَ كَلَّا إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ} [سُورَةُ الشُّعَرَاء:62]

ژباړه: موسی عليه السلام ووېل: "هيڅکله نه، زما سره زما رب دی، هغه به هرومرو ما ته لارښوونه وکړي.

هماغه وو، چې موسی عليه السلام ته رب امر کوي چې په امسا دې بحر ووهه: {فَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ فَانفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ} [سُورَةُ الشُّعَرَاء:63]

ژباړه: موږ موسی عليه السلام ته د وحې په وسيله حکم وکړ چې: "سمندر په خپله لکړه ووهه!. نو په ناڅاپي ډول سمندر وچاوده او د هغه هره ټوټه د يو لوی غره په څير شوه.

دلته رب العالمين قادر و چې د دې بشر د حرکت او اسبابو استعمالولو نه بغير دا بحر کې لارې جوړې کړې، خو رب العالمين دا ښودنه انسانانو ته کوي چې خپل وس او اسباب به دنيا کې استعمالوئ.

۵ـ د رسول الله صلی الله عليه وسلم زندګي او سيرت که: مطالعه کړو نو د هجرت څخه راواخله د دښمنانو سره د معرکو او د نبوي دولت د جوړولو په دوران کې يې د اسبابو څخه استغناء نده کړې بلکې خپله يې هم اسباب استعمال کړي او مؤمنانو ته يې هم توصيه کړې لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هجرت کوي د علي رضي الله په خپل ځای (بستره) کې د دې په خاطر څملاوه چې کفارو ته دهوکه ورکړي، او د شپې د خطري علاقې څخه ووځي، د استخباراتي معلوماتو لپاره يې عبد الله ابن ابي بکر رضي الله عنه انتخاب کړ، بيا د لارې لپاره ځانته رهبر پيدا کوي، د لارې لپاره ملګری پيدا کوي، توښه او سورلي هم له ځانه سره اخلي، په هغه لار باندې اول حرکت کوي چې د خلکو فکر هغې طرف نه اوړي.

نو ورونو دا ټول هغه ظاهري او مادي اسباب دي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل هدف لاسته راوړلو او هدف ته د رسيدلو په خاطر استعمال کړي، همدارنګه جنګونو کې زغرې استعمالول، خندقونه کنستل دا هم اسباب دي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ټول استعمال کړي دي.

نو مقصد دادی ورونو چې د رب العالمين د نصرت د اسبابو څخه دويم قسمه اسباب مادي او ظاهري اسباب دي چې مؤمن به د هغې هم لحاظ ساتي هغه به برابروي او په دې باب کې به غفلت نکوي.

د ظاهري او مادي اسبابو قِسمونه:

د کفارو سره په مبارزه او جهادونو کې او د تمکين حاصلولو لپاره يوازې بدني اعداد يا يوازې د اسلحې اعداد ندی، بلکې په جهادي مبارزه کې که د رسول الله صلی الله عليه وسلم زندګی ته وګورو نو د رب العالمين له طرفه د تمکين د لاسته راوړلو په لار کې هغه قسما قسم اسباب په کار اچولي، ترڅو خپل هدف ته ورسيږي، په دښمنانو باندې رب العالمين هغه ته غلبه ورکړي او يو اسلامي دولت د مؤمنانو لپاره تأسيس کړي چې د هغې له جملې څخه اولنی سبب:

۱: مهاجرينو برابرول او د هغوی لپاره د مناسبو ځايونو برابرول.

دا د تمکين د ظاهري اسبابو

ځکه يو سبب دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم هم د دار الاسلام په رامنځته کيدو کې او د تمکين لاسته راوړلو کې د مهاجرينو په برابرولو کې پوره کوشش کولو د دې لپاره چې د الله تعالى مرسته او مددونه راشي او رب په ځمکه کې مؤمنانو ته تمکين ورنصيب کړي چې دې باب کې به د قران کريم اياتونه هم وخت په وخت نازليدل، او رسول الله صلى الله عليه وسلم به هم ترغيبات ورکول ترڅو خلک هجرت ته تيار شي سره د دې چې هجرت کوم چکر نه و، چې سړي به خپل نفس ته راحت پکې ورکولو بلکې هجرت پدې معنى و چې د خپل کور او کلي نه جدا کيدل، د خپلو خپلوانو څخه جدايې، د خپلو اولادونو څخه جدا کيدل د خپلو باغونو او مالونو څخه جدا کيدل دا به اسان کار نه و، خو ليکن دا يو ظاهري سبب و، چې مؤمنان بايد هجرت وکړي او يو ځای يې قوت راجمعه شي او د يو اسلامي دولت بنياد کيږدي او دې باب کې الله تعالى مؤمنانو ته اشارات وکړل: لکه د سورة زمر ايات نازل شو: {قُلْ يَعِبَادِ الَّذِينَ ءَامَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّٰبِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ} [سُورَةُ الزُّمَرِ: 10]

ژباړه: اې پيغمبره ووايه: "اې د الله بندګانو چې ايمان مو راوړی دی، د خپل رب څخه ووېرېږئ. کومو کسانو چې په دې دُنيا کښې نيک چلند غوره کړی دی، د هغو لپاره ښېګڼه ده. او د الله ځمکه پراخه ده. صبر کوونکو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړای شي."

بيا د سورة کهف نزول وشو او دې خبرو ته پکې اشارې وشوې، چې څه ځوانان وو، په خپل رب يې ايمان راوړی و او بيا يې د خپلو ښارونو څخه هجرت کړی و، پدې کې هم د مؤمنانو تربيت او هجرت ته د ترغيب کولو او د خپل وطن څخه د جدايۍ طرف اشارې وې، چې مؤمنان به خپل وطن خپل کلی او کور، خپل مالونه او ځمکې د عقيدې او ايمان ساتلو، او د اسلامي دولت د قائمولو په خاطر پرېږدي.

د سورة نحل اياتونه نازل شول چې الله تعالى پکې تصريح وکړه: {وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَلَأَجْرُ الْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ} [سُورَةُ النَّحلِ: 41]

ژباړه: کومو خلکو چې د ظلم له زغملو وروسته د الله په خاطر هجرت کړی دی، هغو ته به موږ په همدې دنيا کې ښه استوګنځای ورکړو او د اخرت ثواب خو ډېر لوی دی، کاشکې هغه مظلومان وپوهيږي.

نو دې ټولو اياتونو کې ديته اشاره ده چې د رب العالمين د نصرت او تمکين د حاصلولو لپاره به مؤمنان هجرتونه کوي، قرباني به ورکوي بيا به رب تمکين ورکوي دا د الله قانون او سنت ندی چې هر سړی دی په کور ناست وي يوائې په معنوي اسبابو دی اکتفا کوي او هيڅ حرکت دې نکوي، هيڅ قرباني ته دې نه تياريږي، کور او کلی نه شي پريښودلای، پټي او باغ نشي پريښودلای او تمه د تمکين کوي، د دښمنانو مغلوبيدل غواړي دا د رب سنت نه دی.

مجاهدينو ته ځای او مکان برابرول:

کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ملګرې هجرت ته تيار کړل، نو عملاً يې د حبشې پر لور وليږل اګر که هلته دار الاسلام نه و، خو دار الأمن و د مسلمانانو لپاره د امن ځمکه وه، او د هغې څخه وروسته يې مصعب ابن عمير رضي الله عنه د مدينې پر لور وليږه، ترڅو د هجرت او د اسلامي دولت د بنياد ايښودو لپاره زمينه سازي وکړي اګر چې مدينه هم دغه وخت د يهودو او مشرکينو کور و، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم دا ظاهري اسباب په کار واچول تر څو تمکين لاسته راوړي.

زمونږ او ستاسې اوسني هجرتونه هم د همدې جملې څخه دي اګر که دار الاسلام ته نه دي، خو د تمکين او د دارالاسلام د حاصلولو په خاطر ملګري جمعه کول او د يو نظم لاندې يې راوستل دا د تمکين لپاره سبب او مقدمه ده، نو هجرت يوازې دار الاسلام ته نه وي، بلکې په هجرت کې اقسام دي حبشې ته صحابه کرامو هجرت وکړ، مدينې ته اوائلو کې ځينې صحابه کرام لاړل لکه (أبو سلمة بن عبد الأسد، عامر بن ربيعة د خپلې ښځې ليلى بنت أبي حَثْمَة سره) او داسې نور.

نو هغه هم دار الاسلام نه و، بلکې د تمکين لاسته راوړلو په خاطر هجرت کول خپل کلی کور پريښودل، دا هم

هجرت دی.

نو اولنی ظاهري سبب د نصرت او تمکين هغه هجرت ته ملگري برابرول او هغوی ته ځای د هجرت برابرول دي.

ـ دويم مادي او ظاهري سبب د اسبابو د نصرت او تمکين څخه:

٢ إعدادالعدة:

د قتال او جهاد لپاره تيارى کول، د جنگ اسباب برابرول، مجاهدينو ته نظامي، عسکري، او اداري تربيتونه ورکول، دا ټول په اعداد کې شامل دي.

د اعداد ډير قسمونه دي، چې په هر يو به جدا خبره کوو ان شاءالله خو اول به د رب العالمين په توفيق سره په هغه اسبابو او نظامي وسائلو خبره کوو چې د قتال او جهاد په لار کې استعماليږي، چې مجاهدين بايد هغه حاصل کړي او د دښمنانو پر وړاندې يې استعمال کړي.

ځکه رب العالمين په مؤمنانو جهاد فرض کړی، چې دعوت به کوي او د خپل ناموس څخه به دفاع کوي، د خپلو مستضعفينو ورونو او خويندو دفاع به کوي، د دنيا څخه به د شرک او کفر تغر ورټولوي، تمکين به لاسته راوړي او د همدې تمکين دفاع رب العالمين په مؤمنانو فرض کړي.

نو کله چې دا د مؤمن فريضه ده نو پدې لار کې چې کوم اسبابو ته ضرورت وي، کومو تربيتونو ته ضرورت وي، هغه هم د دې فريضې تابع دي چې مؤمن به هغه وسائل او اسباب برابروي.

همدا وجه ده چې سورة انفال کې رب العالمين په اعداد باندې امر کړی:

قال تعالی: {وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ}

[سُورَةُ الأَنفَال : 60]

ژباړه: او تاسې تر خپلې وسې ډېر زيات طاقت او تيار زين کړي اسونه، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ، تر څو چې په دې وسيله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ، چې تاسې يې نه پيژنئ خو الله يې پيژني.

دې ايات کې رب العالمين ډير نا اشنا کلمات ذکر کړي او هره کلمه کې يې جدا فوائد او مسائل پراته دي.

اول: دا چې (وَأَعِدُّوا) دا امر دی او امر د وجوب لپاره وي، بيا خاص طور کله چې جهاد او قتال په مسلمانانو فرض وي، کله چې تمکين في الارض نه وي مؤمنانو سره، نو داسې وخت کې خو اعداد کول، اسباب او وسائل د جهاد او قتال برابرول په طريق اولی باندې فرض او واجب دي.

بل: دا امر هر مؤمن مکلف ته شامل دی.،که هغه د هر ملک سره تعلق لري، د نړۍ په هر کونج کې وي، د هرې ژبې او قوم سره تعلق لري د دې څخه مستثنی نه دی.

دويم: ضمير الغائب (لَهُمْ) چې د دې کفارو مقابل کې دا اعداد او اسباب او وسائل برابر کړئ دي کې بيا د نړۍ ټول کفار شامل دي، د مؤمن اعداد او تيارى، د مؤمنانو اسباب او وسائل، او د مؤمنانو غشي به په ټولو کفارو ويشتل کيږي، که يهود دي، که نصارى دي، که هندوان او مجوس دي، او که مرتدين دي دا ټول پکې شامل دي.

نو مقصد دا چې مؤمنان به تيارى کوي او د دې تيارې هدف او مقصد به يې د کفارو ځپل او د تمکين لاسته راوړل او د هغه څخه دفاع کول وي.

دريم: إعداد المستطاع:

څومره چې د مؤمنانو وس او طاقت وي تر اخري وسعې پورې به د رب العالمين په لار کې اعداد کوي او اسباب او وسائل به برابروي، نو د (مَّا اسْتَطَعْتُم) همدا معنى ده.

دا نه چې مؤمن کوشش ندی کړی، خپل وسعه يې نده استعمال کړی او وايي چې زما استطاعت نشته، زه فلاني اسباب نشم جوړولی، نه بلکې دا موجوده وسعه او جهد دي چې کله استعمال کړ او څه لاس ته نه راتلل بيا دا خبره کول يوه معنى لري.

څلورم: (مِّن قُوَّةٍ) دلته يې (قوة) نکره ذکر کړی او په نکره کې معنى د عموم وي نو دلته معنى داده چې (خُذوا من کل نوع من أنواع القوة ما استطعتم، ولا تترکوا جانبًا من جوانب القوة إلا وقد أخذتم منه المستطاع) معنى دا چې تاسې د هر قسمه د اقسامو د قوت څخه حاصل کړئ او يو قسم د اقسامو د قوت څخه تاسې مه ترک کوئ څومره مو چې وسعه وي.

له همدې وجې تاسې کفار وگورئ هغوی د باطل هدف او د باطل لپاره څومره محنت کړی، څومره کوششونه يې کړي، چې اوس ورسره د يو

قسم اسلحو کمی نشته! دا مسلمان هم کولای شي بلکې مسلمانان د هغوی څخه ډیر ذهين او زيرکه دي، د کفارو دماغ خو شرابو، فحشاؤ او نورو بدفعليو خراب کړي اما مؤمن د دې څخه بچ دی خو دومره ده چې مؤمنانو دی باب کې غفلت کړی، نه يې ځانته فرصتونه برابر کړي او نه يې د فرصتونو څخه استفاده کړې.

د دې اعداد پر وړاندې چې کوم خنډونه دي، هغه خنډونه يې ندي لرې کړي، هغه قيدونه چې د مسلمانانو پر وړاندې دي هغه قيدونه يې نه دي مات کړي، په دې باب کې حريت او ازادي يې نده حاصله کړې.

دا قسمه اعداد زمونږ او ستاسې د طاعاتو څخه دی دا زمونږ او ستاسې عبادات دي، ترڅو چې دا قسم اعداد ته د طاعت او عبادت په سترګه مسلمانان ونه ګوري همداسې به بې برخې پاتې وي.

اسلامي دولت په عراق او شام کې په لنډه موده کې چې دی خبرې ته متوجه و ځومره اسباب او وسائل يې اختراع کړل، د اطلاعاتو او بمبار طياري هغوی جوړې کړې، د ميزايلو او راکيټونو کارخانې هغوی برابرې کړې، د اسلحو اقسام هغوی برابر کړل، د متفجراتو ډيپوګانې هغوی ډکې کړې او داسې نور ...

او هغه تنظيمونه چې دا مفکوره ورسره نشته د نورو کفارو په قيدونو کې ورځې شپې تيروي په لسګونه کاله وشول خو يوه اختراع نه لري!

نو مقصد داده چې مجاهدين به مختلف قسمه انواع او وسائل د دښمنانو پر وړاندې تياروي:

دا ايات رسول الله صلى الله عليه وسلم ملګرو ته په منبر ولوست او ورته يې وويل: (عَنْ أَبِي عَلِيٍّ ثُمَامَةَ بْنِ شُفَيٍّ ، أَنَّهُ سَمِعَ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ ، يَقُولُ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ ، يَقُولُ: "{ وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ} [سورة الأنفال آية 60]..(أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ ") [صحيح مسلم]

ژباړه: د ابو علي ثمامه بن شُفَي نه روايت دی چې ده د عقبه بن عامر څخه واوريدل چې ويل يې: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريده پداسې حال کې چې هغه په منبر ناست و او ويل يې:" {وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ".} او تاسې تر خپلې وسې ډېر زيات طاقت، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ" خبردار يقيناً دا قوت نښه ويشتل دي، خبردار يقيناً دا قوت نښه ويشتل دي، خبردار يقيناً دا قوت نښه ويشتل دي (درې ځله يې وويل).

دې حقيقت کې يو صورت دی د قوة چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ملګرو ته ذکرکړ، نور دا ايات عام دی، ټولو قسمونو د قوت ته شامل دی.

پنځم: (وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ) اسونه تربيه کول او په جنګونو کې استعمالول دا هم د اعداد او قوت بله نوعه ده.

بلکې دلته يې (رِّبَاطِ الْخَيْلِ) د (قوة) او رمې څخه وروسته ذکر کړ، دې کې رب العالمين د جهاد او د قتال طريقه او چل هم مؤمنانو ته ښايي چې اول په دښمنانو غشي وولئ، بمبار يې کړئ بيا وربانډې اسونه وروزغلوئ، صحابه کرامو به هم همداسې کول، کله چې صحابه کرامو به غشي وويشتل، د هغه نه وروسته به يې اسونه په دښمنانو بانډې ورخوشې کړل، لکه اوس وخت کې دا طريقه دښمنان هم استعمالوي، چې يوځای بانډې بمبار وکړي او ميزايل، هوانونه، او نوره اسلحه استعمال کړي، بيا له هغې نه وروسته خپل ټانګونه او پيدل راوړاندې کوي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې اسونو هم د ټانګونو په حيثيت درلود، بلکې آسونو کې تر قيامته پورې رب العالمين برکت اچولی او مسلمانان به يې استعمالوي لکه حديث کې نقل دي.

(عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الْجَعْدِ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ") [بخاري]

ژباړه: د عروة بن جعد نه روايت دی،.هغه يې د نبي صلى الله عليه وسلم څخه نقل کوي چې هغه وفرمايل: د اسونو په تندو کې خير ترل شوی د قيامت تر ورځې پورې.

اعداد او تياری نکول د جهاد او قتال لپاره، اسباب او وسائل ورته نه برابرول دا رب العالمين د نفاق علامه ګرځولی:

قال تعالى: {وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً وَلَٰكِن كَرِهَ اللَّهُ انبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ } [سُورَةُ التَّوْبَةِ:

[46

ژباړه: که په رښتيا سره هغوی د وتلو اراده درلودلای، نو د دې لپاره به يې څه تيارى نيولى وای، خو د هغو پاڅون له سره د الله خوښ نه ؤ، ځکه خو يې هغوی سُست کړل او وويل شول چې له ناستو (خلکو) سره کښېنئ.

همدا وجه ده ورونو چې دين اسلام تجهيز الغازي (مجاهد ته اسلحه او اسباب برابرول) ته ترغيب ورکړی، د هغه فضائل يې بيان کړي پدې خاطر چې مجاهدين مسلح شي، اسباب او وسائل د جهاد او قتال لپاره برابر شي:

(عن زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: " مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَدْ غَزَا، وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا") [بخاري]

ژباړه: د زيد بن خالد رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې د الله په لار کې مجاهد (په اسلحه او توښه) سنبال کړ يقيناً چې ده غزا وکړه او څوک چې د الله په لار کې د مجاهد د کورنۍ په کفالت کې پاتې شو ده غزا وکړه.

قران ته که لږ سړی متوجه شي رب العالمين بار بار مونږ او تاسې ته اشارات کوي چې ای مؤمنانو اسباب مې پيدا کړي، اوسپنه مې پيدا کړې لږ حرکت تاسې وکړئ اسباب او وسائل ترينه جوړ کړئ لکه سورة حديد کې الله تعالى فرمايي: **{وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ}** [سُورَةُ الحَدِيد : 25]

ژباړه: او اوسپنه مو راکوزه کړه چې په هغې کښې ډېر زور دی او د خلکو لپاره ګټې دي، او د دې لپاره شوي دي چې الله معلومه کړي چې څوک د هغه له ليدلو پرته د هغه او د هغه د پيغمبرانو مرسته کوي. بېشکه الله ډېر قوي او برلاسی دی.

نو دې ايات کې اشاره ده چې اوسپنه کې فوائد دي، بايد اسلحې ورڅخه جوړې شي، د دښمن مقابل کې ورڅخه استفاده وشي، او همدا اسباب د الله او د رسول او د دين اسلام د نصرت لپاره استعمال شي.

احاديثو کې هم رسول الله صلى الله عليه وسلم ترغيبات ورکړي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " (إِنَّ اللَّهَ لَيُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلَاثَةً الْجَنَّةَ، صَانِعَهُ يَحْتَسِبُ فِي صَنْعَتِهِ الْخَيْرَ، وَالرَّامِيَ بِهِ، وَالْمُمِدَّ بِهِ، وَقَالَ : ارْمُوا وَارْكَبُوا، وَلَأَنْ تَرْمُوا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ تَرْكَبُوا، كُلُّ مَا يَلْهُو بِهِ الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ بَاطِلٌ إِلَّا رَمْيَهُ بِقَوْسِهِ، وَتَأْدِيبَهُ فَرَسَهُ، وَمُلَاعَبَتَهُ أَهْلَهُ، فَإِنَّهُنَّ مِنَ الْحَقِّ")

[ترمذي رقم الحديث 1559]

ژباړه: د عبد الله بن عبد الرحمن بن ابی حسين څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقيناً الله تعالى په يو غشي درې کسان جنت ته داخلوي: د هغې جوړوونکی چې نيت يې په کې د اجر وي، او ويشتونکی په هغې سره، او هغه چې رسَوي (وړي) هغې لره (مجاهدينو ته) او ويې فرمايل: نښه ويشتل وکړئ او سورلي وکړئ، او هغه چې تاسې ويشتل کوئ ماته له سوارۍ څخه ډېر محبوب دی، ټولې هغه مشغلې (لوبې، تفريح) چې مسلمانان يې کوي بې اجره دي، پرته د نښې ويشتلو نه په لينده خپله، او تربيه ورکول آس خپل ته، او د خپل اهل سره لوبې کول د هغه، ځکه چې دا د حق څخه دي.

نو په همدې اساس دا دويم مادي او ظاهري سبب د تمکين او د نصرت شو چې (اعداد العدة) د قتال او جهاد لپاره او د دښمنانو مقابله کې اسباب او وسائل برابرول او مختلف قسمه اسلحې برابرول. دې باب کې به مجاهدين غفلت نه کوي، بلکې د اختراع او نوښت فکر به مجاهدينو کې موجود وي، دې باب کې به محنت کوي، ځان به يو ځای ته رسوي.

دريم سبب: التدريب:

تربيت کول او ترينګ کول:

تدريب دا يوه عامه کلمه ده او د دې لاندې ډير قسمونه د تربيت داخل دي چې مجاهد به قسما قسم تربيتونه کوي، د دښمنانو پر وړاندې به په هر ميدان کې زده کړه کوي، او ځان به په مختلفو علومو سنبالوي، چې يو يو باندې مستقل د الله د توفيق نه وروسته خبره کوو.

د تدريب اقسام :

ا: العسكري ـ التدريب:

عسکري تربيتونه کول.

د عسکري او نظامي اسبابو او وسائلو ترينګ او تربيت کول، د هغې علم حاصلول او ځان ورباندې پوهول،

ځکه مجاهدين خو به ظاهري اسباب زيات برابر کړي، خپل اقتصاد به پرې مصرف کړي، کفارو څخه به يې غنيمت کړي، خو کله چې د هغه اسبابو د استعمال طريقه باندې مجاهدين نه پوهيږي او يا د هغې علم ورسره نه وي، نو بيا هم دا اسباب او وسائل عبث دي، نو په همدې اساس مجاهدين به د نظامي او عسکري اسبابو او وسائلو برابرولو تر څنګ د همدې اسبابو تدريب او ټرنينګ کوي، ځکه دا د رب العالمين حکم دی او د الله تعالی دا امر ورته شامل دی چې **{وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ}**

ځکه مخکې مو حديث د مسلم ذکر کړی و چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په ممبر باندې صحابه کرامو ته وفرمايل: **(أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ)**" [صحيح مسلم]

ژباړه: خبردار يقيناً دا قوت نښه ويشتل دي، خبردار يقيناً دا قوت نښه ويشتل دي، خبردار يقيناً دا قوت نښه ويشتل دي (درې ځله يې وويل).

په اسلامي نظام کې به د مجاهدينو لپاره مستقل معسکرات جوړيږي د دې لپاره چې د دښمنانو پر وړاندې ورته عسکري او نظامي زده کړې ورکړل شي، د اسلحو او متفجراتو طريقې ورته وروخودل شي، چې لله الحمد زمونږ او ستاسې نظام کې هم ديته پوره توجه شوي د تأسيسو تر څنګ د کتائبو تربيتونه مجاهدينو ته ورکول کيږي، د توپخانې تر څنګ مجاهدينو ته د متفجراتو معسکرات جوړ شوي.

د دې وجه هم دا ده چې دا د تمکين او د رب العالمين د نصرت ظاهري او مادي اسباب دي چې رب العالمين مؤمنانو ته پرې امر کړی دی تر څو د د معنوي او مادي اسبابو په استعمال سره پر خپلو دښمنانو غالبه شي او دعوت د نړۍ هر لور ته ورسوي، او د رب پر ځمکه د رب قانون حاکم کړي.

صحابه کرام زمونږ او ستاسې لپاره غوره نمونې دي، د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په معسکر کې روزل شوي عسکر وو، هغوی د رب العالمين په نصرت سره د نړۍ ګوټ ګوټ ته د اسلام دعوت ورساوه.

هغوی د هغه وخت او اسبابو ماهرين وو، هغوی په نيزو او غشو ويشتلو کې اعلا تربيتونه حاصل کړي وو، د هغوی د تورو مقابله کې به کفارو لحظه مقاومت نشو کولای، هغوی د آس په سورلۍ کې خصوصي مهارت درلوده، د لامبو ترڅنګ يې د غرونو په ختلو کې خاص تجربې درلودې.

ځکه رسول الله يې تربيت کولو، وخت په وخت به يې ترغيبات ورکول عملاً به رسول الله صلی الله عليه وسلم ورسره په عسکري تمريناتو کې برخه اخيستله.

امام بخاري رحمه الله په کتاب الجهاد کې باب لګولی (باب التحريض على الرمي و قول الله تعالى: {وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ}. بيا يې حديث ذکر کړی.

عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَسْلَمَ يَتَنَاضَلُونَ بِالسُّوقِ، فَقَالَ: " (ارْمُوا بَنِي إِسْمَاعِيلَ فَإِنَّ أَبَاكُمْ كَانَ رَامِيًا وَأَنَا مَعَ بَنِي فُلَانٍ لِأَحَدِ الْفَرِيقَيْنِ فَأَمْسَكُوا بِأَيْدِيهِمْ، فَقَالَ: مَا لَهُمْ قَالُوا وَكَيْفَ نَرْمِي وَأَنْتَ مَعَ بَنِي فُلَانٍ، قَالَ: ارْمُوا وَأَنَا مَعَكُمْ كُلِّكُمْ)" [صحيح بخاري]

ژباړه: د يزيد بن ابي عبيد نه نقل دي چې سلمه رضي الله عنه مونږ ته بيان کړی چې ويل يې: رسول الله صلی الله عليه وسلم د اسلم په قبيله راووتو چې په بازار کې يې په غشو ويشتلو مسابقه کوله پس ويې ويل: ای د اسماعيل (عليه السلام) اولاده نښې وولئ ځکه ستاسې پلار نښه ويشتونکی و او زه د فلاني قوم سره يم يو د دې دوه ډلو سره، پس هغوی خپل لاسونه بند کړل، هغه وويل: څه وجه ده د دوی لپاره (چې مسابقه يې پريښوده) هغوی وويل: څرنګه به مونږ ويشتل وکړو حال دا چې ته د فلاني قوم سره يې هغه وويل: ويشتل وکړئ زه تاسې ټولو سره يم.

له دې حديث څخه معلوميږي چې محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم خپلو ملګرو ته هم ترغيب ورکولو، هم امر خپلو عسکرو ته کوي، او هم ورسره عملاً برخه اخلي!

نو عسکري زده کړې کول، عسکري اسبابو او وسائلو باندې ځان پوهول دا زمونږ او ستاسې فريضه ده او دا د نصرت او تمکين اسباب دي چې مؤمنان به يې برابروي او د معنوي اسبابو تر څنګ

به يې استعمالوي.

بل حديث کې هم نقل دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: (" بَيْنَا الْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِرَابِهِمْ، دَخَلَ عُمَرُ فَأَهْوَى إِلَى الْحَصَى فَحَصَبَهُمْ بِهَا، فَقَالَ: دَعْهُمْ يَا عُمَرُ") [صحيح البخاري]

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: يو وخت حبشيانو د نبي صلی الله عليه وسلم سره په نيزو لوبې کولې، عمر رضي الله عنه داخل شو پس قصد يې وکړ کاڼو ته پس هغوی يې وربانديې وويشتل، هغه (رسول الله صلی الله عليه وسلم) وويل: پرېږده هغوی لره ای عمره!

بل روايت کې راځي: **عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : "(كَانَ أَبُو طَلْحَةَ يَتَتَرَّسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتُرْسٍ وَاحِدٍ، وَكَانَ أَبُو طَلْحَةَ حَسَنَ الرَّمْيِ، فَكَانَ إِذَا رَمَى تَشَرَّفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَنْظُرُ إِلَى مَوْضِعِ نَبْلِهِ")** [صحيح البخاري]

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: ابو طلحه رضي الله عنه به ځان ساته د نبي صلی الله عليه وسلم سره په يو ډال او ابو طلحه رضي الله عنه ډير ښه نښه ويشتونکی و پس هغه به چې کله نښه ويشتله نبي صلی الله عليه وسلم به سر ورجيګ کړ پس د غشي د لويدو ځای ته به يې کتل.

دې حديث کې اهل علم وايي چې: **(فِيهِ: الْحَثُّ عَلَى تَعَلُّمِ الرَّمْيِ وفُنُونِ الْقِتَالِ.)**

پدې کې تيزي ورکول دي په زده کولو د نښه ويشتلو او په مهارتونو د جنګ سره. نو هدف دادی چې د قتال او جهاد په اسبابو او وسائلو باندې ځان پوهول، د هغې زده کړه کول، دا د اعداد يو قسم دی، او د رب العالمين د تمکين او نصرت سبب دی، د صحابه کرامو په زمانه کې هماغه اسباب و چې هغوی يې اعلی زده کړې کړي وي، اوس وخت کې د جهاد او قتال اسباب او وسائل زيات شوي او په مختلفو بڼو او شکلونو جوړ شوي، نو مجاهدين به هم د دې اسبابو علم او زده کړې ته پوره توجو کوي، لکه د تورو او برچو تر څنګ به مجاهدين د معاصرو اسلحو زده کړه کوي، د خفيفه اسلحو څخه واخله تر ثقيله او لويو اسلحو پورې تربيتونه به کوي.

د منجنيق په څير به د ميزايلو او توپونو مهارتونه حاصلوي، او د رب العالمين پر دښمنانو به يې ورو وي.

> د آسونو ترڅنګ به د معاصرو ټانګونو او موټرو چلولو او استعمالولو چلونه زده کوي!

د متفجراتو مهارتونه او علم به زده کوي ترڅو پرې د رب العالمين دښمنان ټوټه، ټوټه کړي.

تاسې کفار وګورئ دي باب کې خپلو عسکرو ته په کلونو کلونو تربيتونه ورکوي، بلکې عسکريت لپاره يې نظامي او حربي مکاتب او پوهنتونونه جوړ کړي، حال دا چې دين اسلام مونږ او تاسې ته بار بار د اسلحې جوړولو، تربيتونو کولو توصيه کوي، امرونه کوي، ترغيبات راکوي نو دې باب کې بايد د کفارو څخه مونږ زيات په عسکري زده کړو حريص واوسو، بايد د هغوی په نسبت مونږ قوي زده کړې وکړو.

مجاهدين بايد خپل وختونه عبث تير نکړي، د شريعت د زده کړې تر څنګ بايد عسکري کتابونه مطالعه کړي، په عسکري قوانينو باندې ځان پوهه کړي، لله الحمد خپلو مشرانو راته داسې کتابونه ليکلي چې مناسب ده چې هر مجاهد يې حفظ کړي، او ټول عمر په خپله مبارزه کې ورڅخه فائدې او ګټې واخلي.

دويم قسم: التدريب البدني يا اعداد البدني

بدني تربيت او روزنه کول.

دا قسم تدريب هم مهم دی، ځکه مجاهدين که زيات اسباب ولري، د وسائلو په لحاظ هم سنبال وي خو چې بدن او وجود کې د انسان دا استطاعت او قوت نه وي چې دا اسباب استعمال کړي، نو د دې اسبابو او وسائلو کومه فائده بيا نشته.

بلکه دا چې بايد مجاهد په هر ډګر کې د خپلو دښمنانو پر وړاندې مجَهَّز او تيار وي، که هغه د علم او هنر ميدان وي بايد مجاهد پکې د دښمن پر وړاندې قوي او مظبوط وي، که د ټکنالوژۍ او اسبابو ډګر وي بايد مجاهد يې پر وړاندې سنبال وي، که د تورې او برچې ميدان وي، بايد مجاهد ورته تربيت شوي وي، که لاس په لاس معرکه وي نو هم بايد مجاهد د بدني مهارتونو په لحاظ امده او تربيت شوی وي.

د رسول الله صلی الله عليه

وسلم عسکر صحابه کرام تاسې وګورئ د هغوی زندګي او د هغوی نظام زمونږ لپاره منهج او تګلاره ده، هغوی په هر بخش کې روزل شوي خلک وو، د بدنونو په لحاظ قوي او مضبوط خلک وو او پدې عقیده او مفکوره وو چې د دښمنانو پر وړاندې باید په جسمي او بدني لحاظ مسلمانان قوي او مظبوط وي، خپلو دښمنانو ته به یې د خپل بدني او جسماني قوت اظهار هم کاوه، د سیرت کتابونو لیکلي کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیبیې د سولې څخه وروسته عمره کوله مشرکانو استهزاګانې کولې چې د دوی بدنونه د مدینې (یثرب) تبو او مرضونو خراب کړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو ملګرو ته وایي چې واښایئ دا خپلې متې او قوت دې مشرکانو ته:

(فلمَّا دخلَ رسولُ اللَّهِ المسجدَ اضطبعَ بردائِهِ، وأخرجَ عضدَهُ اليُمنى، ثمَّ قالَ: رحمَ اللَّهُ امرأً أراهم اليومَ من نفسِهِ قوَّةً) [البداية والنهاية و السيرة النبوية لابن هشام]

ژباړه: پس کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مسجد (حرام) ته داخل شو خپل څادر یې د ښی اوږې لاندې راتاو کړ او ښې مټه یې راوویسته بیا یې وویل: الله دې په هغه سړي رحم وکړي چې نن یې دوی ته خپل قوت وښوده...

نو په همدې اساس دین اسلام د بدني تربیت او روزنې پوره اهتمام کړی، هغه څیزونو څخه دین اسلام او شریعت په کلکه منعه کړې، چې د انسان بدن، جسم او عقل ته نقصان رسوي، د شرابو او نورو نشه یي موادو استعمال دین اسلام په همدې وجه حرام کړی چې دا خبائث دي او د انسان وجود او جسم خرابوي، د مؤمن قوت له منځه وړي.

همدا رنګه مریض او کمزوري انسان ته رب العالمین په فرائضو کې ډیر رخصتونه ورکړي، د مرض په حالت کې لمونځ په ناسته کول، د مسافر او مریض لپاره د روژې رخصت، بعضي معذوره خلک د جهاد او قتال څخه مستثنی کول دا هغه مواضع دي، چې د مؤمن د صحت خیال پکې ساتل شوی.

امام بخاري رحمه الله باب لګولی (باب حق الجسم في الصوم) باب دی په بیان د بدن د حق په روژه کې.

بیا یې د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روایت نقل کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته فرمایي: **(صُمْ وَأَفْطِرْ، وَقُمْ وَنَمْ، فَإِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَإِنَّ لِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حَقًّا)** [صحيح البخاري]

ژباړه: روژه هم نیسه او بوزه کیږه هم، د شپې لمونځ هم کوه او ویده کیږه هم، یقیناً چې د بدن لپاره په تا حق شته او یقیناً ستا د سترګې لپاره پر تا حق شته.

نو هدف دادی چې (تدریب البدن) بدن ته تربیت او روزنه ورکول، خپل جسم مضبوطول دا هم د اعداد څخه دی، مؤمن به د رب العالمین د دین د نصرت په خاطر او د جهاد او قتال په خاطر، او د دښمنانو پر وړاندې بدني تربیتونه کوي تر څو هر ډګر کې د خپل دین خدمت وکړي او د دښمنانو پر وړاندې کلکه مبارزه وکړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " (الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ) [صحيح مسلم]

ژباړه: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قوي مؤمن غوره دی او الله ته ډیر خوښ دی د کمزوري مؤمن څخه او په هر یو کې خیر شته.

امام نووي رحمه الله او نورو محدثینو فرمایلي چې دلته د قوة څخه (قوة الإيمان) مراد دی، خو بعضې محدثینو لیکلي چې: **(هي قوة الإيمان، والعلم، والطاعة، وقوة الرأي والنفس والإرادة، ويضاف إليها قوة البدن)** چې دا د ایمان، علم، طاعت، نظر او رأي، د نفس او ارادې او د بدن قوت ټولو ته شامل دی.

ځکه چې قوي بدن والا د دیني او دنیاوي وجایب ښه سرته رسولی شي.

قوي بدن چې کله وي نو د دښمنانو پر وړاندې صبر او تحمل ښه کولی شي، ځکه معمولي شکنجه او تعذیب پرې اثر نکوي اما کله چې بدني او جسمي لحاظه انسان کمزوری وي بیا صبر او تحمل نشي کولای.

نو په همدې اساس به مجاهدین خپل بدني او جسمي مظبوطه روزنه کوي، قوي تربیتونه به کوي.

بله وجه داده چې د جهاد او

دعوت لار کې خو مجاهدینو باندې هر قسم احوال راځي، ولږې او تندې پدې لار کې شته، هجرتونه او مزلونه دې لار کې شته، زخمیان او شهیدان پورته کول پدې لار کې شته، د اسبابو او وسائلو انتقال پدې لار کې شته دا چیرې د ضعیف او کمزوري بدن والا کولای شي!

نو د دې حالاتو لپاره به مخکې له مخکې مؤمن بدني تدریب او روزنه کوي، خپل بدن او وجود به قوي کوي تر څو د کفارو په مقابله کې او د رب العالمین د دین د نصرت لپاره د دې بدن څخه بیا استفاده وکړي، همدا وجه ده چې بدني تربیت اوس د عسکري تربیت جز گرځیدلای چې په معسکراتو کې مجاهدینو ته د نظامي زده کړو ترڅنگ بدني تربیت، ورزش، د بدن د مختلفو حرکات روزنه ورکول کیږي، ځکه په جهادي ژوند کې مؤمنان د مختلف نوعه دښمنانو سره مخامخ کیږي، کله به مسلح دښمن وي، کله به خالي سلاح دښمن سره مخ شي، کله به پهلوانانو سره مخامخ شي، هلته باید مجاهد پهلوان وي، لکه امام بیهقي او امام ترمذي وغیره روایت نقل کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ورځ د ابي رکانه سره مخامخ شو، قبل الهجرة ابو رکانة د مکې یو پهلوان و، چې چا به څملولای نشو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوه ورځ وایي ای محمد (صلی الله علیه وسلم) په غیږ راځې؟ هغه ورته وویل: څه به راکړې (که مې څملولې)؟ هغه ورته وویل یو گډ زما د رمې څخه، دري ځله یې غیږ ونیوله او ابورکانه یې ځمکې ته وغورځاوه بیا ابو رکانه وویل: قسم په الله ای محمد (صلی الله علیه وسلم) زما ډېره بغیر له ستا نه بل چا په ځمکه نده لگولې، رسول الله ته تسلیم شو هغه ورته گډې هم بیرته واپس ورکړې.

نو مضبوط او قوي بدن کله چې ایمان ورسره ملگری وي، عمل صالح ورسره وي دا بیا د رب العالمین لوی نعمت دی، دا مؤمن بیا هغه اعمال کوي چې د ضعیف وجود او بدن والا مؤمن یې نشي کولی.

د احزاب غزوې ته وگورئ رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو خندق کنستلو خو کله به چې لویه تیږه مخته راغله او صحابه کرام به یې له ماتولو عاجز شول، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې ورته راوغوښت او هغه به په کولنگ ووهله او ماته به یې کړه.

نو په جهادي او دعوتي مبارزه کې داسې مواضع راځي چې هلته بیا قوي بدن، مضبوط جسم ته اړتیا وي، د دښمنانو پر وړاندې خندقونه کنستل، مورچې او سنگرونه جوړول، د جهاد سره تړلې خبرې دي.

همدا وجه وه رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپله هم بدني تمرینات کول او صحابه کرام به یې هم دیته تشویقول حدیث کې راځي:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا : أَنَّهَا كَانَتْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ قَالَتْ : (فَسَابَقْتُهُ فَسَبَقْتُهُ عَلَى رِجْلَيَّ فَلَمَّا حَمَلْتُ اللَّحْمَ سَابَقْتُهُ فَسَبَقَنِي ، فَقَالَ : هَذِهِ بِتِلْكَ السَّبْقَةِ.) [مسند الإمام أحمد وسنن أبي داود]

ژباړه: د عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی، چې هغه او نبي صلی الله علیه وسلم په یو سفر کې وو هغه وایي: ما د نبي صلی الله علیه وسلم سره منډه ووهله زه ورڅخه مخکې شوم پیدل، پس کله چې زه چاقه شوم ورسره مې (بیا) منډه ووهله، پس هغه زما څخه مخکې شو نو ویې ویل: دا د هغې مخکې والي په بدل کې.

دا حدیث دلالت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به بدني اعداد کولو. ابن سعد رحمه الله په (الطبقات) کې د سمرة بن جندب او رافع بن خدیج رضي الله عنهما کیسه هم نقل کړې، چې دواړه کم عمره وو او غوښتل یې چې د احد په غزوة کې برخه واخلي رسول الله صلی الله علیه وسلم رافع بن خدیج رضی الله عنه ته اجازه ورکړه او سمره بن جندب رضی الله عنه یې واپس کولو هغه وفرمایل چې زه خو د رافع بن خدیج نه تکړه یم، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: **(”تصارعا“ فصرع سَمُرَةُ رافعًا، فأجازهُ رسول الله صَلَّى الله عليه وسلم في أُحُدٍ فشهدها مع المسلمين)** [تاريخ الطبري 2/61 والإصابة]

ژباړه: په مقابله ورشئ پس سمره رضي الله عنه رافع رضي الله عنه لره راوغورځاو، پس رسول الله صلی الله علیه وسلم اجازه ورکړه د اُحد په غزوه کې

نـو د مسلمانانو سره هغـې تـه حـاضر شـو.

ديـن اسـلام كـې د نظامـي او بـدني اعـداد ډيـرى نمونـې شـته چـې د رسـول اللـه صلـى اللـه عليـه وسـلم پـه عهـد او زمانـه كـې بـه كيدلـې لكـه

ـ الجـري عـلى الاقـدام: پـه قدمونـو منـډه وهـل:

ـ الرمايـة، وهـي رياضـة تقوي الذراعـين: نښـه ويشـتل چـې دا هـم د لاسـونو او څنګلـو د مضبـوط والي لپـاره خـه سـپورت دى.

ـ الفروسـية وركـوب الخيل: آس زغلـول او وربانـدې سـوريدل.

ـ السباحة: لامبو وهل.

ـ المصارعة: غيږنيونه.

او داسـې نـور بـدني اعداودنـه چـې صحابـه كرامـو بـه كـول. نـو بـدني قـوت برابـرول دا ښـه صفـت دى، دا د دښـمنانو پـر وړانـدې اعـداد دى پـكار داده چـې مجاهديـن دې بـاب كـې اعلـى ورزشـونه وكـړي، او هسـې ځانونـه نـازک عـادت نكـړي.

قـران كريـم كـې هـم رب العالمـين بـدني قـوت تـه ځـاى پـر ځـاى اشـاره كـړې، د طالـوت واقعـه كـې رب العالمين دې طـرف اشـاره كـوي.

قـال تعالـى: قَـالَ {إِنَّ اللَّـهَ اصْطَفَـاهُ عَلَيْكُـمْ وَزَادَهُ بَسْـطَةً فِي الْعِلْـمِ وَالْجِسْـمِ وَاللَّـهُ يُـؤْتِي مُلْكَـهُ مَـن يَشَـاءُ وَاللَّـهُ وَاسِـعٌ عَلِيمٌ} [سُـورَةُ البَقَـرَةِ: 247]

ژبـاړه: پيغمبـر ځـواب وركـړ: "اللـه پـر تاسـې هـم هغـه غـوره كـړى دى او هغـه تـه يـې روحـي او جسـمي دواړه ډولـه پـراخ اهليـت وربښـلى دى، او اللـه واكمـن دى چـا تـه يـې چـې خوښـه شي خپـل ملـک وركـوي، د اللـه سره ډېـره پراخـي ده او پـر هـر څـه عـالم دى.

شـعيب عليـه السـلام تـه هـم خپلـه لـور وايـې:

{قَالَـتْ إِحْدٰهُـمَا يٰٓأَبَـتِ اسْتَـئْـجِرْهُ إِنَّ خَـيْرَ مَـنِ اسْتَـئْـجَرْتَ الْقَـوِىُّ الْأَمِـينُ} [سُـورَةُ القَصَـص : 26]

ژبـاړه: لـه هغـو دوه ښـځو څخـه يـوې خپـل پـلار تـه وويـل: "پـلار جانـه، دغـه سـړى نوكـر ونيسـه؛ دى تـر ټولـو يـوه غـوره ښـوكر دى چـې نوكـر يـې نيسـې، ځكـه چـې قـوي او امانتـدار دى."

مفـسر ابـن عاشـور نـا اشـنا خـبره كـړې هغـه وايـې: (أن الصفـات المحتـاج إليهـا في سياسـة أمـر الأمـة ترجـع إلى أصالـة الـرأي وقـوة البدن؛ لأنه بالـرأي يهتـدي لمصالـح الأمـة، لا سـيما في وقـت المضائـق ، وعنـد تعـذر الاستشـارة أو عند خـلاف أهـل الشـورى وبالقـوة يسـتطيع الثبـات في مواقـع القتـال فيكـون بثباتـه ثبـات نفـوس الجيـش)

ژبـاړه: يقينـاً هغـه صفـات چـې د امـت پـه سياسـت كـې ورتـه ضرورت دى د هغې رجع غـوره رأيـي او د بـدن قـوت تـه ګرځـي، ځكـه پـه رأي بـه د امـت مصالـح رهـبري كـوي، خـاص طـور د سـختى پـر وخـت او پـه وخـت د نشـتوالي د مشـورې او پـه وخـت د اختلاف د شـورى والا او پـه قـوت سره كـولاى شـي، چـې د قتـال او جنـګ پـه موقـع اسـتقامت وكـړې او د اميـر پـه اسـتقامت سره د لښـكر اسـتقامت وي.

نـو دا دويـم قسـم د تدريـب شـو چـې ديتـه ويـل كيـږي التدريـب البـدني.

دريم قسم:
اعداد المالي:

مـالي او اقتصـادي اعـداد د مسـلمانانو پـه دولـت كـې او د كفـارو سره پـه جهادونـو او مبـارزو كـې ډيـر لـوړ حيثيـت لـري، بلكـې اقتصـاد تـه (عصـب الحيـاة وقوامهـا) د ژنـدې ګـې عصـب او د ژوند لپـاره سـتن او اسـاسي سـبب ويـل كيـږي، قـرآن او سـنت تاسـې وګـورئ بـار بـار انفـاق طـرف ترغيبـات وركـوي، صدقاتـو تـه ترغيبـات وركوي، دا د همـدې لپـاره چـې د مؤمنانـو دولـت مظبـوط وي، د دښـمنانو پـر وړانـدې مجاهديـن پـه اقتصـادي بخـش كـې امـده او تيـار واوسي، ځكـه د جهـاد لپـاره اسـباب او وسـائل برابـرول، اسـلحې او تجهيـزات امـده كـول، د اسـلامي فـوج او لښـكر روزل او سـاتل دا ټـول اقتصـاد تـه ضرورت لـري، نـو پـه همـدې اسـاس مجاهديـن بـه د دښـمنانو پـر وړانـدې مـالي او اقتصـادي اعـداد كـوي:

اللـه تعالـى فرمايـې: {انفِـرُوا خِفَافًـا وَثِقَـالًا وَجٰهِـدُوا بِأَمْوٰلِكُـمْ وَأَنفُسِـكُمْ فِى سَـبِيلِ اللَّـهِ ذٰلِكُـمْ خَـيْرٌ لَّكُـمْ إِن كُنتُـمْ تَعْلَمُـونَ} [سُـورَةُ التَّوبَـة: 41]

ژبـاړه: كـه سـپك ياسـت كـه درانـه (غـزا تـه) ووځـئ او د اللـه پـه لار كـې پـه خپلـو مالونـو او پـه خپلـو سرونـو سره جهـاد وكـړئ، دا ستاسـې لپـاره ډېـره ښـه ده كـه پوهيـږئ.

دې ايـات كريمـه كـې يـې مـال د نفـس څخـه هـم مخكـې ذكـر كـړى.

امـام قرطبـي رحمـه اللـه وايـې: وقـدم الأمـوال في الذكـر إذ هـي أول مـصرف وقـت التجهيـز.

ژبـاړه: مـال يـې اول ذكـر كـړ ځكـه چـې پـه وخـت د تيـارى كـې اول مـصرف د مـال وي.

بغيـر لـه دې نـه مجاهديـن نـه مجهـز كيـږي، جهـاد چـې

کوي، د دښمنانو پر وړاندې چې تیاری کوي اول باید مجاهد اسلحه د ځان لپاره برابره کړي.

که د رسول الله صلی الله علیه وسلم نبوي دولت او د هغه بناء انسان مطالعه کړي مالي او اقتصادي بخش ته رسول الله صلی الله علیه وسلم پوره توجو کوله، حتی د مدینې څخه مخکې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسې قضیې مخ ته راغلې چې باید رسول الله صلی الله علیه وسلم یو اقتصادي نظام او اداره ولري مکه کې به بعضي غلامان وو، چې ایمان به یې راوړلو نو کفارو به ورباندې ظلمونه کول، هغوی ته به یې تعذیب او شکنجه ورکوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا خوښه ګڼله چې دا غلامان د پیسو مقابل کې واخلي او ازاد یې کړي، لکه د بلال رضی الله عنه واقعه چې د مشرکانو تعذیبونو کې یې ورځې شپې تیرولې د تاریخ او سیرت کتابونو لیکلي:

قال عطاء الخراساني: "كنت عند ابن المسيب فذكر بلالا، فقال: كان شحيحا على دينه، وكان يعذب في الله، فلقي النبي -صلى الله عليه وسلم-، فقال: لو كان عندنا شيء، ابتعنا بلالا، فلقي أبو بكر العباس، فقال اشتر لي بلالا، فاشتراه العباس، وبعث به إلى أبي بكر، فأعتقه" [سير أعلام النبلاء/بلال بن رباح / ومعرفة الصحابة]

ژباړه: عطاء خراساني وايي: زه د ابن المسيب سره وم، چې بلال رضي الله عنه يې ذكر کړ نو ويې ويل: هغه ډير په دين حريص و او د الله په خاطر ډير تعذيب کړای شو، نبي صلی الله علیه وسلم ورسره مخامخ شو هغه وويل: کاش مونږ سره څه شی وای چې بلال مو اخيستی وای پس ابوبکر د عباس رضي الله عنه سره مخامخ شو نو (ورته) ويې ويل: بلال ما لپاره واخله، عباس رضي الله عنه هغه واخيستو او ابو بکر صديق رضي الله عنه ته يې وليږه پس هغه ازاد کړ.

نو دي روايت نه معلوميږي چې حتی مکه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسې قضيې مخته راغلې وي، ځکه اسلامي نظام ته بنديان، کونډې او يتيمان ورپه غاړه وي دا اقتصاد غواړي، د دښمنانو سره دښمني او جنګونه اقتصاد غواړي.

خو کله چې مدينې ته رسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت وکړ بيا يې د خپل اقتصاد لپاره بنيادونه کېښودل.

مختلف واردات به نظام ته راتلل او هر يو لپاره يې منظمه اداره او تشکيل برابر کړ چې د هغې له جملې څخه: ـــ غنائم وو، چې بدر کې کله ونيول شول رسول الله صلی الله علیه وسلم د دي غنائمو د ساتلو او تقسيم لپاره منظم تشکل جوړ کړ نبي صلّی الله علیه وسلم "عبد الله بن کعب" د غنيمتونو مسئول مقرر کړ مخکې د تقسيم څخه او په بنديانو يې "شقران" په نوم غلام مقرر کړ او په تقسم يې "محيمه بن عبد يغوث" مقرر کړ، دا درې هغه کسان وو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مالي اداره کې اول ځل لپاره مقرر کړل.

ـ د زکات د اموالو لپاره هم همداسې منظم تشکيل او اداره وه رسول الله صلی الله علیه وسلم منظم اصول او ضوابط دي باب کې بيان کړل چې د سره زرو يا سپين زر، درهم يا دينار، يا د حيواناتو او نورو زکاتونه راټول کړي.

خپل عُمال او کار کونکي يې ورته مقررول، د تقسيم لپاره يې اصول، مستحقين او په صحي طريقه حقدارو ته رسولو لپاره به يې خلک مقررول.

د جزيې مالونو مقررول، راټولول، او حفاظت يې کول او بيا د تقسمولو لپاره يې خاص اصول مقرر کړي وو،

ـ د زراعت په باب کې يې پوره توجه وکړه خلکو ته د ځمکو ابادولو اجازه ورکول، ځمکې خلکو ته مشخص کول او جدا کول، د زراعت او حيواناتو لپاره يې هم منظمه اداره، درلوده چې هغه به راټوليدل او بيرته به د مسلمانانو او د اسلامي دولت په حوائجو کې به مصرفيدل لکه مخکې زکات کې مو اشاره وکړه، همدارنګه د خبير څخه يې ځينې ځمکه خاص کړه چې د هغې څخه به کوم حاصلات راتلل په هغې به يې اسلحه اخيستله او نور د مدينې او د اسلامي نظام حوائج به يې ورڅخه پوره کول.

ـ د تجارت ترڅنګ د نويو بازارونو جوړول چې د يهودو څخه مستقل وي بيا هغې لپاره قوانين، او اصول او ضوابط، د پيمانې او احتکار او نور مسائل دا ټول پدې دلالت کوي، چې په نبوي دولت کې مالي او اقتصادي بخش ته پوره پاملرنه وه.

دغه اقتصاد څخه یو هدف او یو جز به د کفارو سره د جنګونو لپاره خاص کېده، ترڅو د کفارو مقابل کې پرې عسکري او نظامي اسباب واخلي، مجاهدین پرې مجهز کړي، د مجاهدینو قرضونه او حوائج ورڅخه حل کړي چې دا خبرې تولي رب العالمین قران کریم کې بیان کړي.

الله تعالی فرمايي: {إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ} [سُورَةُ التَّوبَة: 60]

ژباړه: دا صدقې خو په اصل کښې د فقیرانو او مسکینانو لپاره دي، او د هغو خلکو لپاره دي چې د صدقو د چارو مامورین وي، او د هغو لپاره چې زړونه یې په لاس راوړل مقصد وي. دغه راز دا د غاړو (غلامانو) د ازادولو او د پوروړو د مرستې لپاره د الله په لار کښې او په مسافر پالنه کښې د استعمالولو لپاره دي، د الله له لوري یوه فریضه ده؛ او الله په هر څه پوهېدونکی او د حکمت والا دی.

همدارنګه د خپل اقتصاد ترڅنګ به مجاهدین د دښمنانو اقتصاد ته متوجه کیږي د هغوی اقتصاد به له منځه وړي او خپل دښمن به په اقتصادي لحاظ کمزوری کوي لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د مکې د قافلې لپاره خاص عملیات وکړل ترڅو خپل اقتصاد برابر کړي او دښمن په اقتصادي لحاظ له پښو وغورځوي.

ثمامة بن أثال رضي الله عنه چې کله اسلام راوړ هغه هم دا خبره قریشو ته وکړه چې: ("وَاللَّهِ لَا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَامَةِ حَبَّةُ حِنْطَةٍ ، حَتَّى يَأْذَنَ فِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) [مسند احمد رقم الحدیث: 9621]

ژباړه: قسم په الله د یمامې څخه به یوه دانه د غنمو رانه شي تاسې ته تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پکې اجازه نه وي کړې.

دا دښمن ته یو مضبوط اقتصادي ګوزار و.

نو دا دریم قسم اعداد چې مجاهدین به اقتصادي او مالي اعداد او تیاری کوي.

څلورم قسم: اعداد الإعلامي.

اعلامي اعداد او تیاری.

د مسلمانانو په نظام کې به داسې اعلام تیار او فعال وي، چې په مجاهدینو او مسلمانانو کې د جهاد او د قتال روح ژوندی وساتي، د کفارو سره د مبارزې شوق او ذوق د مؤمنانو په زړونو کې راتازه کوي، هغوی ته د جهاد او قتال ترغیبات ورکوي، د خپل نظام او د مسلمانانو د عزتونه د دفاع او د مسلمانانو د حریت عقیده به په مؤمنانو کې ژوندۍ ساتي، خپل دعوت به د نړۍ د مسلمانانو او کفارو تر غوږونو رسوي، د اعلام او میډیا په برخه کې به د دښمنانو دسیسې، مکرونه، خلکو ته رسوا کوي.

او همدیته رسول الله صلی الله علیه وسلم جهاد ویلی، دا لساني او اعلامي جهاد دی:

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "(جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ") [رواهُ أَبُو داود بإسنادٍ صحيح]

ژباړه: د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: جهاد وکړئ د مشرکینو سره په خپلو مالونو، نفسونو او ژبو سره.

پنځم قسم: طبي اعداد:

مجاهدین باید په طبي علومو ځانونه سنبال کړي، تر څو په جهادونو کې د خپلو زخمیانو علاجونه وکړي، ملګري ورڅخه ضایع نشي او کفارو ته محتاجه نه شي، ډیر کرت داسې شوي، چې د ډیر معمولي زخم او تکلیف له وجې چې مجاهدینو به پکې تجربه نه درلوده یو لوی شخصیت به ورڅخه له منځه لاړه، نو پکار داده چې دومره طبي علوم مجاهدین زده کړي، چې کم از کم د خپلو ورونو علاجونه وکړي.

ځکه جهادونو کې د دښمنانو پر ورانديې زخمي کیدل، لاس پښه ماتیدل او داسې نورې خبرې شته، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په علاج کولو امر کړی، حدیث کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (تَدَاوَوْا، فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ دَوَاءً غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ الْهَرَمُ") [سنن أبي داود رقم الحدیث: 3359]

ژباړه: علاج وکړئ یقیناً الله تعالی یو مرض هم ندی پیدا کړی مګر شفاء یې هم ورته ایښې ده، سیوا د یو مرض څخه چې هغه بوډاوالی دی.

إمام شافعي رحمه الله به ویل : (لَا أَعْلَمُ عِلْماً بَعْدَ

الحَلاَلِ وَالحَرَامِ، أَنْبَلَ مِنَ الطِّبِّ إِلاَّ أَنَّ أَهْلَ الكِتَابِ قَدْ غَلَبُوْنَا عَلَيْهِ.

قَالَ حَرْمَلَةُ : كَانَ الشَّافِعِيُّ يَتَلَهَّفُ عَلَى مَا ضَيَّعَ المُسْلِمُوْنَ مِنَ الطِّبِّ، وَيَقُوْلُ: ضَيَّعُوا ثُلُثَ العِلْمِ، وَوَكَلُوْهُ إِلَى اليَهُوْدِ وَالنَّصَارَى.) [سير أعلام النبلاء]

ژباړه: زه نه پيژنم هيڅ علم د حلالو او حرامو څخه وروسته ډير شرف والا د علم الطب څخه مګر دا چې يهود او نصارى پر مونږ پديکې غالبه شوي.

او حرمله وايي: امام شافعي به افسوس کاوه، په هغه څه پسې چې مسلمانانو ضايع کړي د طب نه او ويل به يې د علم دريمه برخه يې ضايع کړي او يهودو او نصاراو ته يې سپارلي.

امام شافعي ډيرو نا اشنا خبرو ته اشاره کړى، ځکه دا يو حقيقت دى چې زمونږ اسلحې، دواء، او داسې نور زيات اسباب د ژوند ټول د کفارو په لاس دي، څنګه يې چې جوړوي خوښه يې ده، ځکه دا باب مونږ همغوى ته ورپريښې دي.

نو دي باب کې بايد مجاهدين غفلت ونکړي او د طب په باب کې پوره اعداد او تيارى وکړي، په ځانګړې توګه نبوي طب به زده کوي، کومک اوليه باندې به ځان پوهوي تاسې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سيرت وګورئ حتى د هغوى زنانه و به دومره طبي زده کړې کولې، چې د خپلو زخميانو علاجونه وکړي، نارينه خو خامخا د دي استعداد او قوت لري، چې ځان پدي علومو سنبال کړي، هغوى به ځان سره جهادونو کې زنانه وړلې، چې خپلو زخميانو ورونو ته طبي خدمات وراندې کړي، سعد بن معاذ رضي الله عنه چې کله د خندق په غزا کې زخمي شو په مسجد نبوي کې ورته د رسول الله صلى الله عليه وسلم په امر خيمه ووهل شوه او علاج به يې يوې مؤمنې خور کولو چې نوم يې (رُفيدة) وه.

امام بخاري په ”الأدب المفرد“(1129) او ابن سعد په ”الطبقات“ (3/427) کې روايت د محمود بن لبيد رضي الله عنه ذکر کړى چې وايي: (لَمَّا أُصِيبَ أَكْحُلُ سَعْدٍ يَوْمَ الْخَنْدَقِ فَثَقُلَ، حَوَّلُوهُ عِنْدَ امْرَأَةٍ يُقَالُ لَهَا: رُفَيْدَةُ ، وَكَانَتْ تُدَاوِي الْجَرْحَى، فَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَرَّ بِهِ يَقُولُ: كَيْفَ أَمْسَيْتَ؟، وَإِذَا أَصْبَحَ: كَيْفَ أَصْبَحْتَ؟ فَيُخْبِرُهُ ." (انتهى)

ژباړه: کله چې سعد رضي الله عنه په رګ زخمي شو د خندق پر ورځ، او سخت شو نو يوې زنانه ته يې وروسته چې هغې ته (رُفيدة) ويل کيده هغې به د زخميانو علاج کاوه، کله به چې نبي عليه السلام وربادې تيريدلو نو ورته به يې ويل: څنګه دې بيګا کړ؟ او کله به يې چې صبا کړ نو ورته به يې ويلې څنګه دې صبا کړ، هغه به خبر ورکولو.

بل حديث کې نقل دي:

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ الأَنْصَارِيَّةِ، قَالَتْ: ”(غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ، أَخْلُفُهُمْ فِي رِحَالِهِمْ، فَأَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ، وَأُدَاوِي الْجَرْحَى، وَأَقُومُ عَلَى الْمَرْضَى“) [صحيح مسلم (1812)]

ژباړه: ام عطية انصارية رضي الله عنها فرمايي: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره اوه غزوې کړې، چې زه به ترې وروسته د قافلې سره وم، ما به هغوى ته طعام تيارولو او د زخميانو تداوي او د مريضانو خدمت به مې کاوه.

همدارنګه بل روايت کې نقل دي:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: (” كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ، وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ مَعَهُ إِذَا غَزَا، فَيَسْقِينَ الْمَاءَ، وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى»). [صحيح مسلم أيضا :1810]

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په غزا کې د ځان سره ام سليم او د انصارو نورې زنانه بوتللې کله به چې غزا ته تللو نو دي زنانه و به اوبه راوړلې، او د زخميانو تداوي به يې کوله.

نو د تولو نصوصو څخه معلومه شوه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل نظام کې طب او د هغې اعداد او تيارى ته ډير اهميت ورکړى چې هر دور کې به مؤمنان هم د دي خاص لحاظ ساتي.

شپږم قسم: اداري اعداد.

مجاهدين به د خپل نظام د بقاء او د خپل دولت او د مسلمانانو د صحيح او مضبوطې رهبرى پخاطر اداري اعداد او مهارتونه او علوم زده کوي او د دښمنانو پر وراندې به يې هم نظم او اداره مضبوطه وي، څومره

چې د مؤمنانو اداره قوي او مضبوطه وه هماغومره به د دښمنانو چلونه، مکرونه، دسيسې پرې کار نکوي، او څومره چې اداره کمزوري وي د دښمنانو له طرفه به د معمولي دسيسو له وجې مؤمنان د لويو لويو ضربو سره مخامخ کيږي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم سيرت ته که انسان متوجه شي د نبوي دولت يوه منظمه او قوي اداره يې جوړه کړې وه او همدا يې سبب شو چې رب العالمين په دنيا کې د اسلام ورانګې خپرې کړي. لله الحمد د مسلمانانو لپاره پدې عصر کې د اسلامي دولت مشرانو په دې موضوع تفصيلي درسونه او کتابونه ليکلي چې نبوي دولت کې نا اشنا او قوي اداره موجوده وه، د نمونې په خاطر هلته:

ـ عسکري او نظامي اداره وه

چې وخت په وخت به يې تربيت هم کيده او بيا به په منظم شکل د کفارو پر وړاندې جنګيدل چې د بدر، احد، خندق، فتح د مکې، تبوک، حنين او داسې نور غزوات او سرايا ورباندې دلالت کوي چې د سيرت کتابونه ورڅخه ډک دي.

ـ دعوتي اداره په پراخه سطحه موجوده وه چې په داخل او خارج کې به يې خپل دعوت کاوه او ورځ تربلې يې اثرات په نړۍ خپريدل.

اقتصادي اداره موجوده وه.

چې د غنائمو، مال فيء، زکاتونو او صدقاتو او د زراعت او داسې نورو مالونو څخه تشکيليده.

تعليمي اداره وه: چې د لويانو ترڅنګ کوچنيانو او زنانه وو ته خاص اوقات مقرر شوي وو ترڅو خپل دين زده کړي.

۵: قضايي اداره (محاکم موجود وو)

تر څو د قرآن او سنت د قوانينو په بنياد د مسلمانانو ترمنځ شخړې او لانجې حل و فصل کړي.

ـ هلته د بيت المال اداره وه چې مالونه پکې ساتل کيدل او ساتونکي به يې درلودل.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم زندګۍ د مکې څخه واخله تر مدينې دغه سيرت که انسان مطالعه کړي دغه ټول ادارات او د هغوی فعاليتونه به ورته مخته راشي لکه سِري او پټه دعوت، په دار الأرقم کې د خپلو ملګرو سره مجلسونه کول او د هغوی تربيه او روزنه کول، بيا جهري دعوت کول، قبائلو ته د دعوت غځول، د عباداتو په بخش کې د امامت څخه واخله تر مؤذنين او خادمان د مسجد مقررول، د هغې د بناء او ابادۍ چارې برابرول، د حج د فريضې لپاره امير انتخابول منظم ترتيب برابرول، سفيران مقررول، نقباء د قبيلو لپاره انتخابول، ترڅو قبائل د اسلامي دولت سره وتړي، دې هر بخش کې ورونو مرکزي او بنيادي خبرې پرتې وي او د اينده لپاره د دې هر طرف نه مثبتې نتيجې راپورته کيدلې!

بيا د هرې منطقې لپاره واليان مقررول، دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم په اداري نظم دلالت کوي، دارنګه د تعليم او تعلم بخش کې کاتبان مقررول، په تعليم او تعلم تحريضات ورکول، د مختلفو علاقو لپاره معلمين او قراء ليږل، ترڅو اسلامي تعليمات عام شي او خلک تعليم وکړي، د قضا او محاکمو اداره، د حدوداتو او احکامو تنفيذ په خاصو اصولو او ضوابطو او د مختلفو ولاياتو لپاره قاضيان ټاکل، عسکري نظام برابرول، او داسې نور امور دلالت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د اسلام د دعوت او د کفر او شرک د ړنګولو لپاره مظبوطه اداره درلوده نو په همدې اساس به مجاهدين هم د خپل نظام د حاکميت او د کفارو د نظامونو د نسکورولو لپاره دا قسم تربيتونه او اعداد کوي.

نو حاصل دا شو چې اعداد د رب العالمين د نصرت او د تمکين د ظاهري او مادي اسبابو څخه يو مهم سبب دی، چې بيا د اعداد په بعضې قسمونو خبره وشوه چې عسکري اعداد، بدني اعداد، مالي او اقتصادي اعداد به مجاهدين کوي، او د دې ترڅنګ به اعلامي، او طبي اعداد او تيارى مجاهدين کوي ترڅو د خپل دين نصرت وکړي او د کفارو سره هر بخش کې مبارزه او جهاد وکړي.

تر دې ځايه د نصرت او تمکين معنوي او ظاهري اسباب وو چې تر خپل استعداد او توان مطابق مو ذکر کړل، راتلونکو صفحو کې به د رب په توفيق سره د هزيمت او شکست اسباب بيانوو ترڅو مؤمنان او مجاهدين د هغه څخه اجتناب وکړي، ان شاء الله.

وصلَّى الله وسلَّم على نبيِّنا محمَّد، وعلى آلِه وصَحْبِه أجمَعِين.

***

لنډه کیسه

د هر ډګر او هر سنګر غازي

احمد استاد

د خراسان په ځمکه د الله عزوجل د شریعت د تطبیق او دفاع لپاره له هر طرفه مؤحدینو رامنډې وهلې، د تمکین لومړۍ شپې او ورځې وې مجاهدین خوشحاله خوشحاله ګرځېدل له هرې خوا څخه به د تکبیر او حمد اوازونه اورېدل کېدل، خوشحاله خوشحالي وه، هوا هم ډېره معتدله وه مرکز ته ننوتلم چې ګورم په توشک یو کس ناست دی، د ښکلي سوچه ږیرې په درلودو یې نوراني څهره زیاته ښایسته ښکارېده، سلام مې وکړ او روغبړ مې ورسره وکړ، د یو ملګري څخه مې وپوښتل چې دا څوک دی؟

ملګري مې وویل دا خو احمد استاد دی.

احمد استاد د طب پوهنځي درسونه په نیمایي کې پرېښي وو او ټوله زندګي یې د اسلامي شریعت په خدمت کې وقف کړې وه، احمد استاد تقوا دار، شجاع، او د ښو اخلاقو خاوند و. هر ځای به چې د اسلامي نظام خدمت و، دې ته یې ندي کتلي چې دا خو زما اداره نده او یا زما مسؤلیت ندی بلکې ښه په پوره خوشحالۍ به یې هغه خدمت ته اوږه ورکوله، چېرته به هم چې د مجاهدینو له خوا په مرتدینو تعرض او یا دفاعي جنګ وو احمد استاد به پکې د انغماسي په شکل برخه اخیسته.

دا چې د خراسان په ولایت کې مجاهدینو د الله عزوجل په مرسته شریعت عملي کړی و، حدود یې جاري کړي وو ،نو کفارو دا نشوه برداشت کولی چې په یو ځای کې دې د رب شریعت او قانون عملي کېږي نو کفار وار خطا ښکارېده کفارو چې د کوم څه د مخنیوي کوشش کاوه د هغې برعکس کار ورسره وشو کفارو دا کوشش کاوه چې په هغه مجاهدینو کې اختلافات رامنځته کړي او تس نس یې کړي کوم مجاهدین چې د قران او سنت د منهج درلودونکي او د عالمي جهاد غوښتونکي دي، خو الله عزوجل د کفارو مکرونه شنډ کړل او مجاهدین یې سره یو ځای کړل تر دې چې د اسلامي خلافت احسان یې ورباندې وکړ.

کفار په یو ځای کې هم په ارام نه کیناستل، په شام، عراق او نورو ولایتونو کې به یې خپل وحشتونه کول او په هر ولایت کې به رب داسې ذلیله کړل چې مرداري او غنایم به ورڅخه په میدان پاتې وو، د خراسان په تمکین هم کفارو ډېر یرغلونه وکړل لیکن د رب العالمین په خاص مدد سره به د مجاهدینو د ګذارونو څخه داسې په منډه شول چې شاته به یې نه کتل.

کله به کفار خپله او کله هم د مرتدینو سره یو ځای په خلافت برید کاوه چې د هر ډول الوتکو ملاتړ به ورسره ملګری و، کله به چې ورباندې د خلافت مجاهدینو

د ورو زمريو په شان حمله وکړه نو نه به ورته الوتکو ګټه کوله او نه هم ټانک، توپ او نورو وسايلو.

دا چې کفارو او ای ایس ای ډير ارزانه کرايي مليشې پيدا کړې وي، نو هغوی به هم د وخت څخه په استفادې د ای ایس ای په امر د خراسان په تمکين بريد کاوه، خو لله الحمد د اسلامي خلافت باننګه شازلمو به وربانديې داسې وارونه وکړل چې د الله په فضل سره به يې څه ژوندي ونيول او د مردارو به يې شمار نه و او رب به ذليله او شرمنده واپس کړل

د خراسان په کوچني دار الاسلام بانديې کفارو او مرتدينو خپل ټول زور وازمايه تر دې چې د بمونو مور په نوم تر ټولو ستر بم يې هم د خلافت په يوه ساحه وغورځاوه.

يو ځل د کفارو په شمول ټولو مرتدينو اردو، کمانډويانو، زربتيانو، اربکيانو او نورو غلامانو چې د هر ډول الوتکو ملاتړ ورسره و، د خراسان په يوه کوچنۍ ساحه بريد کړی و، د اسلامي دولت ننګياليو شازلمو ورته خپل سنګرونه مضبوط کړل او دښمن پدې ونه توانېده چې مخکې ولاړ شي، زمونږ امير پدغه وخت کې د معسکر يو استاد و، مرتدين خبر نه وو، چې دلته د ګوتو په شمار يو څو مجاهدينو ورته سنګرونه نيولي دي، پياده را روان وو، استاد مجاهدين په مختلفو ځايونو کې ځای پر ځای کړل او ورته يې وويل تر څو چې دښمن ښه رانږدې شوی نه وي نو ډز به وربانديې نه کوئ، مونږ په يوه غټه ختينه کلا کې وو او د کلا په يوه طرف کې يوه ونه وه او نور کوم بوټی وغيره يې نه درلودل، زه يې د سليم تقبله الله سره په يو ځای کې کينولم چې سليم تقبله الله د لاس يوه ګوته هم زخمي وه، کمانډويان او ځانګړي ځواکونه پيدل را روان وو ،مجاهدينو وربانديې داسې تعرض وکړ چې په سرکونډو يې ځانونه خلاص کړل، دا چې امير صاحب پخپله د کوټې په دوهم چت کې د دوه ملګرو سره دښمن د بريد لاندې نيولی و او دغه ځای د لرې څخه معلومېده نو مرتدينو ته ځای په ډاګه شو او امير صاحب بانديې يې د زګويګ، اګاهيز، او راکټ فايرونه وکړل او چار ماشيني هم وربانديې بمبار وکړ د کوټې چت سوری شو او دغه کلا ګردو پټه کړه، مونږ د امير صاحب په طرف ورمنډه کړه، خو لله الحمد امير صاحب ويښتان په ګردونو پټ د چت څخه سره د ملګرو روغ رمټ راښکته شو، امير صاحب امر وکړ چې ځای مرتدينو ته په ډاګه شو نو داسې کوو چې زه د دې کلا څخه مجاهدين په ترتيب وباسم، دا چې بې پيلوټه الوتکې، چارماشينه او هليکوپټرې ډيرې په کم پرواز ګرځېدلې او مجاهدينو نشو کولی چې حرکت وکړي نو يو مجاهد په احمد استاد بانديې په مخابره کې غږ وکړ او ورته يې وويل چې دا د دهشکه چېرته ده زه ورځم چې پدې هليکوپترو ډزې وکړم، ښځي مو حرکت ته نه پرېږدي، احمد استاد ورته د صبر او استقامت خبرې وکړې او ورته يې وويل چې د رب مدد رانږدې دی ان شآءالله، د دې څخه څو ورځې مخکې کفارو څو سنګرونه په کروز ميزايلو ويشتلي وو، امير صاحب دوه دوه مجاهدين په خاص تکتيک سره وويستل او څه مجاهدين دښمن سره په جنګ بوخت وو، دې کلا سره څنګ کې يو وړوکی جمات موجود وو چې جمات په څو لرو ونو کې پټ وو، زه د يو بل مجاهد سره د دغه ونو په لور روان وم چې په ونو چارماشينه سرې لمبې جوړې کړې او د ونو څانګې په ځمکه ولوېدلې، مونږ دواړه ودرېدو او ما فکر وکړ چې هر څوک پدې ځای کې وو نو هغوی يې شهيدان کړل، څو دقيقې وروسته د رب په مدد دوه مجاهدين روغ جوړ د دغه ځای څخه را ووتل، مونږ ورته ويل نور څوک خو به نه وي هغوی په خندا راغبرګه کړه نه بل څوک راسره نه وو، احمد استاد زمونږ امير صاحب سره

په رابطه کې وو مونږ ته امیر صاحب وویل تاسو دلته انتظار شئ زه د طیب مولوي صاحب خوا ته ورځم

زه او یو بل مجاهد د دغه کلا په یو اړخ کې ولاړ وو چې چارماشیني په مونږ فایرونه وکړل او خوا وشا یې راته وویشتله، دا چې دغه مجاهد په غوږونو لږ دروند وو پدې پوه نشو او هماغه شان ولاړ دی او راته یې وویل چې دا ځایونه څنګه لوګي کوي؟

ما ورته وویل چې کوټې ته ننوځه چارماشیني بمبار وکړ او الله بچ کړو د کلا د غټې دروازې سره جوخټې دوه زړې کوټې وې یوې ته زه ور ننوتم او بلې ته هغه بل مجاهد ور ننوت، ما غلی سر د کوټې د دروازې څخه را وویسته چې چارماشیني راباندې د دورازې چوکاټ وویشته، زه بېرته کوټې ته دننه شوم او په کوټه کې کیناستم چې د کوټې په چت درزا شوه او په کوټه کې ګردونه جوړ شول، پدې کې امیر صاحب غږ راوکړ ویل را ووځئ پدې ګردونو کې د امیر صاحب سره د طیب مولوي صاحب تقبله الله خوا ته ورغلو.

هغه سره هم د ګوتو په شمار څو مجاهدین دي او هغوی یې د دفاع لپاره کېنولي دي، دا چې نور سنګرونه بمبار شوي وو او همدا یو سنګر وو نو طیب مولوي صاحب تقبله الله د دې ځای څخه مجاهدین د سعد امارتي تقبله الله په نامه مرکز ته انتقال کړل.

دوه مجاهدین یې د دفاع پخاطر د دښمن مخې ته کېنول او نور مجاهدین یې د حرکت کولو څخه منع کړل ځکه چې هلیکوپټر بېخي په ټیټ پرواز ګرځېدلې، پدې کې یو مجاهد ډېر سخت مریض او بې هوشه شو اوبه نه وی چې ورباندې مو اچولی وی ،خو رب مدد وکړ هغه هم لږ وخت وروسته الله تعالی جوړکړ، ماسخوتن تیاره شوه او هلیکوپټري هم جدا شوې مجاهدین د دغه ځای څخه ووتل او روان شول چې په لاره کې یو شهید یو ځای او بل بل ځای په هوار میدان پراته دي دا الوتکو ویشتلي وو، طیب مولوي صاحب تقبله الله مجاهدینو ته وویل چې دا شهداء دغلته مسجد ته وړو، بیا به یې سهار کې دفن کړو ان شآءالله، یو شهید عبدالله تقبله الله پورته کړ او بل نورو ملګرو او ما ته یې د دواړو اسلحې او سامان راکړل او جومات ته مو یوړل، دا چې دغه جومات هم ښکاره وو او تیاره هم وه نو کفارو مونږ ولیدلو او په مونږ یې د زګویګ ډزې وکړې خو رب العالمین ټول مجاهدین وساتل الحمدلله، د دغه ځای څخه روان شولو او مونږ د خپل امیر سره د مسلم مولوي صاحب تقبله الله مرکز ته ننوتلو، په دغه ځای کې شور نشته هېڅوک نه معلومېږي او تقریباً د شپې یوه بجه ده، احمد استاد تقبله الله سره زمونږ امیر صاحب رابطه وکړه هغه ورڅخه وپوښتل چې چېرته یې، نو امیر صاحب ورته په شفر کې وویل چې د مسلم مولوي صاحب په مرکز کې یو هغه ورته وویل الله بنده فلاني ځای ته لاړ شئ دغه ځای هم د دښمن لاس کې دی، مونږ ته چې کوم ځای وښودل شو مونږ هلته لاړو.

احمد استاد تقبله الله د دښمن په منځ کې تقریباً څو ورځې تېرې کړې تر دې چې شیخ صاحب عبدالحسیب تقبله الله ورته امر وکړ چې راشه بیا د دغه ساحې څخه لاړه.

مرتدینو کفارو یواځې پدغه ساحه نه بلکې د خلافت په مختلفو ساحو یې بریدونه کړي وو ،دغه ساحه کې ورته مجاهدینو د چریکي بریدونو څخه کار واخیسته دښمن څخه یې د الله په نصرت سره وار خطا کړ او د دښمن لښکر سره د ټانکونو او توپونو ذلیله او شرمنده وتښتېده، خو هغه ساحه کې دښمن موجود و، د کومې ساحې په جوماتو کې چې شهیدان وو احمد استاد تقبله الله د شهیدانو څخه خبر شوی و او راغلی او د یو څو مجاهدینو سره په منډه منډه یې هلته ځان

ورساوه، هلته چې ورسېد مونږ يې دښمن ته کمين کې کېنولو او هغه شهيدان را واخيستل او دفن يې کړل، دا چې شهيدان د څو ورځو په تېرېدو هماغه شان ترو تازه وو نو کفارو او مرتدينو يې په مخونو لدې املـه تېزاب اچولي وو چې خلک يې وويني او همداسې تازه وي نو خلک به حق قبول کړي او د دوی ارتداد او کفر به ورته نور هم واضحه شي، چې شهيدان دفن شول نو بېرته واپس خپلو ساحو ته لاړو، بيا الله عزوجل مرتدين نور هم ذليله کړل او د دغه ساحې څخه وتښتېدل.

څه موده وروسته مونږ دغه ساحې ته ورغلو چې ومو کتل نو کفارو او مرتدينو دومره وحشت کړی وو چې د عوامو مسلمانانو دروازې په بمونو الوځولې وې او موټرونه يې ورته سوځولي وو، هلته د عوامو يو غټ بازار و، ټول بازار يې لوټ کړی و او يو نيم دوکان يې هم سوځولی و، د عوامو کورونه يې په کروز ميزايلو ويجاړ کړي وو، دغه ساحه يې ډېره بد رنګه کړې وه.

احمد استاد ته به چې مشرانو کوم خدمت وراندې کړ احمد استاد خبره به "سمعنا واطعنا" وه دا په ونه دنګ چست او چالاکه د طب محصل د تمکين په لوړو ژورو داسې خاته او کوزيده تا به فکر کاوه چې له کوچينوالي يې همدا تربيتونه کړي ، د احمد استاد په اړه دا مشهوره وه چې دومره مزله کې چابک دی چې هيڅوک ورپسې نه شي رسيدلی ، يو سحار وختي د سحار له لمانځه وروسته د مامند په لنډۍ کلي کې په جمات کې مخ شو ، په ډېره منډه و، ورته مې د چايو ست وکړ ، خو ويل يې ډېر عاجل کار راترغاړې دی، دې اوغز پورې په منډه ځم ، ورته مې کړه : پام کوه لاس دې پرې ونه لګيږي .

خوږه خندا يې وکړه او روان شو ، مابشام مې چې کتلو بيرته د لنډۍ کلي په جمات کې په لمانځه کې حاضر و، له لمانځه پس مې ورته وويل لکه چې لاړ نه شوې ، ويې ويل : ولې نه ، تللې وم بيرته راغلم .

ورته مې کړه : الله بنده موړ خو چې د اوغز پورې مزل وکړو نو بيا مو درې ورځې پښې او نور ځان درد کوي ته خو ماشاء الله سم چابکه يې .

رښتيا هم احمد استاد ستړيا نه پيژنده ، په کوم طرف به چې ډېر سخت کار و، او نورو ملګرو به ورته رسيدګي نه شوه کولی نو مشرانو به په همغه طرف احمد استاد استاوه ، احمد ته الله عزوجل ځانګړې استعدادونه ورکړي وو، له مخې يې رڼا وه ، د معسکر له استادۍ رانيولې د جګړې تر رهبرۍ او نورو ګڼو کارونو کې يې خپله ورتيا ثابته کړې وه ، د احمد پراخه تنده به تل غوړيدلې وه او که به په هرڅومره سختو حالاتو او مشکلاتو کې ورسره مخ شوې نو دده د خوږې او خندانه څېرې په ليدو به دې د حالاتو تراخه هير شول ، هر چا به فکر کاوه احمد يې له ټولو نيږدې ملګری دی ، په يو ځل ناسته کې به يې د هرچا زړه ځان سره داسې وتاړه چې بيا به يې دده مجلس پسې تنده محسوسوله احمد د سختو خونړيو جګړو کمينونو ، بريدونو او بمبارونو څخه کله روغ او کله په زخمي حالاتو کې په کراتو وتلی و، مرتدينو او د دوی بادارانو صليبي مشرکينو هم احمد په تمامه مانا پيژندلی و، ځکه چې په دې ټولو يې په هر ډګر کې داسې تراخه ورڅکلي وو، چې د ټولو حلق به تر ډېره تريخ و، ټول لکه د ليونيو سپو ورپسې وو، او د ټولو ستر هدف د احمد استاد له منځه وړل وو، خو کله يې چې نيټه پوره شوه نو له مامند څخه د هسکې مېنې په طرف روان و، نور ملګري هم ورسره وو، چې په يو لوخ او سپيره خوړ کې صليبي طيارو راګير کړل او د سخت بمبار په پايله کې يې اخر هم خپله ځواني د رب د دين او کلمې د لوړولو لپاره قرباني کړه، انا لله وانا اليه راجعون.

***

په زرګرانو جست د زرو په نامه تیروي.
په چالاکۍ د بوسو لاندې به اوبه تیروي.

***

اچوي خاورې ورته سترګو کې په مکر او چل
خپلو عیبونو نه یې چپ لکه ړانده تیروي

***

دا د دوحې قراردادي نظام اسلام ګڼي اوس
د شاتو لوښو کې په موړ زهر تراخه تیروي.

***

خپل کشرخیل لکه د ګډو او بیزو څروي.
تړې رمه د سیند په غاړه کې شپانه تیروي.

***

غواړي چې ودریږي په یو اخور د کفر سره
د دې لپاره ټول شرعي نصوص رانه تیروي

***

ایمان پلورونکو قصابانو متې بډ وهلې.
نن د امت په مرۍ بیا تیره چاړه تیروي.

مؤسسة العزائم
يې وړاندې کوي